# د میرزا خان انصاري

## فلسفي او عرفاني نړی لید

## د محمد اکبر کرګر څیړنه

۱۳۹۴ل

هغه کتابونه چې سمسور وو بپاڼې پر لیکه کړې او یا یې پر لیکه کوي، نور څوک یې

پر لیکه کول اجازه نه لري

بسم الله الرحمن الرحیم

# د میرزا خان انصاري فلسفي او عرفاني نړۍ لید


د محمد اکبر کرګر څېړنه

چاپ وار: لومړی

ډیزاین: سپین سهار

چاپکال: ۱۳۹۴ل/ ۲۰۱۵ز

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپځی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# لړلیک

یو څو خبري .......... 5
یو ښه اثر او څو عادي ټکي .......... 10
د لیکوال خبرې.......... 13
په پښتون فرهنگ کې د میرزا خان انصاري .......... 17
فلسفي او عرفاني دریځ .......... 17
میرزا خان انصاري څوک و؟.......... 17
ب: میرزا د روښاني غورځنگ متفکر او ایډیو لوگ شاعر .......... 23
د میرزا په شعر کې فکري استقامتونه .......... 37
دویم څپرکی .......... 46
د میرزا خان انصاري په فکري .......... 46
نړۍ کې د سفر په موخه .......... 46
عرفان، تصوف او اسلام .......... 46
زهد او ریاضت.......... 50
ریاضت: .......... 51
توحید:.......... 51
فنا ، فقر پالنه او توکل:.......... 52
ب: په اسلامي نړۍ کې د تصوف او عرفان فلسفي بنیاد .......... 54
د اسلامي عرفان او تصوف پیلامه: .......... 59
شیخ محی الدین ابن عربي.......... 66
مشهور په شیخ اکبر .......... 66
دریيم څپرکی: .......... 77
روښاني فکري او عقیدوي لاره .......... 77
او د میرزا خان پنځونه .......... 77
روښاني فکري او عقیدوي لاره: .......... 77
۲.ربنتیني لاره: .......... 84
تصوفي تعلیمات:.......... 85
مقامات:.......... 87

د شریعت دی بیان: ........ 88
د طریقت بیان ........ 89
د حقیقت دې بیان: ........ 89
د معرفت دی بیان: ........ 90
څلورم څپرکی: ........ 94
میرزا خان په دیوان کې د الفنامې فلسفي ارزښتونو ته یوه کتنه ........ 94
الف: د مدخل په توګه ........ 94
ب: په اسلامي فرهنګ کې د حروفو او شمېرنو ارزښت: ........ 98
ج: د میرزا خان الف نامه او د هغې تصوفي او فلسفي مفاهیم ........ 108
پنځم څپرکی: ........ 131
د میرزا خان انصاري د فلسفي او عرفاني تفکر بنسټیز مسایل ........ 131
لومړی: میرزا او انسان ........ 131
دویم: اشراقیت او معرفت ........ 147
دریم: عرفاني عشق ........ 161
څلورم: نفساني غوښتنې او غرایز ........ 170
پنځم: پیر او مرشد ........ 185
شپږم: وحدت او کثرت ........ 199
اووم: نفي او اثبات ........ 213
شپږم څپرکی: ........ 233
په پښتني تصوفي عرفاني جریان ........ 233
کې د ټولنیز هویت مساله ........ 233
میرزا او دزیږیدنې د ټاټوبي پښتونخوا یاد ........ 245
فقیر ای پي میرزا علیخان: ........ 252
ماخذونه: ........ 259

# یو څو خبري

په لسمه هجري پېړۍ کي پښتونخوا د روښانیانو په نامه دیوه پراخ او دوامداره خوځښت شاهده وه. دغه خوځښت په ملي، سیاسي او مذهبي استقامتو کي فعالیت درلود او د سر سړی ئې یو نابغه پښتون بایزید روښان اورمړ (۱۵۲۴ - ۱۵۷۲ع) وو. دبایزید روښان کورنۍ په پښتنو کي کومه ورکه او ناپېژندلي کورنۍ نه وه. پلارئې عبدالله دقضا دنده درلوده او نیکه ئې شیخ محمد دخپل وخت سوداگر وو. روښاني خوځښت له بایزیده و زامنو ته او له زامنوئې و لمسیو ته وغځېد او زیات و کم او یا کاله ئې دخپلو ملي، سیاسي او مذهبي عقایدو په دفاع کي سرونه کښېښوول ،حماسې ئې جوړي کړې او پرپښتنوئې سیاسي او مذهبي اغېزه وساتله.

روښاني خوځښت په ټوله معنا یو منسجم حرکت وو. ځانته ئې منظمه او مرتبه کړنلاره درلوده، ځانته ئې منظم تشکیلات درلودل او ځانته ئې منظمه رهبري درلوده. په کړنلاره کي ئې عقیدوي، ټولنیز او سیاسي اصلاحات شامل ول. دې خوځښت ژبه او ادب هم له پامه نه وو ایستلی او د پښتو ادبیاتو منظم، معلوم او له خرخښې وتلی پیل هم د همدې خوځښت د لارویانو را پاته سوی ادبي میراث دئ. د دې خوځښت لارویانو که سیاست کاوه، که ئې ادبي هڅې کولې، که ئې توره چلوله، که قلم - ټول ئې دیوه ټاکلي سیاسي - مذهبي تفکر او عقیدوي

کړنلاري له مخي سرته رسول.زموږځيني محققين دروښاني خوځښت پرسياسي توب باندي ناګاره دي او يوازي ئې مذهبي خوځښت بولي، خوزه فکر کوم چي دروښاني تاريخچې حالنامې دغه لاندي روايت به ددغه خوځښت دسياسي توب له پاره نه ردېدونکی دليل وي:

" چهارپشت خاندان پيردستگيرقدس سره درقبايل افغانان حاکمی کرد و هفتادسال کم وبيش بامردم پادشاهی عداوت وحرب داشت وگاه غالب وگاهی مغلوب بوده اند.... " (وګ : حالنامه-۵۴۷ مخ-۱۳۸۸هـ ش چاپ، کابل)

ددې خوځښت له برکته موږته په پښتوژبه ځومدوّن دېوانونه اوپه پارسي اوعربي ژبوځوکتابونه په ميراث رسېدلي دي. ارزاني خېشکی، دولت لوانی، واصل ، علي محمدمخلص او ميرزاخان انصاري،راته بشپړمدوّن دېوانونه پرې ايښي دي، علي محمدمخلص کندهاري راته ددغه خوځښت رسمي تاريخچه هم ليکلې ده اوپخپله له بايزيدڅخه راته په ځلوروژبو خيرالبيان،په عربي ژبه مقصودالمؤمنين اوپه پارسي ژبه صراط التوحيد پاته دي.

دخيرالبيان اودروښانيانو دنورو ليکلوآثارو ترکشف اونشردمخه د دغه خوځښت په باب ليکني اوڅېړني دهغو محدودومعلوماتوله مخي کېدلې چي زياتره ئې دخوځښت مخالفينو ليکلي ول.کله چي دروښان خپل آثار اودهغه دپيروانو دېوانونه دتحقيق ډګرته راووتل، نوزموږ څېړونکوپرتېرولوهغوڅېړنوباندي له سره کتنه وکړه چي پخوا

ددغو آثارو دنه شتون پروخت خپرې سوي وې.ځرنګه چي دروښاني خوځښت دلارښوداوددغه دپیروانو له خوالیکل سوي آثاراودېوانونه ددغه خوځښت دعرفاني اوتصوفي اړخ په روڼاکي لیکل سوي اوویل سوي ول، دهغو دلازیاتي پوهېدني له پاره ځینوعالمانو اوددغه مسلک لارویانوددغو دېوانو او آثارو د تشریح اوتوضیح اړتیا احساس کړه او توضیحي حاشیې اومستقلي لیکني ئې پرولیکلې. دغه توضیحي کار دحالنامې لیکوال علي محمدمخلص کندهاري راونښلاوه. خوحالنامه ترلیکني ښه ډېره زمانه وروسته په بشپړه توګه دتحقیق ډګرته راووتله اوکمپیوټري چاپي متن خوئې پنځه کاله دمخه له کابله خپورسو. البته تردغه چاپ پنځه ویشت کاله پخوائې ګستتنري چاپ هم په محدود تېراژ دافغانستان دعلوموااکاډیمۍ له خوانشرسوی وو. دحالنامې ترنشر پنځه نوي کاله دمخه دکندهار یوه عالم ملاعبدالغفارهوتک د میرزاخان انصاري دېوان پرځینو حل غوښتونکو مطالبو باندي حاشیې کښلي وې ( وګ : دېوان میرزاهدافغاني محشي ، چاپ۱۳۳۴هـ ق ).

لوستونکوته معلومه ده چي په اولنیوپوهانوکي پرعلمي، تصوفي اوفلسفي آثارو دحاشیو لیکلو دود اوږده سابقه لري. ځیني حاشیې خو لا دمستقلورسالو او کتابوپه بڼه لیکل سوي دي. په پښتواوپارسي ژبوکي ددغه رازحاشیومثالونه خورازیات دي. دروښاني خوځښت دستر مخالف اخونددرویزه ننګرهاري ( ۱۵۳۳ـ ۱۶۳۸ع) پرمخزن الاسلام باندي شرحه دعبدالله خېشکي په قلم لیکل سوې ده اوښې پرېمانه خطي نسخې ئې موندل

کېږي.دپارسي ژبي د نامتوشاعر نورالدين عبدالرحمان جامي ( ۱۴۱۴ـ ۱۴۹۲ع) شاگرد عبدالغفورلاري (۱۵۰۲ع وفات) دخپل استاد پر " نفحات الانس " نومي کتاب مبسوطه حاشيه کښلې ده. پخپله جامي عليه الرحمه دشيخ محی الدين ابن عربي (۱۱۲۴ ـ ۱۲۴۰ع) د شاگردشيخ صدرالدين قونوي ( ۱۲۱۰ـ ۱۲۷۴ع) پر " الفصوص " باندي د " نقدالفصوص " په نامه کتاب کښلی دئ. دغه راز حاشيې دسختو او مغلقو متونوپه تشريح کي خوراگټوري تمامي سوي دي اوله همدې اسيته دئ چي حميدمومندوايي:

ځکه زه کوم اسره د يارو خط ته
اسانيږي مشکل متن په حاشيو

دحاشيوليکلو لرغونی دود نن ورځ دنووپوهنو په رڼاکي لاپرمخ تللی او متکامل سوی دئ.داحاضرکتاب چي دښاغلي اکبرکرگرپه قلم ليکل سوی دئ، دروښاني افکارواوعقايدو دڅېړني اوسپړني په لارکي د نوو څېړنو او نوو استنتاجو د لړۍ يوه نوې کړۍ ده. ښاغلي کرگر تردغه کتاب دمخه هم د روښانيانو پرعرفاني او فلسفي افکارو يوڅېړنيزاثر ليکلی اودوهم چاپ ئې د افغانستان دکلتوري ودې ټولني له خوا په ۲۰۰۲ع کال خپورسوی دئ چي (په حالنامه کي دبايزيدروښان عرفاني اوفلسفي څېره) نومېږي .ددې کتاب يوه ځانگړتيادا ده چي د ميرزا خان انصاري په باب ئې يوازي تذکره وشمه څېړنه نه ده کړې، بلکي زيارئې ايستلی دئ چي دميرزاخان فلسفي افکار

دده له خپلي خولې وخبري اودنوو منابعوپه روښاکي ئې دعرفان اوتصوف له اوږده تاريخ سره ونښلوي.ددې اثرخبرنيزه برخه له هغوبرداشتوڅخه تريوې اندازې اغېزمنه ده چي لويديځو محققينو دعرفان او تصوف په باب اخيستي دي. .ددغه حاضرکتاب پرمسوده باندي مايو مرور کړی دئ اوپه ځينو برخوکي مې ښاغلي کرگرته لازمي يادوني کړي دي او زماپه فکر ښاغلي کرگردپښتوعرفاني آثارودسپړني اوخپړني نوې لاره دنوو منابعوپه روښا کي راخيستې ده اوپه دې ډول ئې گويا يو نوی باب پرانيستی دئ اودنوروخپړنوله پاره ئې لارخلاصه کړې ده چي همدا ئې دکتاب په ارزښتونوکي شمېرل کېږي زمايقين دئ چي دا کتاب به دميرزاخان انصاري دفلسفي اوتصوفي عقايدوپه توضيح کي ډېره مرسته وکړي اونورخپړونکي به هم وهڅوي چي دروښان او روښانيانو پرآثارو نوره هم روښنايي واچوي.

زه ښاغلي کرگرته ددغه مغزن کتاب دليکلوله اسيته مبارکي وايم او هيله من يم چي گوتي ئې دنورودغه شان آثاروپه ليکلوکي ستړيا احساس نه کړي.

محمدمعصوم هوتک

آشاوا ـ انټاريو ـ کاناډا

۲۵ / جنوري / ۲۰۱۵ع

# یو ښه اثر او څو عادي ټکي

زما په پوهه ښاغلی محمد اکبر کرګر د فکر او نظر خاوند فرهنګي شخصیت دی، دده خپل لیکلي هنري آثار دي او که یې د ادبیاتو په باب تحقیقات، ټول فکري تومنه لري. له با یزید روښان (۹۸۳ - ۹۲۲ هـ ق) او روښاني آثارو سره دده علاقمندي هم له همدې طرز فکره ناشی ښکاري.

شاوخوا پنځه ویشت کاله دمخه ښاغلی کرګر د روښانی نهضت د سرلاری با یزید روښان د فکری او عرفاني مسیر د څېړنې په منظور (په حالنامه کې د با یزید روښان عرفاني او فلسفي څېړه) په نامه کتاب وکیښ (لومړی چاپ ۱۳۶۸ هـ ش). په دې اثر کې ښاغلی مؤلف قضایا له یوه نوي دیده کتلي دي.

د روښاني آثارو د مطالعې په سلسله کې دا ځل ده د موحد شاعر، د روښان د عرفاني مفکورو د شارح او د ځینو روښاني شاعرانو د استاد مرزاخان روښاني (۱۰۴۰ هـ ق مړ) مطالعه کړې ده.

دلته ددې خبرې یادونه ضروري ده چې مرزا خان انصاري یو له هغو روښاني شاعرانو څخه دی چې د ژوند پېښو د ځینو اړخونو، سیرت او صورت، پوهې او شاعری خبرو یې پر ژوند کتابونو ته لاره پیدا کړې ده؛ کله چې غربیانو د پښتو ژبې او ادب څېړنه پیل کړه، ان د نولسمې پېړۍ په اوایلو کې د مرزا نوم د هغوی کتابونو ته هم لار پیدا کړه.

په یوولسمه هجري پېړۍ کې روښاني شاعرانو او د تاریخي افغانستان نورو پښتنو شاعرانو ته د مرزا شعرونه رسیدلي وو

او دده پر شاعرۍ او شعري صلاحیتونو یې قضاوتونه کړي وو. له روښانیانو نیولی تر خوشحاله، دده ځینو زامنو او ان تر دیارلسمې پېړۍ پورې ډېرو شاعرانو هر چا دده له شعره دخپل برداشت، سلیقې او سویې سره سم خپل نظر ځرګند کړی دی او د اشرف خان هجري (۱۰۴۴–۱۱۰۲هـ ق) غوندې متصلف شاعر - چې ځوک هم خپل سیال نه بولي - د مرزا خان د شعر په باب ویلي دي:

شـــاعران د پښتنو ګویا خپره دي
د مرزا شعر شمله، بلکه افسر دی

د پښتو کومو شاعرانو چې د مرزا پر شاعرۍ خبره کړې ده، په ټولو کې ماته د دولت
(۱۰۷۰ هـ ق حدود ژوندی) نظر ډېر مناسب ښکاري.
دولت ویلي دي:

د مرزا د نورالدین صفت بـه څو کـړم
میا روښان د پوهې ښهر دی یې درو
هېڅ افغـان ده غونـدې شعـر کـړی نـه دی
پـه خپـل وخـت کـې دی تـر هـر شـاعر بهتـــــــــــــــــــــــــــــــــــرو

د مرزا د فکري او شعري استعداد د ښوولو په باب د فقیر دولت خبرې زما په پوهه له واقعیتونو سره سمې دي او د وروستي نیم بیتي مفاهیم یې د ډېر تفصیل وړتیا لري او د یو پرمختللي نظر

ښکارندويې کوي. ځينې ادبپوهان په دې عقيده دي چې شاعران د خپل هنري او فکري استعداد د تبارز په جريان د عروج يوې لوړې نقطې ته رسي او دا يې د کمال وروستی حد وي تر هغه وروسته ورور ورو نزولی سير طی کوي، ددې خبرو مانا داده چې ډېر ښه د عالي استعداد او لوړو خيالونو پالونکي شاعران هم هر وخت ښه شاعران نه وي، بلکه د خپل وخت ښه شاعر وي. دولت کابو درې، درې نيم سوه کاله دمخه د معاصرو ځينو ادبپوهانو نظر ته ورته نظر بيان کړی او مرزا غوندې د روښانيانو استاد شاعر يې د خپل وخت بهتر شاعر بللی دی.

کله چې د پښتنو په معاصرو فرهنګي حلقو کې د پښتنو د زړو ادبياتو د څېړنې په لړ کې پر مرزا او دده په آثارو څېړنې پيل شوې او ديوان يې هم پنځه ځله چاپ شو، نو د شعر او فکر بېلا بېل تحليلونه يې وړاندې شول. ددې سلسلې وروستی ليکل شوی اثر، د ښاغلی کرګر ( د مرزا خان انصاری عرفاني – فلسفي ليدتوګه) نومی اثر دی، چې تحليلونه، تفسيرونه او له مسالې سره د برخورد شيوې يې ددې لړۍ له پخوانيو څېړنو ښکاره فرق لري او څرګند نويوالی پکې ليدل کېږي زه دا اثر پر مرزا خان روښاني شويو څېړنو کې يو ښه اثر بولم او ښاغلی مؤلف ته د زياتو نورو برياوو غوښتنه کوم.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېواد مل

# د ليکوال خبرې

دافغانستان معاصر فيلسوف او شهيد استاد پوهانددوکتور سيد بهاءوالدين مجروح په خپله يوه رساله کې چې (( پيام صوفي بت شکن به بت پرستان قرن بيست ))[1] نوميږي ليکي:

داسلامي تمدن تاريخ ددوه فکري اوفرهنګي جريانونو شاهد دی چې يو يې فلسفه اوبل يې تصوف دي · استاد دا مساله واضح کوي چې داسلامي نړۍ فلاسفه وو دواقعي مسايلو څخه سترګې پټې کړي دي اوددې پر ځای چې دهستۍ اوژوند داسرارو په باب فکر وکړي زيات وخت يې په دې تېر کړی دی چې دافلاطون اوارسطو دا يا هغه متن دپوهيدنې ور کړي · هغوی له پېله په يوه مجرده اوله واقعيت نه ليرې ساحه کې واقع وو · دې اساسي ټکي ته يې هيڅ پام نه دی کړی چې افلاطون اوارسطو پخپله ديو ډول دوران اوشرايطو مولود ول · دهغوی افکار اواثار په خپل وخت کې دژوند اوهستۍ په اړوند پوښتني مطرح کړې وې · استاد داسې نتيجه اخلي چې په اسلامي تمدن کې فلسفه دانساني اوزماني مسايلو اوواقعي نړۍ څخه لېرې پاتې شوه · فيلسوف لکه دوربينمو چنجی دخپلو ترشحاتو اوتارونو په غوزه کې همالته بند پاتي اوساه يې ورکړه په دې اساس فلسفي زموږ زمان اوانسان ته هيڅ پيغام وړاندې نه کړ ·يا داچې فيلسوف اساسي مسايل مطرح نه کړل بلکې صوفي وو چې دا کار يې وکړ · صوفي په بشپړ صداقت اواخلاص سره ستونزمنه لاره غوره کړه·فيلسوف دافلاطون اوارسطو په خبرو تکيه وکړه ،فقيه ظواهرو اودينې ارشاداتو ته پناه يوړه يوازې صوفي وو چې ځان ته يې مراجعه

[1] پيام صوفي بت شکن به بت پرستان قرن بيستم·شهيد دوکتور بهاوالدين مجروح·(ادب مجله؛ کابل پوهنتون ۱۳۵۵

وکړه او د شخصي تجربي لاره يې ونيوله ·
داستاد په باور د اخلاص اوصداقت په بنسټ دا تجربه عمده ځانګړني لري: له يوې خوا بشپړ واقعيت ته پوره پاملرنه او له لفاظيو ليرى والى ·دا ځکه چې دصوفي په نظر لفاظي دبت پرستۍ ډير ناوړه شکل دى ·
له دې امله دتصوف کلام دزمان پر اثر له منځه ولاړ نه شو ·دصوفي پيغام تر اوسه ژوندى دى · اخلاص اوصداقت دصادق کلام پورى مبنتى دى · او دټينګ واقعيت اوشخصي تجربي له مخى هغه څه وايي چې دنن ورځې علمي اوفلسفي تفکر پرې تکيه کوي ·
له بلې خوا ديو شرقي فرهنګ په توګه زموږ نړۍ يا دشرقيانو دونيا دمعنويت دونيا ده · ددې له پاره چې له ماضي سره په تړا وکې پاتي شو اوريښې مو ونه شليږي اړه ده چې کله ناکله شاته هم مخ واړوو اوبيا پر مخ لاړ شو ·
پورتنې ټکې ددې هڅې دترسره کيدنې انګيزه را سپړي · دهمدې شننې له مخې دميرزا خان داثارو اوافکارو څېړنې يو لامل دا هم دى چې زه يې وهڅولم چې وې لولم او دهغه له نړۍ ليد سره ځان اشنا کړم ·
په حالنامه کې دبايزيد روښان عرفاني اوفلسفي خيرې داثر له څيړنې وروسته دپښتنو په فرهنګ کې ډېرو اهمو ټکيو ته متوجه شوم. پخپله خيرا لبيان اودبايزيد روښان ژوند ليک ،کارنامي افکار اودهغه علمي فضيلت زما سترګې روښانه اوذهن يې راته نور هم وهڅاوه چې دسيمې دنورو متفکرينو سره په پرتلنه کې دهغه دافکارو څيړنه وکړم.
په دې لړ کې څوکاله دمخه مې دميرزا خان انصاري ديوان ولوست · داشعارو دغه کليات مې يوې داسې خزاني ته ورته وموندل چې په هغه کې هر څه شته· دهغه شعر ونو په وار وار لوستنې راته عرفاني اوصوفيانه ستري نمونې را مخ ته کړې ·دځينو تعاريفو اومسايلو دڅيړلو له پاره اړ شوم چې ورته فلسفي اوعرفاني ادبيات هم ولولم.

خو له بده مرغه چې په دې کار کې ځنډونه پېښ شول· په دې مانا کله چې ددوه کالو له پاره په افغانستان کې ووم نو یادښتونه اوماخذونه به په لندن کې په کور کې پاتې ول اویا بالعکس· نو دلیکلو اوڅېړنې په کار کې یو ډول ګډوډي هم رامنځ ته شوه· له بلې خوا دافغاني چاپیریال په څیر شرایط هم برابر نه ول چې دنظر خاوندانو اوپه دې باره کې له با صلاحیته کسانو مشوره اوسلا واخلم.

کال تر مخه مې هیواد مل صیب ته ځینې برخې وسپارلې خو داسې مالومیده چې هغه هم دزیاتو بوختیاوو په وجه وزګار نه وو. چې ما ته لارښوونکی نظر راکړي·

لکه څنګه چې استاد هیواد مل په خپل یادښت کې اشاره کړې اودقدر وړ څېړونکي معصوم هوتک صیب هم یادونه کړې زما دا څېړنه دعرفان اوصوفیانه اثارو بر سیره دلوید یځې فلسفي نړۍ لید ته ځینې اشارې هم لري·کیدای شي چې په څېړنه کې دا کار نوی والی ولري.

دااثر په عمده توګه په درې اساسي مسالو خبرې لري:

یوه برخه یې دمیرزاخان انصاري ژوند لیک اودهغه پورې اړوند مسایل اودمیرزاخان انصاري په باره کې د دنورو پوهانو نظریات دي.

دویمه برخه یې دمیرزاخان انصاري ددیوان دالفنامې توضیح ده. ددې له پاره لازمه وګڼل شوه چې په اسلامي فرهنګ کې دالفنامې فلسفي ارزښت ته کتنه وشي.

داثر دریمه برخه دمیرزا خان په افکارو کې ځینې عمده اواساسي عرفاني اوفلسفي مسایل دي لکه میرزا اوانسان ، عرفان اومعرفت دمیرزا له نظره ، اشراقیت اومعنویت ، نفي اواثبات ، وحدت اوکثرت ، نفساني غوښتني اوتمایلات اوځیني نور مسایل چې په کتاب کې څېړل شوې دي داسلامي فرهنګ اوعرفان په رڼا کې اودمیرزا خان دافکارو په بنیاد یې شننه شوې ده.

همدارنگه دکتاب په پای کې دپښتنو دهویت اودصوفیانه جریان په اړه هم خبري شوي دي اودپښتنو په فرهنګ کې دتصوف مشخصاتو ته ضمني اشارې شوې دې . ددغه تصوفي جریانونو توپیر له نورو اوهمدارنګه دپښتني تصوف دینامیزم اوخوځنده ځانګړنه تشریح شوې ده.

خو بیا هم لکه چې دمخه مو ووېل دمیرزا خان دیوان دباارزښته افکارو خزانه ده· له دې خزاني موږ ډېر لږڅه را اخیستی دي. نورو زیاتو څېړنو ته اړه ده . اوددې په څنګ کې کیدای شي اوکیدوني هم ده چې داثر دلوستلو په جریان کې ډېرې نیمګړتیاوې موجودې اوڅرګندې شي .له ګرانو لوستونکو څخه په پښتنې مینه اودخپل فرهنګ سره دزړه له کومې عشق له مخې غوښتنه کېږي چې ددغه نیمګړتیاوو په راښودلو کې مرسته وکړي چې که وکولای شم په راتلونکې یې سمې کړم.

اکبر کرګر

لندن د۲۰۱۵ کال دمارچ اتمه

# په پښتون فرهنګ کې د میرزا خان انصاري
# فلسفي او عرفاني دریځ

میرزا خان انصاري څوک و؟

میرزاخان انصاري دنورالدین زوی اودبایزید روښان لمسی وو. دزیږیدو نیټه یې مالومه نه ده. دمیرزا خان مور زلیخا اومیرمن یې نور خاتون نومیده چې دمیرزا خان انصاري دتره جلالدین لور وه چې دهغه دلومړنۍ میرمنې بې بې بصرې لور وه. بې بې بصري دملک قاسم بنګښ حاجي خېل لور وه. دنور خاتون نه دمیرزا خان دری زامن اودوه لورګانې وې. خو داسې جوتیږي چې دنور خاتون نه علاوه هم دمیرزا خان کومه بله ښځه یا ښځې وې چې دهغې یا هغوی نه یې هم درې زامن اودرې لورګانې وي. حالنامې ددې ټکې یادونه نه ده کړې.

له روښانیانو سره دوخت دمذهبي تونددلارو اوحاکمو چارواکو له تعصبه ډک سلوک ددې سبب شوی چې ددې غورځنګ په باب زیات شمیر اثار یا له منځه ولاړ شي اویا لادرکه پاتې شي.

دمیرزاخان انصاري یادونې په قدیمو اثارو لکه دبستان مذاهب، ځینو قدیمو تاریخي کتابونو، دروښاني شاعرانو اودنورو پښتنو شاعرانو په دیوانونو کې شوي دي. خو دمیرزا خان دژوند دحالاتو په باب عمده ماخذ حالنامه ده چې ددې کتاب د یادونو

له مخې دميرزا خان دژوندپيښو په باب جالبې نکتې تر لاسه کولاي شو. خو داچې حالنامه تر ډيره وخته دڅيړونکو لاس ته نه وه ورغلې اودګټې اخيستنې لاندې نه وه، نو ځکه دده په باب څيړونکو زياتره دمستشرقانو په ليکنو اوهم دپخوانيو پښتنو شاعرانو پر يادونو اتکا کوله.[2]

دميرزا خان مور زليخا دجلال الدين دخلافت ( ۹۹۹-۱۰۱۲ )هجري قمري په دوران کې له احداد اوداحداد له مور بی بی بسۍ سره مغولو ته ديرغمل په توګه ورکړل شوي وې. حالنامې داپيښه په تفصيل سره راوړې ده اوپه دې ارتباط يې يو ځای ليکلي دي.

(( وزليخا چون ازاين حال اګاهي يافت ( در ) حالتی که جلالدين جيو با مردم افريدي نشسته بود رفته درپهلوی جلال الدين جيو نشست والحاح نموده که به دست خود اسير کرده دربند مغلانم مده که پسرم ميرزا خان بسيار خورد است. ))[3]

دحالنامې له يادونو ښکاري چې ميرزا خان په ډير کوچنيوالي کې دپلار له سيوري محروم شوی دی.

ميرزا خان انصاري دروښاني تحريک يو ډير برجسته شخصيت و چې دبايزيد روښان افکار اوليدتوګه يې په بشپړه توګه اوپه تفصيل سره په خپل کلام کې ياده کړې ده. ميرزا دخپل تره زوی احداد چې دشيخ عمر زوی و ترمشرۍ لاندی دمغلو خلاف ځينو

---

[2]- فرهنګ واصطلاحات عرفاني ابن عربي ص ۱۵۰

[3]-مخلص ،علي محمد:حالنامهٔبايزيد روښان،:داطلاعاتو اوافرهنګ وزارت چاپ ۱۳۸۸کال ۴۰۵ مخ

جنگونو کې هم شامل و، خو وروستو بیا څه وخت دده یو بل تربور او هم اوخښی الله داد (چې په رشید خان مشهور وو ) تحریک یې پرېښود. نو الله داد ( رشید خان ) اومیرزا خان دواړو دوخت له حکومت سره کار پیل کړ. خو احداد بیا وروسته دلواغر په جنگ کې ووژل شو.

څېړنې جوتوي چې میرزا خان دپلار اومور له بیلتانه وروسته له جلال الدین سره پاتې شو اوداحداد اورشید خان دمخالفتونو په دوران کې درشید خان ملګری وو .له مغلو سره درشید خان درزم اوپخلاینې په ټولو جریانونو کې دجلال الدین له زوی رشید خان سره یو ځای وو. دمهابت خان دصوبه داری په وخت کې دتیرا دسیمي پوځي چارې هم میرزا خان ته ورسپارل شوې وې.

هندوستان ته دالهداد ( رشید خان ) ددوهم ځل تګ ( ۱۰۲۸- هجري قمري یا ۱۰۲۹هق حدود ) نه وروسته دحالنامې په روایت دسرواني له ښاره دډیرو له لارې ملتان ته ولاړ. اویو وخت هورې واوسید اوبیا له ملتانه وخوځید اولاهورته لاړ،اودباچا خدمت ته حاضر شو.

له حکومت سره دمیرزاخان همکاري اوپه دې برخه کې دمیرزا خان دژوند کیسه هم په زړه پوري ده په دې مانا چې ددې همکارۍ اوګډ کار جریان هغه دیو جنګیالي اوقوماندان په توګه برجسته کوي. حال دا چې زموږ زیات کاري تمرکز دهغه د فکري اومعنوي ارزښتونو په هستولو کې دی په دې ډول:

دکال ۱۰۳۹ هجري په وروستیو کې کله چې دخان جهان لودي اوشاه جهان ترمنځ داختلافاتو له مخې شخړه پیدا شوه. خان

جهان لودي دکن ته ولاړ. دشاه جهان په ډیر ټینګار ددکن حاکم نظام الملک هغه بادشاه ته حواله نه کړو نو نتیجه یې ددکن جنګ په شکل رامنځ ته شوه. په دې اړوند دمنتخب الالباب لیکوال لیکي:

(( ددکن داطلاعاتو څخه مالومه شوه چې خان جهان لودي دولت اباد کې نظام الملک ته په رسیدلو کې کامیاب شوی دی. خواجه ابوالحسن اونور امیران چې دده په تعاقب کې تللي وو. دبکلانه دزمیندارو په مرسته دهغو سره دېره شوی و اوله دکنیانو (ددکن له اوسیدونکو ) سره یې دبادشاه له درباره د معتوب ملزم دوی ته په حواله کولو یا له خپله ځایه شړلیو په باره کې دمراسلاتو هیڅ نتیجه راونه وتله .......په دغه اطلاع بادشاهي غضب په جوش کې راغلو اوخپله بادشاه په غره ربیع الاخر ي سن یو زرو یوکم څلویښت کې جنوب ته ( دتللو ) اراده وکړه. ))[4]

ددې مخالفت په نتیجه کې دجنګ له پیل نه وړاندې کله چې بادشاهي پوځ ددوښمن په مقابل کې ډیر لږ وو. میرزا خان انصاري خپل قوماندان بهادر خان روهیله ته چې دارادت خان سپه سالار تر مشرۍ لاندې وو دجنګ له پاره ټاکلی و. ددوښمن دزورور قوت سره دمخامخ کیدو پر ځای هغه ته په یوه زړه کلاکې دځای پر ځای کیدو مشوره ورکړه. خو بهادرخان روهیله اوځینې نورو ځوانانو دمیرزا خان دا مشوره ونه منله، بهادر خان اونور و ځوانانو وویل:

[4] خلیل ،همیش .(ترجمه ) میرزا خان انصاري اودهغه شاعري .جدون پرنتنګ پریس پیښور۲۰۰۲کال ۹مخ.

(( چيست اهل دکن که با ايشان جنگ نتوانيم کرد. ))[5]
ميرزا خان په ځواب کي وويل: (( رضای شما دوست را پندی واگر نشنود دعا. ))[6]

ميرزاخان په همدې جنګ کې دخپلو تربورانو ميا داد، الله داد (رشيد خان ) اوخپل يو زوی عبدالحکيم سره دبهادرخان روهيله تر حکم لاندې وجنګيدلو. دغه جنګ کې ميرزا خان انصاري دخپل زوی عبدالحکيم اوتربور ميا داد سره ووژل شو.بهادر خان روهيله اوالله داد په کې ژوبل شول، ميرزا خان دهغه دزوی اوتربره دريوارو مړي هم هلته خاورو ته وسپارل شول خو يو کال وروسته ددريوارو مړي له هغه ځايه شمس اباد ته يو وړل شول.

حالنامه ليکي: (( درسنه اربعين الف (۱۰۴۰ )هجري ازين عالم سفر نمود مزارش درشمس اباد واقع وشب جمعه اکثر مردم به زيارتش می رود. وبقدر يقين خود از حق تعالی مقصود می يابند. ))

شمس اباد داوسني هندوستان داتراپرديش دايالت دفرخ اباد سيمې په قايم ګنج ولسوالۍ کې يوکلې دی چې سلطان التمش دګنګا درياب په غاړه اباد کړی و. دالله داد ( رشيد خان ) په وخت اکثر ابادي په کې دروښانيانو پښتنو وه.

حالنامه دميرزا خان اودهغه دميرمنې بی بی نور خاتون له خولې ليکي: چې کله ددکن په جنګ کې ميرزا خان وټاکل شو اودسفر له پاره يې اړين سامان راغونډولو اودغه وخت يې نور خاتون زهيره اوخپه وليده نومخ يې وروا ړولو اوورته يې وويل:

---

[5] حالنامه نوی چاپ ۵۵۵مخ
[6] همدغه اثر

(( نوري ! زه جنګيالی نه يم او نه دبادشاه نه دمجرايي او منصب زياتولو په خاطر دخلکو وژلو اراده لرم. خو څه وخت چې بادشاهي پوځ دفتحې اوبري خبر واوري. نو خفه کيږه مه او که نه دغليم دفتحې خبر واورې. بيا که غميږي نو ښا يې. ځکه چې ما تر او سه غليم ته شاه کړې نه ده او نه به يې انشاء لله وکړم. ))[7]

سره له دې چې ميرزا خان په جنګ کې را لوی شوی او په جنګ کې مړ دی. خود هغه فکري پانګه او هستونه تر هغه څه ډېره زياته ده چې تصور يې کيږي. داصلي او فکري بحث ته دننوتلو له پاره به دا غوره وي چې يو څه نور هم دهغه دژوند په حالاتو غور وکړو.

[7] حالنامه ۵۵۴ مخنوی چاپ

ب: میرزا دروښاني غور ځنګ متفکر او ایدیو لوګ شاعر

په پښتو څېړنو کې هغومره چې باید د تفکر او لیاقت په تناسب او د میرزا خان د پوهې او معرفت په اندازه د میرزا پیژندګلوي په بار بار شوي وای، نه ده شوي. په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې خدای بخښلي لوی استاد حبیبي، دوست شینواري، زلمي هیواد مل، حبیب الله رفیع، دمیرز اخان د پیژندګلوي په برخه کې څېړنې کړي دي. دهیوادمل د هند کتابتونونو کې د پښتو دقلمي نسخو پلټنو اثر کې په دې برخه کې کار د زیاتې پاملرنې وړ دی.

((دپښتو عالمي ادب کې دارزاني خویشکي نه پس تراوسه دمعلوماتو له مخه میرزا خان انصاري هغه شاعر دی دچا کلام چې په مکمل ډول اوس زموږ ترلاسه شوی دی. دده شاعري دبایزید روښان دعقایدو، تعلیماتو او پښتونخوا کې په اول ځل اوهم په ډیر زور اوشور تصوف کې دوحدت الوجود دنظریې ترجماني کوي اودا حقیقت موږ ته دولت لواڼي داسې په ګوته کړی دی.

د هادي په زړه چې پټ وو په ډیر کاله
د میرزا خوله دهغه علم مظهر وه )).[8]

په بهرنیو پښتو پوهانو کې هم ډیرو لږو پوهانو دمیرزا دکلام یادونه کړې ده.

همدا علت دی چې په مستشرقانو کې جیمز ډارمستتر هم پر

---

[8] همیش خلیل ·میرزا خان انصاري او دهغه شاعري ۱۲مخ

وروستیو شاعرانو باندې دمیرزا داثراتو یادونه کوي. ده لیکلي دي: (( دبایزید انصاري لمسی میرزا خان انصاري وو ، چې شعر یې ډیر منلی دی، دده دشعر لوری عرفاني دي له دې کبله یې په راوروسته شاعرانو لویه اغیزه درلوده. ))[9]

دزلمي هیوادمل په قول، دنولسمې پیړۍ ختیځ پوهان دمیرزا خان له نامه سره اشنا دي.

پرفیسور ډورن (۱۸۸۱-۱۸۰۵) په خریستوماتي کې گرده الفنامه ۳۱ غزلي چاپ کړي دي. هغه وایي له دې بیانه راووځي چې په اولسمه پیړۍ کې میرزا داروپا داستشراق په حلقو کې پیژندل شوی و.

داسې معروفه وه چې (( میرزا دپښتو اول شاعر دی چې مکمل دیوان یې پاتی شویدی اوشعر یې میدان ته راوتلي دی )).[10]

په پښتو شاعرانو کې له هغه څخه په راوروسته ټولو شاعرانو دمیرزا اغیز شته. ځینې خو په دې باور دې چې میرزا لومړنې دیوان لرونکی شاعر دی، خو که دا سمه نه وي نو دا خو سمه ده چې میرزا دپښتو ژبې لومړنی شاعر دی، چې غزل اومثنوي اوقصیده یې دخپلو فلسفي اوعرفاني افکارو دبیان له پاره کارولې ده.

(( بایزید روښان دډیر عبادت او ریاضت نه پس خپل خیالات دکلام الهی اواحادیث نبوي په رڼا کې پیش کړه اودنجات له پاره یې دیو کامل پیر په ضرورت زور راوړی و. دغه ضمن کې میرز اخان دکامل پیر دتلقین نتیجه اوبې رهبره ژوند انجام په دغو

---

[9] هیوادمل ·په هند کې دپښتو ژبې اوادبیاتو دایجاد اوودې پړاوونه . ۱۳۴ مخ

[10] همدغه اثر ۱۳۶مخ

الفاظو بیانوي:

پیـر کامـل بـه وتـا هسـې تلقـین درکـړي
چـې پـه هـر نفـس ددو کونـو بهـا ورړي

د گمان لـه تـاریکۍ بـه دې خلاص کـړي
وبـاور تـه کـه تـه مینـه پـه ربنـتیا ورړې

دکامـل دصـحبت هسـې رنـگ تـاثیر دی
چـې دلـې شـې دهغـه جهـان خبـر
ای میـرزا قـدم دپیـر پـه قـدم کښـېږده
پر غلط لارې به سود نـه وي بې تاپـه)) [11]

له میرزا خان نه راوروسته شاعرانو هر یو په خپل وار سره دشاعر کلام لوستی اوهغه یې نقد کړی دی. دولت لوانی چې دروښانیه فرقې یو پیرو دی، دمیرزا خان نه ډیر متاثر دی اوځای ځای دمیرزا اودهغه دکلام یادونه کوي.
دولت لوانی ویلي دي:

میـرزا گـنج راتـه خپـل کـوروښـو غنـي
شـــــــــــــــــــــوم
بیهـوده منـت بـه ولـي دنـور چـا کـړم

یـو صـفت بـه یـې لایـق راوکـړي نـه شـي

[11] همیش خلیل ۱۲ مخ

کــه ثنــا پـــه تمــام عمــر دمیــرزا کــړم

محقـــق وحـــدتی کـــان دتصـــوف و
پـه رمـوز یـې پـه همـه عـالم دانـا کـړم[12]

دولت په دقیق ډول هغه څه رابرسیره کوي اودراتلونکو څېړنو له پاره یو لاربنودونکی لید جوتوي چې دمیرزا لیدتوګه څرنګه اوپه څه ډول بشپړه شوې ده .نوموړی میرزا دروښانې لارې هغه ((ور)) یا لاره بولي کومه چې ((د روښاني ښار)) دمعرفت کیلي ورسره ده. داداسې ښار دی چې په رموزو اوماهیت باندې یې پوهیدنه ژور معرفت اوپوهې اودقت ته اړه ده.
دولت لوانی وایي:

د میــرزا نورالــدین صــفت بــه څــو کــړم
میـا روښـان دپـوهې ښـهر دی یـې ور وو

(ددې څرګندونو نه مراد حضرت پیغمبر ته هغه منسوبه وینا ده چې وایي: انا مدینه العلم وعلی بابها )
دهـادي پـه زړه چـې پـټ و پـه ډیـر کالـه
دمیـــرزا خولـــه دهغـــه علـــم مظهـــر و

هیـڅ افغـان ده غونـدې شعر کـړی نـه دی

---

[12] زلمي هیوادمل اثر ۱۳۴ مخ

دی پـه خپـل زمـان تـر هـر شـاعر بهتـر و

پــه دنیــا یــې محبــت تکبــر نــه کــه
پــه ظــاهر ســپینه جامــه کــې قلنــدرو

ددکــن پــه جنــگ شــهید شــه خوشــنود
اوســــــــــــــــــــــــــــــــــــــه
پــه تــاریخ دزر ځلو یښــت دده گــذرو

لوی خوشحال چې دپښتنو د خپلواکۍ او دپښتنو دخود رادیت دژوندي کولو اودپښتنو دیو والي له پاره توري وهلي اوهمدارنګه دپښتون فرهنګ مشال یې دروښان پیر په څیر اودهغه په پله بل کړی اوروښانه ساتلي. دمیرزا خان دشعر اوشاعرۍ په باب دقیق نظر وړاندې کوي.

خوشال ویلي دي:

لـه چانـه پـه پښـتو کـې مـا میـزان لیـدلی
دی
میرزا پـه دازبان کې ویـل کـړي دي تَلَلِيِ

اشرف خان هجري:

امیــران دشــعر ډیــر دي پــه دا دور
میــرزا شــعر تــر همــه وو دمیــرزا دی

## شــاعران د پښــتنو ګویــا ځیــره دي
## د میرزا شعر شمله ،بلکه افـسر دی

دمیرزا په نوی چاپ شوي دیوان باندې پښتون څېړونکي پروفیسور راج ولي شاه خټک په خپله سریزه کې کښلي دي: ((کله چې دارزاني دیوان ترلاسه شوی نه و نو په شلمه صدۍ کې هم تر ډېره وخته میرزا خان انصاري ادبي مورخینو دپښتو وړومبی صاحب دیوان شاعر ګڼلو. که ارزاني دشاعر اصحاب دیوان شاعر په حیث په روښاني شاعرانو کې اولیت لري .دولت، مخلص، واصل اوځینې نور شاعران یې هم دستر معیار شاعران دي. ولي دغه واړه روښاني شاعرانو کې دخپل اسلوب انداز اونادر فلسفیانه اوصوفیانه فکر په سبب میرزا خان انصاري دخپل شعر زړه راښکون ډیر خور کړی دی ) ) . خو ددې خبرې یادونه اړینه ده چې دپیاوري اومشهور څیړونکي استاد معصوم هوتک په قول ارزاني خویشکی لومړنی دیوان لرونکی شاعر وو٠
په پښتو شعري فرهنګ باندې له بده مرغه دنقد اوڅېړني بهیر یو ډول وچه اوبې لار ښودنې بڼه درلوده. ډیره لږه دشاعر نړۍ لید اودهغه فلسفي پوهې ته پاملرنه شویده. که موږ دمیرزا دیوان راواخلو نو ګورو چې سر تر پایه هغه دیو فکري سیستم نماینده ګي کوي. دا سیستم دروښاني فکري لاري په اسلوب ایجاد شوي دي. راج ولي شاه صیب زیاتوي:
(( دمیرزا خان انصاري شعر په فن فنې خوبیو –دهغه په اسلوب په

تصوف او په تصوف کې د مخصوص طرز فکر په باره کې ډیر څه لیکلي کیدی شي او شاید چې لیکل په کار هم دي. په دې چې دا صوفي شاعر تر او سه بیا هم هغه رنګ نه دی پیژندل شوی لکه څومره چې یې حق دی او یا دروښاني فلسفې هغه باریک نکات چې میرزا په شعر کې بیان کړي دي تر ډیره تشریح طلب پاتي شوي دي. ))[13]

پښتو څیړونکی او فرهنګ پوه هیوادمل هم په دې باور دی چې د میرزا پر کلام پوهیدنه دهر چا له سویې او سطحې او چته خبره ده. هغه څوک په دې کلام پوهیدای شي چې لومړی خو دروښاني لارې پر ټولو تعلیماتو پوه وي او دوهمه خبره داده چې د اسلامي تصوف د ځینو خاصو ښوونځیو ،لکه وحدت وجود او وحدت الشهود په ټولو رموزو اګاه وي، دتصوف له اصطلاحاتو او تعبیراتو سره اشنا وي.

د میرزا کلام رموز دی چې معنی یې په څو بابه

وایي چې: ((میرزا خان په پښتو کې دتصوفي افکارو لومړنی مروج دی. دا خبره دنویو اسنادو او پښتو اثارو په را برسیره کیدو سره اوس دمنلو نه ده. عرفاني افکار په پښتو ادب کې ترمیرزا دمخه په روښاني غورځنګ کې خپله روښان او ارزاني بیان کړي دي او بیا تردوی دمخه په نورو ډیرو متفرقو پښتو اثارو کې یې انعکاس موندلی دی، اوس موږ دومره ویلای شو چې په عرفاني لاره کې عرفاني افکار په یوه ځانګړي چوکاټ کې د ځینو خاصو

[13] خټک ،راج ولي شاه·دمیرزا خان انصاري دیوان :سمونه اوڅیړنه دداکتر پرویز مهجور خویشکي ·پښتو اکیډیمي پیښوریونیو رستي·کال۲۰۰۴ دویم مخ·

تمایلاتو سره روښان پیر اودده پیروانو له خوا بیان شویدي )[14]
دشعر دفن او ښکلا پیژندنې له اړخه هم دمیرزا شعر اوغزل داوسنې دور دپښتو غزل سره سیالي کوي. حمزه بابا دپښتو غزل پلار ترهرچا زیات میرزا خان اوبیا خوشال بابا ته عقیدت لري.
پروفیسور افضل رضا دپښتو غزل کې لیکلي دي: ((پښتو غزل ته دعشق تصوف رموز په جدا ډول میرزا خان وښوول. دوینا سبک یې دنورو شاعرانو نه ځانته دی. دفکري اوفني لوړتیاله کبله میرزا خان په زړو شاعرانو کې بیل امتیازي مقام لري. ))[15]
کله چې دپښتو ادب تکاملي بهیر څیړو اوپه هغه کې په غزل تمرکز کوو، نو په دیوان لرونکو شاعرانو کې میرزا خان که مبالغه نه وي لومړنی شاعر دی، چې غزل یې هم تغزل لري اوهم دیوې مفکورې اوعقیدې دتبلیغ اواظهار له پاره وسیله شوی دی . میرزا سخت فلسفي عرفاني مطالب دغزل په فورم کې ارایه کړي دي. نوموړي هماغه مفاهیم او کلمات چې په فارسې متصوفو شاعرانو کارولي دي دقیق کارولي دي. دهیوادمل داخبره زیاته دپاملرنې وړده چې وایي: دپروفیسور رضا نظریه دمیرزا دغزل دخصوصیاتوپه باب په مطلق ډول یوڅه دتاءمل وړ ده ځکه دتصوف له اسرارو، رموزو سربیره دمیرزا په غزل کې نور افکار اوموضوعات هم بیان شویدي اوکله کله تغزل هم په خپل غزل کې روزي. ))[16]
دمیرزا په دیوان کې په تصوف اوتغزل سربیره، دهندي فلسفي

[14] زلمی هیوادمل: هماغه اثر ۱۴۰ مخ
[15] هیوادمل: ۱۴۵ مخ
[16] -هیوادمل هماغه اثر ۱۴۱ مخ

افکارو، نیو افلاطوني اوعلم کلام هم وینو. په فکري لحاظ دمیرزا شاعر ي له محتوا اومانا ډکه اودفلسفي افکارو ( شرقي فلسفې افکارو )دخیرلوله پاره عمده ماخذ دی.

دمیرزا په دیوان کې غزلي، قصیدې، اومخمس پیدا کولي شو چې دپاړکو شمیره یې ۲۵۲ ده (روښان یاد ( ۱۸۹ ) پردې سربیره دمیرزا په دیوان پای برخه کې دمولانا په څیر تمثیل هم شته اوځینې حکایتونه په تمثیلي توګه راغلي دي.

هیوادمل دعبدالرحیم منانف له قوله لیکي: ((میرزا خان نه یوازې دخپل نیکه افکار په شعر کې په هنري ډول ښکاره کړل،بلکې په یوه خاصه مانا یې انکشاف هم ورکړ. هغه دتصوف لوی بحر ته رجوع وکړه اومخصوص دپارسي تصوفي ادب په اصطلاح ګانو ، اشکالو اوسمبولونو یې تکیه وکړه...))

په عمده توګه دمیرزا په شعر کې داډول تغزلي مفاهیم تکرار شویدي، چې په نورو ژبو تصوفي ادبیاتو کې هم دصوفي اوعارف دمراد اوهدف ترې خپل مقصود دی. لکه:

ددې مستې شهلا زلفې تار په تار دي
غوړیدلی، لکه سیوری په رخسار دی

هر ویښته یې ګوښې ګوښې کمند غوارې
خورې شوې دزخمې زړونو په ښکار دي

پـر هغـو زړنـو بـه ثرنـګ قـراري وي
چـې ښکـولي يـې دمينـې پـه مهـار دي

چې لـه هسی خپلـه ځايـه شو بې ځايـه
دا ستوګنې ملک يې کوم دی چې قرار
دی

چې ددې محبوب په مينه ديوانه شوه
اوس وتلـی لـه تسـبيح اولـه زنـار دی

واړه چـارې خپلـه مينـه شـوه دوړانـدې
اوبې له مينې له جمله کارو بې کار دی

په خلوت په ميخانه کې يې ځای نه شي
نـه پـه مينـه دمسـلم نـه دکفـار دی

لـه دې مسـتې هسـتې څنګـه احتيـاطي
کـــــــــــــــــــړم
چـې کاتـه يـې وويشـتو وتـه تيـار دی

ښا يسـته صـورت يـې ونـه دچنډن کـړه
دا ګيسـو تـرې پريـوتلی لکـه مـار دی

چې دا هسې رنګ دیدن وته هوس کړي
د جهـــان غمونـــه واړه پـــرې انبـــار دي

همیشـــه د عاشـــق زړه بانـــدې ورتیـــرېږي
د محبوب کاته لمبې سترګې انګار دی

نـن یـې بیـا دخپـل جمـال ډیـوه کـړه بلـه
عاشـقان لکـه پتنـګ تـر چـارو زار دي

عنـــدلیب د عاشـــقۍ نامـــه ویلـــې
پـــه ثنـــا یـــې خبـــر زړونـــه موســـیقار دي

دغـه سـترګې یـې کنـول سـترګې بـورا
شـــــــــــــــــــــــــــــــــــــول
او کاته لکه هستي صـاحب اختیـار دي

دواړه وروځي یې لیندۍ بانه یې غشي
واشـنا تـه یـې نیـولې پـه ګـوذار دي

مخلصـــان پـــه دواړه کونـــو ازاري کـــا
د محبـوب وښـه دیـدن وتـه حصـار دي

تردغه خوښی به زیاته خوښي څه وي
چې هر دم یې ونظر ته انتظار دي

دا کثرت یې په وحدت باندې ارهتې
دی
اوراتله ورته دهر چا په خپل وار دي

وهر چاوته یې خپله پوهه کیښوده
دهر چا لیده دفهم په مقدار دي

ای میرزا ته دا ملالې سترګې وینه
چې مدام دیار له مینې په خمار دي.[17]

ځینې کسانو ته ممکن شک پیدا شي چې دا غزل یا قصیده یوازې تغزلي بڼه لري. خو نه ! هیڅکله داسې نه ده. په پورتني غزل کې له ورایه مونږ له لومړي بیت څخه دکثرت اووحدت مفکوره وینو چې دزلفو په څیر کاینات تار په تار دي اوپه رخسار لکه سیوري غوړیدلي دي.
هر وینته یې ګوښې ګوښې وصل اووصال غواړي، ددوی ښکار دادی چې سالک په زخمي زړه په هغه معرفت پیدا کړي.
ددې مستې شهلا زلفې تار په تار دي
غوړیدلی، لکه سیوری په رخسار دی.

17 هیوادمل۱۴۴مخ

هـر ويښـتـه يـې گوښـې گوښـې کمنـد
غـــــــــــــــــــــــواړې
خـورې شـوې دزخمـې زړونـو پـه ښـکار
دي

مطلب دادی چې پورتنې غزل هیڅکله کوم عاشقانه اودمعشوقې توصیف اوستاینه نه ده بلکې دکایناتو اودوحدت تشریح اودشاعر دفلسفې تفکر ژورتیا اوپه لوړ تخییل سره دهغو توصیف اوتمثیل دی. دصوفیانه ادب اوهنر یو ډیر په زړه پورې بحث هم دادی چې څرنگه د دمطالبو اوافکارو دتشریح له پاره دسیده اومستقیمو مفاهیمو پر ځای استعاره اوکنایه اوسمبول کاروي اوهم دې کار ادبیاتو په وده اوپرمختگ کې لوی رول درلودلی دی.
دشعر دمعنوي اقسامو څخه موږ دده په دیوان کې یوه بشپړه الفنامه وینو. که څه هم الفنامه تر ده دمخه دارزاني په کلیاتو کې هم ځان ښکاره کوي خو دهغه الفنامې دشکلي لحاظه یوه درباعیاتو اوبله گرده دیوقصیده ډوله نظم په چوکاټ کې ویل شوي ده. دمیرزا دالفنامې خصوصیت دادی چې ده الفنامه دیوې مقدماتې غزلې په شمول په ۳۱ غزلو کې بشپړه کړې ده. د الفنامې دخپلو فکري ارزښتونو تر څنگه بل نوښت دادی چې دالفبا هر توری یې په بشپړه غزله کې تشریح کړی دی. دغزلو په کالب کې ویل شوې الفنامه ترمیرزا دمخه سملاسي موږ په پښتو ادب کې په عام ډول اوپه هند کې په ایجاد شویو ادبیاتو کې په خاص ډول

نه لرو. دمیرزا الفنامه هم په دې سیمه کې د ایجاد شویو پښتو ادبیاتو دشعري انواعو په لړۍ کې دانکشاف یو څرک په لاس راکوي.

دمیرزا شعر په فکري لحاظ دوې لارې تعقیبوي چې یوه مرکزي لاره اوبله هم فرعي لاره ده. دمیرزا دشاعرۍ روح اومرکزي مفکوره دروښاني طریقې تبلیغ، انعکاس او هغې ته پراختیا اوپرمختیا ورکول دي. میرزا ویلي دي:

دمیرزا په خوله وییږم دروښان بې مثله زړه یم
دمیرزا گمان فاني شه هر چې وایي میا روښان
دی
دمیـرزا کـلام شـیرین شـه د روښـان لـه برکتـه

دروښاني طریقې د مقامونو تشریح دهر روښاني شاعر دکلام اساس جوړوي اومیرزا خان دغه مقامات اودهغو شرح په دې ډول کړیده.

تر وسړي لره بایده دي
چې طلب دهدایت کا

قصیده تر پایه...

میرزا خان هم په خپل کلام کې څو ځایه دا خبره کړې د چې دده کلام رموز دی اومعنی یې دقت اوزیات تفسیر ته اړه لري چې دا تفسیر دهر چا کار نه دی:

د مـــیرزا کلام دقیق دی

## د ميرزا په شعر کې فکري استقامتونه

په دې برخه کې مخکې له دې چې دميرزا دفکري هستونو اوخلاقيتونو ته داخل شو اړه ده چې لږ څه دتصوفي فرهنگ داغيزو په باب څه ووايو:

جوته ده چې تصوف هم دذوق اوالهام سره تړاو لري. اوشعرو شاعري هم له دې احساسه راپورته کيږي٠ صوفيانو په لومړي سر کې دشعر وشاعري سره دومره مينه نه ښوده ٠ يو مشهور صوفي يوسف بن حسين رازي دسماع له شعر نه دومره نه اغيزمن کيده لکه دقران له سماع نه.نوموړی په الحاد اوزنديق تومتي و٠

دصوفيانو هغه شعرونه چې دمناجاتو اوموعظي په ډول دي دومره صوفيانه نه دي خو دصوفيانو دشعرونو نموني بايد په هغه اشعارو کې چې حلاج ته منسوب دي وليدل شي چې هغه هم په زنديق اوالحاد تورن دی.

په حقيقت کې صوفيانو توبه اورياضت دمعرفت اوطريقت بنسټ گڼلو اودشريعت له حدودو تېرى يې روانه باله٠ دهغو پخوانيو په زهد اورياضت کې راسخ باور درلود٠ دابراهيم ادهم اوذوالنون مصري دتجرد کيسې دزهد اوتجرد پړاوونه بيانوي٠

په هر حال دخراسان صوفيانو په پيل کې هغو کسانو چې دملامتيه اوقلندريه فرقو پيروان وو ،له رواج نه تر مخه هغو چې په شريعت تکيه کوله هغه يې صوفي باله ، سماع يې مناسبه نه بلله٠ رقص اودپښو وهل يې غير اصلي کار باله٠ دهغو له ليدلو

يې هم ډېره کوله. په داسې حال کې چې دبغداد اوعراق صوفيان دومره په ظواهرو باندي مقيد نه ول ۰ احمد غزالي په نويو پيښو کې دحق جمال پلټلو اوعين القضات دمنصور حلاج په څير دعوې درلودې ۰

دپنځمې پيړۍ تر اوايلو پورې په خراسان کې چې ددرې ژبې اصلي ټاټوبی دی. تصوف اکثرا دشريعت تابع اوله هغه سره يې جوړ جاړی پيدا کړ ، همدا سبب وو چې صوفيانو داهل سنت په پيروۍ له شعر نه بد وړل ۰ په واقعيت کې په اسلام کې دشعر وشاعري برخلاف څه ښکاره خبرې نشته خو ځيني کسانو چې په ظاهر کې په اياتو نو اواحاديثو باندې زيات ټينګار کاوه شعر يې نه خوښاوه ۰دې ډلې له شعر نه ډېره کوله په همدې سبب دخراسان صوفيانو په شريعت باندې دټينګار په سبب دشعر وشاعري پسی نه ګرځيدل ۰

امام محمد غزالي دهمدغه ډول اسنادو اوتاويلاتو پر اساس په ځينو مواردو کې سماع روا اولازمه بلله ۰هغه ليکي : (( سماع مباح است ، مگر انکه جهتی از حرمت دراو باشد . مانند سرود محس وهجايا طعن دين چون شعر روا فض که درصحابه گويند اما صوفيان وکسانی را که بدوستي حق مشغول ومستغرق باشند وسماع بران کنند اين گونه ابيات زيان ندارد )):

گفتم بشمارم سر يک حلقه ی زلفش
تا بو که بتفصيل سر جمله برارم
خنديد بمن بر سر زلفينک مشگين
يک پيچ به پيچد وغلط کرد

شــــــــــــــــمارم))[18]

دابو سعيد په ظهور اودهغه دشهرت په سبب ورو ورو دفقيهانو اومتشرعه وو برخلاف دصوفيانو دسماع مجلسونو كرار كرار رونق پيدا كړ . ددوی په غونډو كې هغه څه چې دصوفيانو دخوښې وړ وو هغه لطيف اوعاشقانه شعرونه وو . صوفيانو دا ډول شعرونه له ظاهري مانا ګانو تاءويل كول چې له مخالفانو سره يې ډغره اوشخړه پيدا نه شي .وايي چې ابو سعيد په دې برخه كې ځانګړې قريحه اوذوق درلود .روايت دی چې په يوه مجلس كې يو چا داسې شعر وويلو چې مطلع يې ده:

اندر غزل خويش نهان خواهم گشتن
تا بر لب تو بوسه زنم چونش بخواني

بوسعيد وويل دا د چا شعر دی؟ يو تن وويل دادعماره نيشاپوري. صوفيانو ته يې وويل پاڅئ چې دعماره زيارت ته ولاړ شو · په اسرار التوحيد كې دا نكل له شعر سره دهغه مينه جوتوي ·

عين القضات په شعر كې ډېر تند اوتيز ولاړ . نوموړي داسې اشعار ويل چې په ظاهر كې يې له شريعت سره په اختلاف كې وو .كله كله يې دتاءويل پرده هم نه پرې اچوله · لكه دا رباعي يې يوه نمونه ده:

اتش زنم وبسوزم اين مذهب وكيش
عشقت بنهم بجاى مذهب درپيش

---

[18] زرين كوب ,عبدالحسين·ازچيزهاى ديگر ·تهران ١٣٧٩ ص٩٠

مقصود تویي مرا نه جانست ونه دل
تاکی دارم غمت نهان دردل خویش[19]

د پنځمي پیړۍ په پای او د شپږمې پیړۍ په سر کې د جوماتونو په خوا کې د صوفیانو مجلسونه رواج شول . په دې غونډو کې شعرونه لکه رباعیات او عشقانه غزلي ویل کیدلې چې له سماع سره مناسبې وې. د سنایي غزلیاتو ډېر شور او هیجان راپارولو . خو له هغه وروسته مولانا او عطار نیشاپوري دغو اشعارو ته ځانګړی رنګ ورکړ . عطار په خپلو اشعارو کې ځانګړې لاره غوره کړه چې شارحان او ناقدان د هغه د شعرونو په تاءویل کې له کړاو سره مخامخ کیدل.

مسلمانان من ان گبرم که بتخانه بنا کردم
شدم بر بام بتخانه درین عالم صدا کردم

صلای کفر درداد‌م شما را ای مسلمانان
که من ان کهنه بتها را دگر باره جلا کردم

از ان مادر که من زادم دگر باره شدم جفتش
از انم گبر می خوانند که با مادر زنا کردم

---

[19]همدا اثر ۹۵مخ

ببکــــري زادم از مـــــادر ازان عيســـــيم
ميخوانند
که من اين شير مادر را دگر باره غذا کردم

اگر عطار مسکين را درين گبری بسوزانند
گـواه باشيد ای مـردان کـه مـن خودرا فـدا
کـردم

دعطار دغه ډول اشعار چې په ښرګنده توګه دشريعت سره مخالف دي ځينو ددېوان چاپوونکو ان دا ډول اشعار له چاپ نه حذف کړي اوځينو يې دا ډول شعرونه شرح کړي دي. دغه ډول شعرونه دشور اوجذبې له مخې ويل شوي دي.

دسنايي اوبيا عطار زياتره شعرونو کې صوفيانه مقامات شرح شوي دي . هدف دادی چې دشعر له لاري يې شريعت توضيح اوتاءويل کړي دی اوطريقت يې اصل اومبدا ء بللې اوهمدارنګه مجاهدت اوعمل عين اليقين ته درسيدو وسيله بولي .خوکله چې ميرزا خان اغيز په دې برخه کې په پښتو ادب باندې ګورو نود دروښاني ادب Roshania literature داثر د ليکوال اوڅيړونکي دا نظر ډېر دپام وړ دی چې وايي:

((واقعا چې هغه ددې وړتيا لري چې دهنر اوتفکر شاعر ورته ووايو.نوموړی ډېر ستر شاعر اوله عالي پوهي برخمن و. نه يوازې دروښانيانو په منځ کې بلکې له شک پرته چې ددې وړتيا لري چې دپښتو دلومړي درجې په شاعرانو کې وګڼل شي. کيدای شي

چې امکان و نه لري په مشکل سره څلور هغه شاعران چې له میرزا خان نه را وروسته راغلي دي دمیرزا شعر ته یې عقیدت نه وي وړاندې کړی. خوشال دمیرزا دشعر په اړوند وایي:

له چا نه په پښتو کې ما میزان لیدلی نه دی
میرزا پـه دا زبـان کـې ویـل کـړي دي تللي[20]

څېړونکی زیاتوي :((نوموړی نه یوازې له دې امله چې په پښتو شعر کې ستر اوژور افکار لري پېژندل شوی دی بلکې له دې امله هم پیژندل شوی چې په پښتو شعر کې یې معیاري اودخاص فصاحت وبلاغت اوشاعرانه سبک خاوند دی. اوپه پراخه پیمانه کې یې دا کار کړی دی.
هغه لومړنی پښتو شاعر دی چې پښتو شعر ته یې ځانګړی عروضي ښکلا وربخښلي ده. ))[21]
دنورو شاعرانو په څیر دمیرزا داثارو اصلي محرک وجودي وحدت دی. دنوموړي اشعار دالوهیت یا رباني عشق نه مالامال دي. دنورو روښاني شاعرانو په څیر دده په اشعارو کې یو صداقت اورښتیواله لیدلی شو. دمیرزا خان په احساساتو کې دا یو امتیاز دی. چې دنورروښاني شاعرانو په پرتله دا دده په وینا کې یو ډیره ستره ښکلا ده.
دنوموړي داحساساتو را برسیره کیدل دنورو روښاني شاعرانو

[20].Pr.Dr.YarMohammad Maghmoom Khattak.THE ROSHANITES&Pashto Literature.PASHTO ACADEMYUNIVERSITY OF PESHAWAR.2005.PAGE 256-25721.page 258
21.page 258

په پرتله ستونزمن دي دا ځکه چې دده په اشعارو کې نوره ډیره اغیزه او اثر شته دی·
دمیرزا دشعر بنسټیزه منځپانګه دهغه فکري اوعقیدتي هغه ده. میرزا له هغو ګوتو په شمار شاعرانو څخه ګڼلی شو چې شعر اوکلام یې دخپلو افکارو دڅرګندولو له پاره وقف کړی دی. د تصوفي اوعرفاني لیدتوګو په بنسټ ځیني پوهان میرزا وحدت الشهودي اوځیني یې وحدت الوجودي شاعر بولي. دا په فلسفه اوعرفان کې یو ژوربحث دی چې په را وروسته تشریحاتو کې پرې رڼا اچول کیږي. خو دلته یوازې څو نظریې دمیرزا په هکله راوړل غواړو.
لوی استادعلامه حبیبي لیکي: ((دوی (روښانیان) دشهودي توحید پر لار ځي مګر کله کله دروښانیانو په کلام کې دوحدت وجود تجلی هم سته مګر داسې ښکاري چې دغسې افکار کله کله اولږ لږ پر دوی غالبیږي اوکله چې دصحو څخه (سکر ) ته ولاړ سي نو دوجودیانو په ډول کلام هم لري اودمتصوفانو په اصطلاح شطحیات وایي اوبلند پروازي کوي.))[22]
قلند رمومند وایي: ((بایزید دوحدت الوجود په سلسله کې دا خبره هم هیرول نه دي په کار چې دهغه وحدت الوجود داسې نه وو لکه چې ګڼلی شویدی. قلندر مومند ددې ادعا له پاره دحالنامې په لاندې متن تکیه کوي:
حالنامه وایي: یوه ورځ یوه سړي له پیر دستګیر څخه پوښتنه وکړه، چې ستا حال له خدای سره څنګه دی ؟ وی فرمایل چې کله

---

[22] هیوادمل ۱۴۱مخ

هغه اوکله له هغه. یعنې کله عروج وکړم، اودلطافت مرتبې ته ورسیږم. اوکله نزول وکړم اودکثافت مرتبې ته راشم، یعنې کله ځان دریاب گڼم اوکله له دریابه خپله پستي گڼم. بالکل په تکتیکي طور باندې داوحدت الوجود نه، بلکې وحدت الشهود دی، ځکه چې د(همه اوست ) مقوله دشهودیانو ده، )) -[23]

اروانباد پوهاند رښتین لیکي : (( دصراط التوحید له ځینو ځایو څخه دوحدت الوجود مساله څه ناڅه څرگندیږي، لکه دحقیقت دمقام په برخه کي دې خبرې ته اشاره شوې ده اوهیڅ شی دخدای له وجوده جلا نه گڼل کیږي. ))[24]

دا یوه لنډه یادونه ده ددې نظریاتو دڅیړنې له پاره به دا ښه وي چې دوحدت الوجود دستر مفکر شیخ محی الدین عربي دافکارو په باب لږڅه تم شو. خو مخکې تر دې چې دغه بحث ته ورسیږو باید ووایو چې

دمیرزا په کلام کې داسلامي افکارو اوعقایدو تشریح اولارښوونه په کراتو شویده. اخلاقي درسونه وړاندې شویدي.

اسلامي ارزښتونه دخیر اوشر مسایل په ښه توگه واضح شویدي.

همدارنگه داسلامي ارزښتونو په خوا کې په ډیر ه ژورتیا سره عرفاني مسلکي مسایل څیړلي دي.

دې کې هیڅ شک نشته چې میرزا خان ژوند په هند کې دیوه جاگیردار اوددولت دیوه امتیاز لرونکي شخص ژوند وو، دهغه په شعرونو باندې ددغه لوري اثر اواغیز هم شته. خو په هر حال

---

[23]مومند ,قلندر. دخیرالبیان تنقیدي مطالعه ۳۵مخ

[24] هیوادمل ۱۴۲مخ.

موږ د هغه د شخصیت د نورو ابعادو پسې نه ګرځو بلکې غواړو یوازې د هغه په فکري او عقیدتي مسایلو متمرکز شو.

دويم څپرکی

# د ميرزا خان انصاري په فکري نړۍ کې د سفر په موخه

## عرفان، تصوف او اسلام

ځينې څېړونکي لکه ريخارد هارتمان ،ماکس هورتن اونور دتصوف ريښې اوسرچينه د هندي فرهنگ په منابعو کې بولي چې دبودايي ودانتا[25] فلسفې پورې اړه لري. دهارتمان په باور سره دزرتشتيزم اوبوداييزم دمخامخ کيدو يا تلاقي سيمه منځنۍ آسيا اوشاوخوا هغه ده. له منځنۍ اسيا څخه دهندي عرفان نفوذ اوعملي زهد دآريايانو له لاري په اسلام کې نفوذ کړی دی. روسي پوه اگاردلوسکي هم ددې نظر ملاتړ کړی دی. خو دانظريه يوازې يو ه فرضيه اوداسې انده وه چې هيڅکله دواقعيت اومدارکو له لاري ثابته شوي نه ده. سره له دې چې ځينې څېړونکي دا ډول ليد توگه دعربي نژاد په وړاندې داريايانو يو عکس العمل بولي چې غواړي تصوفي فرهنگ داريايانو اويا هندو اريايي فرهنگ پورې اړونده وبولي. خو دپطروشوفسکي په قول ماکس هورتن

[25] ودانتا: يا ويدانت( VEDANTA) داخير يا مقصد په مانا چې داوپانيشادونو په زده کړو ولاړ او دوحدت وجود په باب بحث کوي ·دا ښوونځې هڅه کو ي ثابته کړي چې داوپانيشادونو ټول عبارات که سم تفسير شي نو دوحدت وجود يو اصل توجيه کوي · دا دهندي فلسفي دشپږ گونو ښوونځيو نه يو مهم مکتب دی ·

تصوف دبودايي کيت نفوذ اودودانتا مقدم شکل بولي.[26]
په عمده ډول دتصوف اوعرفان دمنشا اوپيلامې په هکله درې نظره رامنځ ته شوي چې کولای شود مسيحيت ، (مسيحي يا نو افلاطوني ) سرچينه او اريايي او هندي سرچيني يادونه وکړو.
فون کرمر دتصوف دتکاملي سير په باره کې يوه پيچلې نظر يه وړاندي کوي. چې وايي تصوف له دوه منابعو څخه سرچينه اخيستی ده. فون کرمر وايي:
((داسې مالوميږي چې تصوف دوه بيلابيلې نظريې دځان کړي دي . يوهغه متقدم عنصر دی چې له مسيحي زهد څخه عبارت دی، چې داسلام له پيدايښت راهيسې يې سخت اغيز درلود ،وروسته بيا د هماغه بودايي مشاهدې له عنصر سره تړاو لري چې په اسلام کې داريايانو دورځ په ورځ زياتيدونکي نفوذ څخه عبارت دی چې تصوف ته يې لاره پيدا کړي ده ))[27]
همدارنگه پطروشوفسکي ديو بل ختيز پيژندونکی او اسلام پوه دنظرياتو يادونه کوي وايي:
((ای. گولدتسهر په لږ بدلون سره دکرمر نظر مني اووړانديز کوي چې دتصوف له پاره دوه عنصره بايد ومنو: يو ((زهد )) اوبل ((عرفان )) په خاص ډول. دگولدتسهر په وينا دتصوف زاهدانه عنصر يوازې اسلام ته نږدی دی اودهغه سرچينه دشرقي مسيحيانو درهبانيت نفوذ و ،حال دا چې عرفاني تصوف په عقلي فلسفه اواستنتاج ولاړ دی. يعنې په لومړي سر کې په نو

[26] اسلام در ايران .پطروشوفسکي .۳۳۲مخ
[27] پطروشوفسکي ۳۳۳مخ

افلاطوني فلسفه اوله هغه وروسته په بودايي فلسفه متکي و )).[28]
دتصوف په باره کې نوي نظریه چې دشلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې دنیولد نیکلسون اولوي ماسینیون له خوا رامنځ ته شوه داده چې دیادشویو پوهانو تالیفات زیات دمخکینۍ اسلام پیژندنې، په نورو پراخو اوزیاتو منابعو اومتونو استناد کوي. یاد شویو څیړونکو تصوف له هغو لارو چارو څخه چې له بهر راوړل شویدي اوله اسلام سره یې پیوند خوړلی ،اړوند نه بولي بلکې بر عکس بیله پدیده یې بولي چې په اسلام کې را منځ ته شویده. نو دا نظریه باید اسلامي وبولو. ر. نیکلسون باور لري چې عرفان دزاهدانه تمایلاتو طبیعي اوتکاملي بهیر و چې په لومړۍ هجري پیړۍ کې په اسلام کې رامنځ ته شو. نیکلسون دمسیحي زهد نه منکر دی وايي چې مسیحي زهدډیر کم اغیز هم نه درلود. خو په دې باور لري چې صوفیانه زهد په کلي توگه او هغه عرفان چې له صوفیانه زهد نه را پیدا شوي داسې پدیده ده چې اسلامي اوعقلي فلسفه اوتصوفي استنتاج دنیو افلاطونیه فلسفې داغیزوپه نتیجه کې رامنځ ته شوی دی ، چې نیو افلاطونیه پخپله دمسیحیت تراغېز لاندې بدلون موندلی دی. همدارنگه یاد پوه په دې باور لري چې د افراطي متصوفینو وحدت وجودي افکار دهندوانو دنفوذ له امله رامنځ ته شول چې وروسته یې داریایانو په وسیله عملي جنبه پیدا اوتکامل یې وکړ.
دتصوف په باره کې دصوفیانو خپله نظریه له افسانو سره گډه شویده. صوفي مولفان نه یوازې (محمد (ص) اوعلي (ع)

---

[28] همدا اثر ۳۳۳مخ

صوفيان بولي ، بلکې داسلام څخه دمخه پيغمبران لکه ابراهيم(ع)، موسی(ع) اوعيسی(ع) هم دصوفيانو په ډله کې شماري. غزالي عيسی(ع) يو تمام عيار شيخ اوصوفي اودتقليد ډيره وړ نمونه بولي. په خاص ډول حضرت خضر پيغمبر چی غالبا دالياس نبي (خضر الياس) دواړه يو ګڼي، صوفي يې بولي. اودصوفيانو په منځ کې د ((خضر)) درناوی ډير رواج دی.
که له افسانې تير شو اوتاريخ ته راشو. له تاريخي پلوه ويلې شو چې تصوف په تقريبي توګه دقدامت له لحاظه اسلام ته رسيږي نو زيات مو نه دي ويلي. زاهدي روحيي په ظاهر کې نه يوازې دځينو اصحابو لکه ابو (هريره) په افکارو کې وجود درلود. بلکې همدارنګه دقران په متن کې هم ليدل کيږي. په هر لحاظ دلومړې هجری پيړۍ په پای کې تصوف يو خاص جريان وو چې دمسلمانانو په منځ کې پرې خبرې کيدلای شي.
په اسلامي نړۍ کې دتصوف ډير ستر لاربنود اوعالم شيخ محی الدين اکبر تير شوی دی، چې موږ پرې وروسته خبرې کول غواړو
.
دپورتنيو نظرياتو په رڼا کې زياتره مستشرقين يا ختيز پيژندونکي په دې باور دي چې په اسلامي تصوف کې دوه عمده جريانونه يو له بله سره مخامخ کيږي او امتزاج پيداکوي چې يو يې ((شرقي)) اوبل يې ((غربي)) جريان دی. شرقي جريان يې هماغه دهندي اوزرتشتي مدنيت دافکارو دتلاقي يو سنتيز دی.
په لويديځ جريان کې زيات مسيحي زهد اونيو افلاطوني فلسفې دسنتيز په نتيجه کې اسلامي تصوف اوعرفان ته لار پيداکړې ده.

((شیخ اکبر)) یو هغه لانجه من شخصیت دی چې تعلیماتو یې تصوف ته نور هم عمق اوژور والی ورکړی دی. دځینو مفکریونو په باور(( شیخ اکبر)) د((مایستر اکهارت )) عیسوي راهب سره ورته اوپرتله کوي، اودواړه دفلسفې تعلیماتو څخه زیات اغیزمن بولي.
مایستر اکهارت مشهور مسیحي عارف وو ۰ دنوموړي دتفکر ډیرغوره اړخ دهغه عرفان اوبل داچې دهغه دژوند په حاضر زمان کې دلویدیځې نړۍ پوهانو دعرفان اړتیا احساسوله چې دمایستر اکهارت افکارو یې ښه نماینده ګي کوله ۰[29]
په مجموع کې دمتصوفینو دژوند طرز اوژوند توګه په لاندې مفاهیمو کې جوتولی شو:

## زهداو ریاضت

زهد په لغت کې له شیانو اعراض دی .له دې امله چې هغه کوچني بولي سجادي ددې ګړنې په تعریف کې لیکي:
((ځینې وایي درهم ودینار دي چې زهد ددرهم اودینارو ترک کول دي ،خو ځیني وایي مطعم اومشرب دي چې زهد دمطعم اومشربو ترک کول دي.
اوځیني وایي چې (( اَلْزَهْدَ تَرکَ نِعْمَتِ اَلدُنْیَا وَاَلْاَخِرَتْ )) یعنې له

[29]مایستر اکهارت: ددي پوه اوعارف له ژونده داسې بریښي چې نوموړی د۱۲۶۰ میلادي کلونو په شاوخوا کې دهو خهایم په نوم دالمان په یوه کلي کي زیږیدلي لومړنۍ زده کړې یې په لاتین ادبیاتو او هنر په برخه کې کړي اوپه پنځه لس کلنۍ کې ددومینیکن ښوونځي ته تللي دی چې په کولن کې وو ۰ هلته په لږ وخت کې دالبرت کبیر سره اشنا شوی دی ۰ بیا دنورو زده کړو له پاره پاریس ته تللي او هلته یې په الهیاتو کې له توماس اکویناس نه زده کړه کړې ده ۰ نوموړی په عیسویت کې ستر عارف پیژندل شوی اودشیخ اکبر سره پرتله کیږي ۰

دونیا او اخرت سره بې رغبته کیدل. اوویل شویدي چې زهد یعني دا چې زاهد ددونیا مالوفاتو ته پاملرنه ونه کړي ٠ اوپه اخبار کې راغلي دي چې له دونیا ځان وژغوری، چې زړه یې دالهی نور دتجلیاتو محل وگرځي .جنید وایي: زهد دادی چې له ملک نه یې لاس اوله تبع یې زړه خالي وي.))[30]

ریاضت:

(( ریاضت بل هغه مفهوم دی چې دمتصوفینو له پاره دتصوفي لاري یو اصل گڼلی شي. ریاضت دنفسیه اخلاقو تهذیب گڼلی شي اوپه لغت کې د اسونو له اهلي کولو څخه عبارت دي خو په تصوف کې ترې مراد دادی چې سالک او صوفي باید دخپل مقصود په طلب کې دنفساني سختیو له گاللو څخه دریغ ونه کړي اوهر څومره چې کولي شي خپل نفس ته زجر او کړاو ورکړي.
هر څه چې له طبع سره موافق دي ترک کړي اونفس ته داسي تمرین ورکړي چې مخالف چاري تحمل کړي.
هجویري وایي : اما ریاضت ومجاهدت جمله خلاف کردن نفس است وتا کسی نفسش را ریاضت ومجاهدت ندهد ویرا سود ندارد وهر چه نفس را گوشمال زیادت گردد سراوباحق راست گردد. ))[31]

توحید:

دمتصوفینو له پاره یو بل اساسي مفهوم چې یو بنیادي هغه دی

---

[30] فرهنگ علوم عقلي .دکتر سید جعفر سجادي .۲۸۸مخ
[31] همدا اثر ۲۸۳

له توحيد څخه عبارت دی.
توحيد په لغت کې يو کول اوله پردي والی ساتل دي. اودتوحيد علم هغه څه دي چې توحيد پرې پېژندل کيږي چې غير له خدايه نور څه حقيقي وجود نه لري اوشيان دهغه مظاهر دي اوله حدثان اوشريک نه دخدای تنزيه ده اوبالاخره په ذات اوصفاتو سره دخدای په يو والي حکم کول دي.))[32]
لنډه داچې ذاتي توحيد يعنې چې ذات يگانه وبولي اوصفات يې عين ذات وبولې، اوهغه افعال چې گويا:(( لاَمُوثِّرْ فِی الْوَجُودِ الاالله)) اوايمان يعنې چې له هغه غير اوپرته دپرستش وړ ونه بولې اوپر دې پوهه چې دا دعلم له باطن څخه وي.
چې دې ته علم يقين وايي اوبنده دذاتي علم له مخې خپل صفات اوکړنې دهغه په ذات کې ورک اومحوه وبولي ،هر ذات دهغه دذات درڼا فرع وبولي )).[33]

فنا ، فقر پالنه او توکل:
دفنا اوبقا بحث هم په اسلامي فلسفه اوعلم کلام کې ډير اوږود اوپه زړه پورې بحث دی چې دلته په دې برخه کې يوازې هغه تعريف ته چې په فرهنگونو کې راغلي بسنه کوو.
دفنا مفکوره ديوولسمې پيړۍ په دويمه نيمايي کې يعنې په پنځمه هجري پيړۍ کې رابرسيره شويده . ځيني اسلام پيژندونکي لکه گلدتسهر اوان نيکلسون فنا دبودايي نيروانا بدل شکل بولي . خو دا مالومه نه ده چې دهغه مهال صوفيان له

[32] همدا اثر ۱۸۰
[33] همدا اثر ۱۸۰

هندي فلسفي نه څومره خبر ول ٠دنیروانا اوفنا ترمنځ ورته والي دومره ژور اودقیق نه دی ٠ په واقعیت کې فنا دنیروانا سره هیڅ ورته والی نه لري ٠ فنا یعني له خدای سره فکري رابطه چې له انساني روح نه نه جلا کیدونکي ده. حال داچې بودیزم دواحد ذات نه لیرې اوجلا مسایل څیړي.

په اسلامي فرهنگ کې فنا یعني نیستي اودصوفیانو په فکر په باطن باندې دحق په ظهور سره دسالک دشعور زوال دی ٠ په اسلامي فلسفه کې فنا اونیستي مترادف کلمات گڼل شویدي ٠

همدارنگه دصوفیانو په افکارو کې دفقر پالنې اوتوکل گرنې هم کارول کیږي ٠

(( په همدې اساس دفقر پرستۍ کیت دیو مطلوب کمال په توگه ( چې دروح نجات تامینوي )) په تصوف کې رامنځ ته شویدي، ان یوه ځانگړنه دزهد پیشه صوفیانو دتصوف په لومړي دوران کې همدغه دتبلیغ داصل مفکوره وه .(( له دونیا لاس وینځل )) کیداې شي لاس وینځل له دونیا لاس په سر کیدلو اوپه اختیاري توگه دفقر منلو په مانا وي اوپه دې اړوند دتوکل اصل هم (( عربي به معنې امید واري )) از وکل به معنی (( به کسی امید داشتن ) ) رامنځ ته شوه.

دتوکل اصل له دې څخه عبارت دی، چې یو شخص کاملا په خدای امید ولري رزق مقسوم نه وي. یوه ورځ پوښتنه کوي دا ځکه چې دپیسو پس انداز یا اذوقه د((توکل )) داصل نقض گڼل کیږي . ای ,.. گولد تسهر وایي (( دا خبره دپام وړ ده چې دصوفیانو په زاهدانه خبرو کې غالبا دانجیل داسې کلمات چې

وايي دهوا مرغان چې نه کشت کوي اونه لَوْ کوي اونه خو په انبارونو کې څه شی ذخیره کوي خواسماني پلار دهغوی پالنه اوروزنه کوي،تقریبا کلمه په کلمه را نقل کړې ده.
چې توکل په دې برخه کې ډیر مهم مقام نیسي.))[34]
خو اوس ددې له پاره چې په اسلامي فرهنګ کې دتصوف اوعرفان ریښې اوسرچینې را وسپړو لومړیو صوفیانو ته مراجعه کوو اوبیا لږ څه په مفصله توګه دشیخ اکبر په باب خبرې کوو.
ب: په اسلامي نړۍ کې د تصوف او عرفان فلسفي بنیاد
په دې برخه کې اړینه بریښي چې په اسلامي تصوف کې فلسفي اغیز ته لږه اشاره وکړو. لویدیځ څېړونکي په دې باور دي چې په اسلامي مدنیت کې کوم ځانګړي فلسفي پوهه نشته بلکې هغه څه چې رواج شویدي هغه دیوناني فلسفي پوهنو اغیز دی. چې دیوناني فلسفي اثارو دژباړي له لاري دود شویدي. یوناني فلاسفه په تیره ارسطو دلومړي ښوونکي په نوم مشهور دي. اوزیاتره اسلامي عالمانو دهغه اثار شرح کړیدي. خو کله ناکله علم کلام ته هم فلسفي پوهه ویلي شویده. په اسلامي فرهنګ کې بیلابیلي هغه ډلي چې دمتکلمینو پوري یې اړه درلوده لکه جبریه، صفاتیه، معتزله، باطنیه او اشعریه هم ددي فلسفي تګ لاري پیروان بلل شوید.
دفلسفي له تاریخ نه جوتیږي چې هغه لومړنۍ فلسفه چې اسلامي عالمان ورسره اشنا شول نیو افلاطوني فلسفه ده. چې په هغه مهال په شام کې دسریانیانو په منځ کې رواج وه. دې فلسفي ددین

---

[34] پطروشوفسکي ۳۳۶

اومذهب سره دسازش او انطباق خاص استعداد درلود.
دنیو افلاطونیانو یو مهم اثر هغه لیکني دي چې په ناسمه توګه دیونیزیوس ته چې دبولس رسول شاګرد دی منسوبې شویدي. خو په واقعیت کې هغه دنوي افلاطوني لاري دیو پیرو کار دي چې استفن بارسودایلي سوري نومېږي او په پنځمه میلادي پیړۍ کې معروف او مشهور وو.
داستفن کتاب پنځه برخې لري چې په هغه کې راغلي دي چې دونیا دخالص خیر نه صادره شوې ده اوبیا مقامات تشریح کوي چې دانسان عقل اوذهن باید له هغه تیر شي چې له خداې سره وصل شي اوبالاخره انسان ((الکل في الکل )) مقام ته رسیږي.
دکتاب بله محتوا داده چې په ابتدا کې محض اوخالص وجود یعني صرف هستي وه چې دونیا ، روح اوماده ټول له هغه صادر شویدي.
داکتاب چې په لاتین ژباړل شوی په لویدیځ کې په منځنیو پیړیو کې دتصوف اوعرفان اساس وو اوبیا یې په شرق کې هم نفوذ وکړ.
نیو افلاطونیزم یا داسکندریې افلاطوني فلسفي ښوونځې اسلامي تصوف ته هماغه رنګ ورکړ چې دمخه یې مسیحیت ته ورکړي وو. وروسته هغه کسانو چې په اسلامي فلسفه کې یې زیات اغیز درلود یو سرّي یا پټ ډوله جماعت وو چې په ((اخوان الصفا )) یادیدل اودڅلورمې هجري پیړۍ په نیمایي کې یې په بصره کې مرکز درلود.
هغوې ادعا کوله چې غواړي شریعت دجهالت اوضلالت نه پاک

کړي. اخوان الصفا عقیده درلوده چې کله یوناني فسلفه اواسلامي شریعت سره ګډ شي نو کمال به ترې ترلاسه شي.
په دې لړ کې باید اسکندریه ددین اوفلسفي دامتزاج مرکز وبلل شي .داځکه چې هلته شرق اوغرب له یوه بله سره تماس پیدا کړ. یوناني روح دشرق روح سره ګډ شو .یوناني روح دذکاء اودقت اوحسن نظر اوروښانه قریحې اوله شرقي روح سره چې فطرتا دماوراء شهود عالم اومشاهدې ته مایل دي ،یو ځای شو اوپه نتیجه کې دنویو افلاطونیانو نوي مذهبونه اودافلاطون دحکمت اویهودې دیانت امتزاج رامنځ ته شو چې دیهودي فیلون طریقې په نوم طریقه یې رامنځ ته کړه.[35]
پاتې دې نه وي چې شرقي فرهنګ اومدنیت فطرتادمعنویت پسې تللې، عالم غیب اوخارق العاده عادات چې طبعا دتصوف اودیانت سره سر خوري ، په شرق کې یې ژوره زمینه درلوده. په داسي حال کې چې دلرغوني یونان دژورو بحثونو له لاري دحقیقت په لټه کې دی اوهیڅ ډول د پټو سترګو دتقلید تابع نه دی اونه ورته مقید دی. یعنې شرق داحساساتو اویوناني تفکر دمنطقي تحلیل تابع دي. په نو افلاطونیه فلسفه کې دا دواړه شیان ګډ شویدي اوپه لومړي میلادي پیړۍ کې په اسکندریه کې ددغه فکري امتزاج له امله یو ډول خاص تفکر رامنځ ته شو.[36]
دغه فکري جریان چې دشرقي اوغربي جریان دیو ځای کیدو دتمایل په نتیجه کې رامنځ ته شو نو نیو افلاطوني فلسفي دوه بیلابیل رنګونه پیدا کړل .په نتیجه کې دوه ډلي رامنځ ته شوې.

---

[35] تاریخ تصوف درایران قاسم غني ۱۰۱ مخ
[36] تاریخ تصوف درایران قاسم غني ۱۰۱ مخ

په یوې ډلې د تصوف او عرفان رنګ غالب او په بله ډله کې د علمي بحث رنګ غالب وو. په دې مانا چې په یوه ډله کې دین اصل او فلسفه فرع وه او په بله کې بر عکس وو.
بله ډېره مهمه خبره د فلوطین په تګ لاره کې وجودي وحدت دی. چې کیدای شي په دې عبارت تعبیر شي چې وایي: حقیقت یو دی اودوجود منشا هماغه واحد حقیقت دی ټول موجودات هغه تراوش یا زیږنده ده چې د احدیت له مبدا ترسره کیږي. د تجلي، فیضان اوانبعاث(استولو ) له لارې صادرېږي اوټول شیان درجوع په طریق هماغه مبدا ته ورګرځي.
په مسلمانانو کې د فلوطین د افکارو خپریدل اودنو افلاطوني فلسفي پیدا ایښت له هر څه زیات په تصوف او عرفان کې اغیزمن وو. په دې مانا چې تصوف تر هغه وخته عملي زهد وو چې له هغه وروسته یې نظري او علمي اساس پیدا کړ.
کله چې نیو افلاطوني افکار ګورو وینو چې زاهد صوفي له پاره چې له دونیا اوهرڅه چې دي هغه فاني دي، نو زړه ترې شلوي اوترې لاس پر سر کیږي اوهغه څه چې ابدي دي نو زړه ورپورې تړي. په دې اساس د فلوطین فلسفي ته ډیر خوشباوره دی خو په نهایت کې د هغه په افکارو کې خپلې هیلې ګوري.
دوحدت وجود مساله په نیو افلاطوني افکارو کې له هر څه زیات دصوفیانو دعلاقې وړ مساله ده دا ځکه چې وجودي وحدت ټول کاینات دقدرت آینه بولي اوهر موجود دهغو په باور داسې یوه آینه ده چې خدای په کې ځلیږي. دا ټول ظواهر اوښکارندې دي اومطلقه هستی اوحقیقي وجود خدای دی. انسان باید هڅه

وکړي چې پردې وشلوي اوځان دحقیقي جمال بشپړه جلوه وګرځوي اوابدي سعادت ته ورسیږي. سالک باید دعشق په وزرو ځان ازاد کړي اوپه خدای کې چې حقیقي وجود دی ځان فاني اومحو کړي.

یو ډیر مهم عنصر چې تصوف دنو افلاطوني فسلفي څخه را اخیستی دی اوپه هغه کې یې زیات بحث کړی دی. هغه دخدای سره دعشق مساله ده. صوفي دا عشق دخپل ټول جدو جهد مدار بولي. اونور شیان لکه زهد ،ذکر، اوریاضت اومقامات ددې بنسټ تابع ګڼي.

صوفي غواړي دعشق په وزرو خدای ته ځان ورسوي. په دې اساس تصوف له فلسفي لوړ اوبرتره بولي، دا ځکه چې دفلسفي نهایي هدف اودحکمت کمال مطلوب دادی چې انسان خدای ته ورته اودخیر کمال اوجمال وګرځي په داسې حال کې چې تصوف غواړي انسان په خپل الهي ذات کې محو اوفاني شي اوپه دې فنا کې خدای شي.

په تصوف کې ددې ډول افکارو پیدایښت په سیده توګه داسلامي توحید سره مخالفت دی.ځکه نو صوفیه دتکفیر موجب ګرځیدلي دي اوژوند پرې سخت شویدی .له یوې خوا یې دقران تفسیر اوتاویل ته لاس اچولي دی اوله بلي خوا یې په رمز اواسرارو باندې تکیه کړې اوځان یې دعرفاني حقایقو په څرګندولو اوتعبیراتو باندې مقید کړی دی. په دې مانا چې په پرده کې خبري کوي اوکلمات په مجازي مانا اویا په لیرې مجاز ي مانا کاروي اوصوفیان پټې خولي ساتلو ته رابولي.

### داسلامي عرفان او تصوف پیلامه:

داسمه ده چې اسلامي تصوف په عربي چاپیریال کې رامنځ ته شو، خو په عربستان کې چې د اسلام دظهور مرکز دی نه بلکې په سوریه، عراق او مصر کی یې وده وکړه.

رابعه عدویه (متوفي په کال **۱۳۵** هجري ) چې دیو شمیر زاهدو مسلمانو میرمنو مشرتوب یې درلود په بصره کې یې ژوند کاوه او دعاشقانه اشعارو په هستولو چې لوی خدای ته په خطاب مشهور ول دتصوفي اوعرفاني افکارو دپیلامې اوودې سبب شول. په خاص ډول دا لاندې کلمات هغې ته منسوب دي. ((په خدای چې دعشق اور زړه سیزي)). خو دې هیجان اوحرارت په نارینه وو کې هم ډیر پلویان پیدا کړل )).[37]

په همدغه حالاتو کې زیاتره فقیهانو دزهد اوعرفان سره سخته دښمني اومخالفت کاوه. دزهد ضد روحیه په خاصه توګه په لومړیو اسلامي پیړیو کې داموینو ددستګاه په چارواکو کې رواج وه. ا.ی. ګولد تسهر او ا .لامنس دهغه ستر ثروت په باب چې اعرابو په جهاد کې د ګډون اوبرخې اخیستنې له لارې ترلاسه کړي وو ،خبرې کړي دي .داعرابو ستر فتوحات اودغنیمت په نوم دسترو جنګي غنایمو تر لاسه کولو د اخلاقي اساساتو له مخې دثروت ټولولومفکوره رامنځ ته کړه .ثرګنده ده چې دثروت دتوجیه مفکوره له دیني پلوه دهغه عرب لویانو له خوا ملاتړ کیده چې کرار کرار په فیودالانو بدلیدل . خو ان د عادي

---

[37] تاریخ تصوف در ایران قاسم غني ۱۰۱ مخ

مجاهدانو په منځ کې هم دغه تگ لاره ددیني اساساتو له مخې دجنگې غنایمو دترلاسه کولو اودثروت دراټولولو سره مخالفت نه کیده بلکې رواعمل بلل کیده. همدارنگه دقران دتقدیس اوتصدیق له لارې هم روا بلل کیده.دا چاره ددې سبب شوه چې د ( اتمه سوره )له مخې ددوی په منځ کې په یو شمیر کسانو کې دزهد روحیه پیاوړې شي . زاهد پیشه مسلمانانو ددې روش په ځواب کې وویل چې خدای هغه کسان چې ددنیوي جیرې په خاطر په جهاد کې گډون کوي نه خوښوي. بلکې هغه کسان ورته نږدې دي اوخوښوي یې چې داخیرت دژوندانه له پاره په جهاد کې گډون کوي.

ددویمي اودریمو هجري پیړیو په جریان کې ددوه تنو صوفیانو نومونه ډیر مشهور دي. یو ابراهیم ادهم بلخي –( متوفی په ۱۲۰ هجري ) اوبل بشرالحا فی ( حافي غربي، یا پای لوڅ ) چې اصلا دمروه اوسیدونکی وو ( ۱۵۰ نه تر ۲۱۲ هجري ) خو ددی دواړه کسانو دعمل دایره دمنځنۍ اسیا څخه بهر وه. په دې مانا چې لومړنی په سوریه کې اودویم په بغداد کې فعالیت کاوه. اوپه دې ترڅ کې ددواړو په باره کې یوازې ځینې خیالي کیسې موږ ته رارسیدلې دي.

په دریمه اوڅلورمه هجري پیړۍ کې تصوف په ایران کې رواج وموند، دافغانستان یوه برخه یا خراسان دصوفیگرۍ یو اصلي مرکزوو.

(( له یوې خوا په صوفیانو کې دصوفیانه زهد ډلې اعمال اوتشریحات دذکر په شکل ((دیادوني اویادونو په مانا و )). له

ذکر یا یادولو نه مطلب په اصطلاحي مانا دخدای یادول وو .دا ېادونه په مشخصو اوټاکلو کلماتو سره. یو ځای اوپه جگ اواز سره اویا په ورو سره،په زړه کې د خاصې دوعا په بڼه تر سره کیدله . اوله بلې خوا په دې کې شک نه وو چې دنو افلاطوني فلسفې عناصر چې وروستیو ناقلانو رانقل کړي وو اوهدف یې دا وو چې نو افلاطوني فلسفه دمسیحیت له روح سره عیاره کړي اغیز یې هم په کې لیدل کیږي . ددې ډلې صوفیانو لږو ډیر د وحدت داصل په لور تمایل درلود اوهغه یې په عرفاني صورت درک کړل چې تر اوسه د تدوین شویو اومنظمواوبشپړو تعالیمو په بڼه منځ ته نه دي راغلي )).[38]

ددویمي اوڅلورمې هجرې پیړیو په دوران کې په ترتیب سره منفرد صوفیان چې په تمرین اومراقبه، زهد اوعرفان اخته وو اوپه عین حال کې دخپلو دایمي مشاغلو لکه کوچنۍ کسب گرۍ اوکوچنۍ معاملو اوراکړې ورکړې څخه لاس پر سر نه وو ،رامنځ ته شول. همدارنگه دحرفه یې اوگدا(خیرات ټولوونکو ) ډوله صوفیانو یادونه هم شویده .په دې مانا چې په هغه وخت کې چې زموږ دوخت په څیر دوی دفقیر ( عربي کې دبیوزلي په مانا دي اوله فقر چې دبیوزلي په مانا ده اوپه مترادف لغت سره په فارسي کې ددرویش په نوم یادیږي. درویش په خاص اومحدود ه مانا (( زاهد ،عارف )) هغه سوالگر ته هم وایي چې خصوصي ملکیت ونه لري، کډوال وي اویا په خانقاه کې اوددرویشانوپه کنج (زاویه )کې ژوند کوي .په پښتو ادبیاتو اوفرهنگ کې هم فقیر

---

38 همدا اثر ۳۴۵ مخ

کاروَل کیږي او دملنګ کلیمه هم په دې مانا راوړل کیږي.
خو ددرویش اوفقیر کلمات په پراخه مانا دصوفي سره مترادف استعمال شوې ده.
((شیخ سري السقطی صوفیانو ته په خطاب کې وویل: پسرلی راغی اوونو دپاڼو جامه واغوستله. تاسو باید دنړۍ په سیل پیل کړئ. )) ! (( ګرځنده درویشانو خیرات ټولول کاملاً مشروع اوان دروح دنمو اوعلو له پاره ګټه ور بلل ( داځکه چې لازمه وه چې غرور او ځان غوښتنه په خپل نهاد اوبطن کې ووژني ) په دې شرط چې یوازې داړتیا په اندازه یوازې یوه ورځ سوال وکړي. خو دخانقاه دمعیشتي چارو عامل حق درلود چې ددرویشانو له پاره د صوفیانو په هغه شریک کور کې ژوند کولو کې دراتلونکي له پاره هم صدقه وغواړي. اواذوقه اودسوخت مواد ذخیره کړي ))[39]
درویشانو په خانقاه ووکې هم دتن یعنې هغه څه چې دمسیحیانو په نسبت دصومعې اودبودایانو دزاهد ډوله تنفر په څیر روح اومعنویت ته ارزښت ورکولو .روایت دی چې بایزید بسطامي خپل تن ته په خطاب کې ویل: نه،نه، ای دټولو بدیو ظرفه ! ای پلیده تنه دیرش کاله تیر شول اوته پاک نه شوې اوسبا باید دهغه څه په وړاندې چې پاک اوسپیڅلي دي ( خدای ) ظاهر شې.
په هر حال تصوف په بیلابیلو لارو دټولو درویشانو ګډه عقیده وه. شیخ ابوالحسن خرقاني ددې سوال په ځواب کې چې درویشي څه ده وویل: ددرې چینو یو سیند دی یو پرهیز، دوم سخاوت، دریم دخدای له خلکو بې نیازي. د(( دخدای له خلکو بې نیازه

---

[39] همدا اثر ۳۴۵مخ

والي )) مفهوم دهغه په نظر (( دخدای له خلکو )) داوه چې صوفي نه باید په انسانانو کې له چا سره له زړه نه تړون ولري اومینه پیداکړي. دا ځکه دهغه زړه باید دیو عشق نه ډک وي، دخدای سره عشق. یوائیني دوست ( یار،دوست ) یعنې خدای عزوجل )).[40]

(( تصوف په بیلابیلو طریقو سره دمختلفو مراحلو اصلي ((روحاني کمال)) دی چې غالبا مقامات ورته ویل کیږي. په عربي ژبه کې مقامات دمقام جمع ده چې لغوي مانا یې داقامت ځای ،وضع اودپاتې کیدو اودریدلو محل دی. اواصطلاحاً داقامت ځای یا منزل (مرحله ) دعرفان په طریق کې ((قام)) دپاخیدلو په مانا اقدام کول اونورو ډولونو په توګه.. تکامل وموند. مقاماتو په تصوف کې په بیلابیلو طریقو کې بیلابیلي ماناوې خپلې کړې . چې په عمده توګه دڅلورو پړاوونو یا مقامونو یادونه کوي. ۱.شریعت، ۲. طریقت، ۳. معرفت، ۴. حقیقت ))

له څیړنو مالومیږي چې دفنا فکر د یولسمې میلادې پیړۍ له دویمي نیمایي یا (پنځمې هجري ) پیړۍ کې رامنځ ته شو. ځینو اسلام پیژندونکو ( په خاص ډول ګولدتسهر اوان نیکلسون فنا دبودایي ((نیروانا )) یوبدیل شکل بولي، لکه چې دمخه هم ورته اشاره وشوه . له دې پرته صوفي مولفان د هغه دوران څخه ډیر لږ خبر دي اودهندي فلسفې اوپه خاص ډول له بودایي کیش څخه پوره واقف نه دي .خو دپطروشوفسکي په قول دنیروانا اوفنا ترمنځ ورته والی سطحي دی، په واقعیت کې فنا هیڅ دنیروانا

---

40 همدا اثر ۳۴۶ مخ

سره ګډې وجهې نه لري. داسمه ده خو دیو انساني فکر په توګه چې دانسانانو له خوا ددوې په ټولنیز اوفرهنګي ژوند کې رامنځ ته شوی دی، په عامه سطحه کې مشترک وجوهات لري. اودګډو ټکو نه یې انکار نه شي کیدلای.

سره له دې چې فنا دصوفیانو په بیلابیلو طریقو کې بیلابیل مفاهیم لري. خو کولی شو چې دوه کلي او اصلي ډولونو ته اشاره وکړو: یو توحیدي صورت چې دمنځ مهاله صوفیانو پورې اړه لري اوبل وحدت وجودي صورت دی چې دافراطي صوفیانو نظر دی. په لومړي مورد کې د((فنا)) کلمه دداسې یو حالت څرګندوی ده چې په هغه کې روح دمحسوساتو دعالم په درک باندی خپل وس له لاسه ورکوي اوپه دې ترتیب کولي شي خدای وپیژني. له هغه سره مربوط شي. دهجویري په قول روح په دې برخه کې یوازې خپل صفات له لاسه ورکوي یعني خپل تجربي وجود یې نشت کیږي خو خپل جوهر ساتي. خپل شخصیت له لاسه نه ورکوي. له خدای سره ارتباط دلوی ذات سره دامتزاج مانا نه لري. داځکه چې دانسان طبیعت نه شي کولي په الهی طبیعت بدل شي. همدا راز (( له خدای سره دارتباط اووصل فکر د((حال )) په حالت کې د(( اشراق )) اصل رامنځ ته کړ. (( اشراق یوه عربي کلمه ده چې لغوي مانا یې ((ځلیدل )) دي. له (( شرق)) څخه چې یوه مانا یې ((ځلیدل)) دي. دغه اصل ځینو اشراقي حکیمانو له هغه جملې شیخ یحیی سهروردي یا شیخ اشراق چې په ۵۸۷ کال کې دارتداد په تور اعدام او د((مقتول)) په لقب یاد شو ؛تدوین شوی دی. هغه رواني پدیده چې ل. ماسینیون مطالعه کړې ده اوشطح

نومېږي ( یعنې دخپل من څخه خارجیدل ) ) نومېږي. عربي کلمه ده په لغوي مانا یعنې بهر کیدل اودخپل من څخه دخروج مانا او(٠ بیهوشه کیدلو ) ) مانا هم لري. دشطح مانا (( تلل، لاره غلطول ) ) په حال کې داصل (( اواشراق ) ) پورې اړه لري. په دې حالت کې کله چې صوفي په حال کې وي اودخپل ((من ) ) تعارف اوپیژندنه له لاسه ورکوي. یعنې چې له خدای یا (( دوست )) سره دنده بدلوي ،دهغه له خوا خبري کوي مثلا روایت دی: چې شیخ بایزید بسطامي هغه کسانو ته چې له هغه به یې پوښتل (( په کور کې دی اوکنه ) ) ویل یې : ددې سقف لاندې له خدای پرته بل څوک نشته. ) ) منصور حلاج په دې تورن وو چې د((حال ) ) په حالت کې یې (( انّا الْحَقْ وویل ) ) ( یعنې ((زه حق یم ) اوله دې امله ووژل شو. ) )

# شیخ محی الدین ابن عربي

مشهور په شیخ اکبر
دبایزید روښان اویا دروښانیانو دفکرې لیدتوګې دپیژندلو له پاره به دا بې ځایه نه وي چې دتصوف اوعرفان دیو کلاسیک شخصیت یو څه پیژند ګلوي اودهغه دفکري نړۍ پیژندنه وشي.
په اسلامي نړۍ کې یو هغه مسهور اوجنجالي شخصیت ابن عربي دي چې تل دبحث موضوع وه اوده. شیخ محی الدین عربي چې په شیخ اکبر هم مشهور دی دا سلامي تصوفي افکارو له یو هغه سترو سرلارو څخه دی چې تل پرې خبر ې او استناد کیږي. یا په بل عبارت کله چې په تصوف اوعرفان خبري کیږي، امکان نه لري چې دشیخ اکبر په باب خبرې راولاړې نه شي. یاد پوه اوعالم په اسلامي تصوف اوفلسفه کې دډیرو وتلو اثارو څښتن دی.
دوحدت الوجود دمفکوري نسبت په واقعیت کې همده ته کیږي.
زموږ دبحث له موضوع چې د پښتنوفرهنګ کې د عرفان اواسلامي فلسفي افکارو څرک لګوو نو پر دغه فکري بهیر باندې دشیخ اکبر سیوري مالومیږي.

ابن عربي په ۵۶۰ هجري کال دروژي په ۱۷نیټه یعنې د ۱۱۶۵ کال د جون په ۲۸ دمرسیه په ښار کې چې داسپانیا په جنوب شرق کې واقع دی ،دونیا ته راغلی دی. دهغه نسبت دحاتم طایي سره دا څرګندوي چې نوموړی دپخوانۍ عربې قبیلي سره چې (طی ) په نوم مشهور و ، نسبت درلود. همدغه تاریخي واقعیت دا هم په

گوته کوي چې دځینو څیړونکو دګومان برخلاف اسلامي عرفان یوازې اریایي یا ایراني مفکوره نه ده. هغه دداسې کورنۍ پورې مربوط و چې په زهد اوتقوی مشهوره وه. دهغه پلار اودوه ترونه هم مشهورصوفیان ول.

((په۵۹۰ یا ۱۱۹۴ کال کې یې مدینه فارس اومراکش ته سفر وکړ. په ۳۸ کلنۍ کې یې یعنې په۵۸۹یا ۱۱۹۳ کال دیعقوب بن یوسف بن عبدالمومن چې دافریقا اواندلس سلطان وو، په دوران کې دشرق په لور حرکت وکړ. په ظاهره کې خو دهغه نیت حج و. خو کیدای شي چې دهغه اصلي هدف داوو چې داسې ځای اواستوګنځای دځان له پاره غوره کړي چې له مغرب څخه ډیر لیرې وي . داځکه چې په دغه وخت کې په مغرب کې سخته ګډوډي اواړو دوړ و. دهغه ځای دیني اوسیاسي چاپیریال ډیر خفه کوونکی و. تنګ نظرو فقیهانو اومستبدو حاکمانو داسې کسانو لکه ابن عربي ته په شک کتل.[41]

له بلې خوا په شرقي اسلامي نړۍ کې دمخالفو رایو اونظریاتو په وړاندې یوڅه سهولت اواسانۍ وې اودنویو افکارو اونهضتونو دمنلو په وړاندې زیات چمتووالی موجود وو. پر دې سربیره بیاهم نه شویلای چې ټول شرق دا ځانګړنه درلوده. دا ځکه کله چې ابن عربي په ۵۹۸ یا ۱۲۰۱ کې مصر ته ولاړ، دهغه ځای خلکو ورسره ښه چلند ونه کړ. اوان دوژلو نیت یې ورته کړي وو.

په ټول اسلامي تاریخ کې داسې بل مثال ډیر لږ لیدل شوی دی چې دهغه ایمان دې تردی حده دخبرو اترو موضوع ګرزیدلي وي.

---

[41] محمد شریف . تاریخ فلسفه دراسلام. ج اول. ۵۶۳مخ

دابن عربي ددیانت پر سر مجادله تر ډیره وخته روانه وه اوپیړۍ پیړۍ یې دمسلمانانو ذهنونه مشغول کړي و، ان تر دې چې ویلای شو چې ددغه مجادلاتو اثار اوس هم تر سترګو کیږي.
اسلامي عالمانو په تیر وخت کې دهغه تصوف اوعرفان ته دومره زیاته علاقه نه ښکاره کوله.ددغه پوهانو پاملرنه زیاتره په دې متمرکزه وه چې دهغه رای اونظریات او عرفاني عقاید تر کومه حده داسلامي اصولو سره موافق او یا منافي ثابت کړي. ددې پر ځای چې په دقیق اوعادلانه توګه دهغه رای اونظریات دپام لاندې ونیسي.
ځینې پوهان ابن عربې ستر اسلامي شخصیت او یو ستر مولف اوستر عارف بولي اویو شمیر نور بیا هغه یو مبتدع اوشیاد بولي. ښایې ددې کار سبب به دهغه داثاروخاص سبک وي، دهغه داثارو دکلماتو ابهام دافکارو تعقید دهغه نظریات په خاصه توګه هغه کسان چې دنوموړي داثارو دپیچلوالي سره بلدتیا ونه لري هغو ته سخت اوتقریبا غیر قابل قبول ګڼل کیږي ))[42]
ویلیم چیتک لیکي: (( پخوانو مستشرقینو په ډیرو دلایلو سره په ابن عربي سترګې پټولي یو مهم دلیل دا هم وو. چې دهغه اثار ودومره ستر حجم درلود اوډیر پیچلي وو چې که یو چا به دا تمایل درلود چې هغه مطالعه کړي نو څو کاله وخت به یې نیولو.
دویم دلیل داوو چې زیاتره مستشرقینو بشپړ باور درلود چې نوی علمي متودونو دهر څه په باب هغه ته ډیر عالې پوهه ورکړې

[42]-ایلیام چیتک .ترجمه ای قاسم کاکا يي .عوالم خیال ابن عربي ومساله اختلاف ادیان. ۳مخ
۲-دابن عربي په نظر واهمه یعنې په زړه کې څه تیریدل، فکر کول انګیرل ناسم تصور ،هغه څه چې په خاطر کې تیریږي، په غیر محسوسو جزیي چارو حکم کول ،داوهامو جمع ،خیال اوتخیل ) (فرهنګ جامع اصطلاحات عرفاني ابن عربي ص ۱۱۴۳

ده. نو په دې اساس ځان په حقه بولي چې هرڅه چې له (واهمه )[43] سره جوړښت ونه لري نو دبې ترتيبه اوناوړه اوخرافي په نوم يي يوې خواته ږدي او ابن عربي هم هيڅکله دغه ډول سازش اوجوړ جاړي له هغو سره نه درلود ))[44].

په ظاهر کې د ابن عربی دعقايدو په باب بحث اوجدل هغه مهال پيل شو چې يو شخص دجمال الدين ابن الخياط يمنی له اسلامي عالمانو سر ه يو ځاي شو چې هغوی د ابن عربې په باره کې چې دفيروز ابادي په روايت هغه يې په بدعت اودامت داجماع پر خلاف په کړنې تورن کړی و. فتوی ورکړي. هغه عکس العمل چې عالمانو دغه فتوی اوشرعي حکم ته وښوده ډير توپير درلود ځينو عالمانو ابن عربې په صراحت سره محکوم کړ اونور عالمان په ډير شور اوخاص اشتياق اواړتيا سره دهغه نه په دفاع کې شول.

دهغه سرسخته دوښمن ابن فارض اوډير بې شرمه مخالف برهان الدين ابراهيم البقاعي ۰ ( ۸۵۸ ) چې دوه بشپړ کتابونه يې دده دعقايدو درد له پاره وليکل اوان دنوموړي په شخصې ځانګړنو يې هم صرفه ونه کړه. په يوه کتاب کې چې تنبيه البغی علی تکفير ابن عربی ) کې داسې وايي:

((نوموړی په ايمان باندې په تظاهر کولو سره ټولومومنانو ته دوکه ورکړه . اودخپل ايمان په ځمکه ودريد. اوورور ورو يې هغوی يوې داسې لاري ته برابر کړل چې تيريدل ترې سخت وو. په چل اودوکې سره يې هغه ځای ته چې مسالي سختيږي نو ورته

---

[44] تاريخ فلسفه اسلامي ۵۷۱ مخ

کمین نیسي او خلک پر دغه کمین برابروي .هغه دخلکو په گمراه کولو کې ستر هنرمند دی .سم نبوي احادیث روایت کوي اوبیا هغه په عجیب اومرموز ډول سره پیچي. په دې اساس هغه تیروتی مریدان خپل هدف ته چې دهر ډول دین سرچپه کول دي، برابروي. ددغه ډول عقایدو باوري کسان په ظاهر کې ځانونه دشریعت دظواهرولکه لمونځ اوروژه شاته پټوي .دوې په خرقه کې زاهدان او راهبان دي خو په حقیقت کې ملحد ،زندیق اودبدعت پلویان دي .خو دصوفي نوم یې پر ځان ایښی دی ))

څه چې پورته وویل شول دابن عربي دیوه مخالف یو نظر دی خو خپله ابن عربي څه وایي:

((هر نوم چې اخلم دهغه کنایه ده، اوپه هره لاره چې ژړا پیل کوم دهغه لاره اوکوڅه ده. ،، هغه څه چې په دې کتاب کې مې په نظم راوړي دي، دالهی وارداتو اوروحاني منزلاتو اوعلوي اړیکو ته اشاره ده، چې زما پر زړه نازل شوي دي. ددې دیوان لوستونکي د مخکینیو چارو په باره کې له پوهیدو څخه چې شریفو کسانو اودعالي همت خښتنانو چې په علوي چارو یې پام دی، ددې وړ نه دي چې دا په یادو یاد کړي. ))[45]

هغه داسې ییښې هم رانقلوي چې په هغو کې حضرت رسول (ص) هغه ته یو کتاب لکه فصوص الحکم ورکړ اوداسې یې وفرمایل.(( اَخَذَه وَاَخْرَجَ بِهَالِی النَاسْ ینتفِعوُنَ بِه )). دا واخله اوخلکو ته یې وښایه چې گټه ترې واخلي، نوموړي دا پیښه الهی وحی اوالهام اورباني القا بولي اومدعي دی چې زیاتره کتابونه په دی ډول هغه

---

[45] تاریخ فلسفه اسلامي ۵۶۷

ته القا شويدي.))
نومړی وايي هر څه چې زه په خپلو تصانيفو کې ليکم دفکر انديشی اوروايت له مخې نه دي، بلکې دداسې روح له وجهې دي چې دالهام پربنتې زماپه زړه اوسر کې پوه کړي دي. اوپه يو بل ځای کې وايي: هر هغه څه چې ما کښلي اوليکم يې الهی املا اورباني القا ده. يا داسې روحاني نفخه ده چې زما په کياني زړه کې ايجاد شوي ده. دا هر څه دخپل نبوی ميراث په حکم دي، نه دفکري استقلال په حکم.
دابن عربي په عقيده کشف اووحی دانسان فعاليت دی، کله چې دهغه ټولې روحانې قواوي اماده شي اودمطلوب رامنځ ته کيدو ته متوجه شي. وحی اوکشف له دې وروسته ديو خارجي فاعل اويا دانسان دذهن دفعاليت حاصل زموږ په نزد دپوهي وړ شی نه دی. په دې اساس هغه څه چې ديو ((بيروني متعلق)) په ډول په نظر راځي نودکشف اوداعيانو خاوندانو ته القا کوي .په حقيقت کې پخپله دکشف خاوند ته ديو ډول ذات دالقا څخه پرته بل څه نه دي.
دسليمان الوداع په نوم يو پوه دابن عربي په اړوند وايي چې هغه به هر وخت په ذکر اوعبادت مشغول وو. اوپه خلوت کې به يې فکر کاوه. نومړي باور درلود چې يوازې دکشف اوالهام له لارې کيدای شي په الهي حقايقو باندې پوهه تر لاسه شي .
نومړی دابن عربي دفتوحاتو(داثر نوم دی ) په حواله ليکي:
(( کورته په لار کې ديو سړي سره چې نه مې پيژانده مخامخ شوم. نومړي پس له هغه چې په مهربانۍ يې سلام راکړ وويل: ای

محمد ه ! دشيخ عريني خبره په دې مساله کې ومنه. اوزما دبحث ور شيخ نوم يې واخيست. زه دهغه په مقصد پوه شوم اوبې له ځنډه مې ورته وويل په سترګو !اوډير ژر دمطلب داظهار له پاره شيخ ته ولاړم. کله چې هغه ته ورسيدم ،هغه وويل: اى محمده داسې نه کيږي چې زه يوه مساله تاته ووايم اوته يې ونه مني تر هغو چې حضرت خضر تاته خبرداري درکړي، داسې نه کيږي اودا امکان نه لري چې ټول مسايل حضرت خضر تاته ووايي .(له شيخ نه مې بخښنه وغوښته اوداسي پوه شوم چې هماغه سړى خضر وو ).[46]

ګورو چې روښانيان هم په دى باور لري چې پير روښان دحضرت خضر په لارښوونه دخلکو لارښوونه پيل کړه اوپه حالنامه کې دا بحث په تفصيل سره راغلى دى.

وايي چې ابن عربي په موصل کې ديو سړي سره چې مقري نوميده مخامخ شو نوموړي دقران حافظ او حنفي مذهب وو. ابن عربي يې استاد باله. ابن عربي په يو بل ځاى کې ليکي: ((مقري ماته وويل چې پيغمبر يې په خوب کې ليدلي دى اوپيغمبر دخوب په حالت کې هغه ته ويلي دي چې دسطرنج لوبه اوموسيقي اوريدل مباح دي ).[47]

په دې اساس ګورو چې ابن عربي له سماع سره مخالف وو.

خو روښانيانو يوه ستره ځانګړنه اولويه لاس ته راوړنه داوه چې دپښتنو په محافظه کاره ټولنه کې يې دموسيقى ودې ته تفسير اوتوجيه پيدا کړه اووده يې ورکړه. لکه حالنامه چې وايي:

---

[46]ابن عربي. سليمان الوداع. به حواله ازفتوحات ابن عربي ص ج اول ۲۴۱ ج ۲۴۲۳ دکتاب ۱۸ مخ

سليمان الوداع ۴۹ مخ [47]

,,ای عزیز من !آمدن بر سر سخن گنج دوم که مذکور شده بود وآن گنج عالم موسيقي است که از طفیل حاجي محمد خلیفه میرفضل الله ولی برافغانان کشف نمود،زیرا که درافغانان برغنجکین (غیچک ) ستار می انداختند ومی نواختند وبرباب پنج تار یعني سرمده (سرنده)دوتار می نواختند ودوتار میگفتند وازتعلیم وطفیل حاجي محمد سازنده های ایشان تارهای بسیار بر سازها انداختند ونغمه های نو نو اخراج مینمودند اما اکثرا نغمه های رقص وغیر ملایم می نواختند ·چون ان سازنده ها درخدمت پیر دستگیر قدس سره رسیدند واز برکت وصحبت طفیل پیر دستگیر سرود ،سلوک ونغمه های ملایم نواختند وشش مقام بستند یکی ناسري ودوم پنج پرده ،سوم چهار پرده ،چهارم سه پرده ،پنجم پرده جنگ که دروقت جنگ می نوازند،ششم مقام شهادت است ودراین مقامها بسیار بند ها ونغمه ها نواخته میشود ودیگر بیشتر درافغانان از دوسه بیت شعرزیاد نبود ·پیر دستگیر قدس سره به زبان افغانی قصیده ها وغزلهاورباعي ها وقطعه ومثنوي ها ساختندوازطفیل پیر دستگیر قدس سره فرزندان ومریدانش دیوانها گفتند و دُر های حقایق ومعاني دران سفتند ···,,[48]

دحالنامي له تفصیلاتو جوتیږي چې سماع ،سرود، اووروسته دنڅاه اوموسيقي رواج په روښانیانو کې څه تصادفي اواتفاقي کار نه بلکي دیو مسلک په خیر ورته پاملرنه شوي ده اوانکشاف ورته ورکړل شوی دی. دحالنامي بشپړوونکي موسيقي اوشعري

---

[48] کرګر،محمد اکبر·په حالنامه کې دبایزید روښان عرفاني اوفلسفي څیره ·چاپ دوم :دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ،جرمني· ۲۰۰۶ کال·۲۲۱-۲۲۰ مخونه

ادب دوه هغه پټې خزانې بولي چې روښان وکولای شول پښتنو ته يې څرګندې کړي. روښان اودهغه مريدانو اوپيروانو په پښتنو کې موسيقۍ ته پراختيا ورکړه،په هغه کې يې ريفورم اواصلاحات راوستي اوخپل فرقه يې روح يې په کې ځای کړی دي. همدارنګه وايي :چې يو څوک له ابن عربي سره مخامخ شو اوورته وې ويل چې دااستازی دی چې دخدای له لوري رااستول شوی دی . اوله د ه سره خبري اتري کوي. دهمدغه خبرو اترو له لاري ده چې ځينې مسايل لکه اتحاد دخدای له خوا نوموړي ته الهام کيږي چې هدف يې وحدت الوجود دی.

ابن عربي ددغه استازي خبرې دا ډول يادوي: ښه پوه شه چې خير په وجود اوشر په نيستۍ کې دی. يعني نيکي په هستۍ اوپليدې په نيستۍ کې ده. هغه انسان په خپل لطف اومهربانی خلق کړ اوهغه يې دهستۍ سره په تضاد کې ودراوه. هغه يې په خپلو نومونو اوصفاتو سره وليده په دې ډول تاسو اصل ته بيا ورګرځۍ نو هغه دی چې هستي ده اوتاسو ياست چې نيستې ياست)) .[49]

ابن عربي دفصوص الحکم په سريزه کې ليکي: چې حضرت محمد (ص ) يې په خوب کې وليده اودا کتاب يې په هماغه شکل چې حضرت محمد فرمايلي وو کښلی دی. په واقعيت کې هغه فصوص ټکي په ټکي له پيغمبر څخه اخيستی دی. اوله خپله ځانه يې څه شی پرې نه دي ورزيات کړي. اوله هر ډول کمښت اوزياتونو پرته يې ې مسلمانانو ته وړاندې کړی دی. دا وينا دابن

---

[49] سليمان الوداع ۳۲مخ

عربي دپلويانو اوپيروانو له خوا منل شوي ده اودې کتاب ته زياته پاملرنه له همدې کبله ده. ابن عربي په خپلو ليکلو اثارو کې ددې يادونه هم کوي چې دکتاب مطالب الهامونه دي چې دخدای له خوا پر هغه وارد شوي دي. نو په دې اساس دفصوص محتوی ته پاملرنه په کار ده. چې دابن عربي دليدتوګي اصلي مطالب لري.
)).[50]

دفصوص الحکم يوه ښکنده ځانګړنه داده چې دهغه دنورو کتابونو په تناسب دوحدت وجود زده کړي دي په نورو کتابونو کې دا مطالب په لفافه کې بيان شويدي. خو په دی اثر کې په ښکند ډول مطرح کيږي. همدارنګه هغه په دې اثر کې دخاصو اوکليدي ګړنو ښځه کار اخلي اوځانګړي ګړنې کاروي. پر اسلامي ګړنو سر بيره دبيلابيلو پوهنو اصطلاحات لکه دنو افلاطوني، مسيحيت، ګنوستيسيزم، باطنيت (اسماعلييه )اونور ښځه کار اخلي. دغه اصطلاحات اوتعبيرات له هغه وروسته نورو پوهانو عارفانو اوشاعرانو کارولي اونور يې هم غني کړي دي.

سره له دې چې دابن عربي اوبايزيد روښان پرتلنه به دلته بی ځايه وي. خو دا چې په شيخ اکبر هم دکفر تور پورې شوی دی. له خدای اويا له حضرت محمد (ص) سره يې په خوب کې خبري کړي دي. له حضرت خضر سره مخامخ شوی دی. دالهام اوغيبي اوازونه يې اوريدلي دي. دروښان په حالت کې هم دا مسايل ليدلي شو. خو په لږ توپير سره. يوه مساله داده چې روښان هيڅکله دخپل قوم ښځه

[50] همدا اثر ۶۳ مخ

گوښی اوجلا نه وو.بل داچې دروښان ټول اثار واضح ،روښانه اودپوهیدنې وړ دي .خو دشیخ اکبر فصوص الحکم اونور اثار ډیر پیچلي دي . دعرفاني اوتصوفي عقایدو له اړخه دداړو په تعالیمو کې زیات ګډ ټکي شته اودمیرزا خان په تصوفي افکارو کې لکه د نورو عارفانو اوصوفیانو دعقایدو په څیر هم موږ دشیخ اکبر فکري خط لیدلی شو.

درېیم څپرکی:

# روښاني فکري او عقیدوي لاره
# او د میرزا خان پنځونه

روښاني فکري اوعقېدوي لاره:

دبایزید روښان داسطوره يي شخصېت دعقایدو اوافکارو دڅیړنې له پاره بیلابېلو پښتنو اوغېر پښتنو ختیځ پوهانو خپلې نظرېې اوعقیدې وړاندې کړې دي. دغه فرضیې زیاتره یا خو دروښان په اثارو اویا دهغه دمخالف اخوند درویزه داثارو اووېناوو په بنښادولاړې دي .کله ناکله د((دبستان مذاهب)) په اثر هم استناد شوی دی. هغه څېړنې اوفرضیې چې دروښان دمخالف اونورو مخالفېنو په نظریو ولاړې وې په هغو کې دروښان په باب ښې پوره بدې ردې وېل شوي دي. په دغو اثارو کې د((اخوند درویزه)) اثار لکه ((مخزن)) او((تذکرة الابرار والاشرار)) ډېر مهم دي.خو دروښان په خپلو اثارو کې چې له هغه جملې خیرالبیان اومقصود المومنین څخه عبارت دي استنادي بڼه لري. بیاهم دمغالطې او مبالغې وېره ترې شته. په وروستیو کلونو کې دروښان دحالنامې پېدا ښېنت اودافغانستان دعلومو اکادیمي له خوا دهغه چاپ ((گستتنر )) له یو لړ گونگو او تتو مسابلو هم پرده پورته کړه . پردې سربېره دروښاني غورځنگ په اړوند یو لړ تعبیرات هم شته چې دیو غورځنگ اودمغلي حکامو

سره مخالفت هم ډول ډول تعبیر شوی دی. ددې تعبیراتو له سموالې اوناسموالي څخه سترګې نه شو پټولی. خو ښه چلند به هماغه اکاديميک هغه وي چې مسايل دحقايقو او اسنادو په رڼا کې وڅېړل شي.

په هر حال کله چې دروښان پیر خپلو اثارو اوافکارو ته راځو نو دهغه اثار په خپله خبرې کوي. په دې کې بیا ستونزه داده چې څېړونکو بیا هم دلاسبرې مذهبي محافظه کارۍ له مخې څه نه دي ويلي اويايې زړه نه دی کړی چې په زغرده څه ووايي، خو دقلندر مومند په کار کې چې د(( دخیرالبیان تنقیدي مطالعه )) نومي اثر څخه عبارت دی یو څه زړورتیا شته اوځینې ټکي په کې شته چې دروښان پیر عقايدو شننه ترېوحده بشپړه اوکره کوي.

قلندر مومند دخېرالبیان دغه اثر چې یوه بشپړه اوږده اوڅېړنيزه سرېزه لري په هغه کې يې داخبره روښانه کړې ده چې دخېرالبیان دانسخه دکابل اوپېښور دچاپ نسخو نه توپیر لري. نوموړی خپل دلایل وړاندې کوي اوپه دې باور دی چې دکابل اوپېښور نسخې دبایزید پیروانو کښلي اوپه هغو کې يې ايات اواحاديث ورزيات کړي دي.بله داچې دهغه له مرګه وروسته کښل شويدي نو زياتونې په کې شوې دي .(( دنوموړی په باور دخېرالبیان په باب عامه عقیده چې دخېرالبیان له ځینو حصو اودحالنامې اوداخوند دروېزه له الزاماتو ثابتیږي داده چې دبایزید روښان اودهغه دمنونکیو په خيال دا يو الهامي کتاب دی. دالهامي کتاب دعظمت او((دمِنْ جَانِبْ الله ))کېدو تقاضا داده چې ټول کتاب له خدا په

وګڼلی شي ولې دپېښور اوکابل چاپي نسخو کې داحادیثو ،دحضرت علي (رض) دارشاداتو دهادي دبیان (باېزېد روښان ) دویناګانو دعبدالقادر جېلاني اومحمد الدینوري دحوالو دموجودګۍ په وجه یې دا حیثیت مجروحیږي اوځکه ددې خبرې ډېر اعتبار نه شي کېدی چې یو خو اد ې یو کتاب دخدای له طرفه وګڼلی شي اوبل خوا دې خدای دخپلې خبرې ددلیل دپاره دبنده ګانو دمقولو محتاج وي. ))[51]

باید وویل شي چې دقلندر مومند دغه وینا دپښتنو دسترو اومشهورو څیړونکو له خوا منل شوې نه ده ۰ دژور اودقیق څیړونکي استاد معصوم هوتک په قول چې وایي : په دې برخه کې باید له تاءمل نه کار واخیستل شي ۰

دپېښور چاپ دخیرالبیان دنسخې په مقدمه کې مولېنا عبدالقدوس صاحب ددبستان مذاهب دا عبارت را نقل کړی دی: ((دبایزید تصنیفات په عربۍ فارسۍ هندۍ اوپښتو کې ډېر دي. مقصودالمومنین په عربۍ دی، وایي چې خدای پاک به ورسره بې دجبراییل دواسطې نه پرته خبرې کولې. دده یو کتاب خیرالبیان دی چې په څلورو ژبو دی. یو په عربۍ بل په فارسۍ دریم په هندۍ اوڅلورم په پښتو ، هم یو مطلب یې په څلورو ژبو وېلی دی. داکتاب دالله تعالی خطاب دی بایزید ته.( روشنیان ) دا کتاب دخدای کتاب ګڼي ))[52]

قلندرمومند په دې هکله زیاتوي: (( کوم ترتیب چې دانسخه لري هغه ددبستان مذاهب دبیان سره سم دی یعنې دخدای له خوا

---

[51] قلندرمومند. دخیرالبیان تنقیدي مطالعه. پیښور چاپ ،کال: ۱مخ

[52] خیرالبیان، دپیښور چاپ مقدمه ص ۵۳ تنقیدي مطالعه ص ط ۹

خطاب چې دجبراییل یا دبل کوم ولي په واسطه نه بلکې براه راست شوي دی. اوځکه زه دا دعوی کولي شم چې زموږ دانسخه هغه نسخه ده چې داخوند درویزه خوشال بابا اوددبستان مذاهب دلیکونکي له نظره تېره شوې وه، تلک عشرت کاملة ))[53]

دخېرالبیان اثر یوه ډېره مهمه برخه دبدایة الکتاب هغه ده. دمعاصرې فلسفي اوسایکالوژیکو څېړنو په رڼا کې دقلندر مومند دویناوو بر علاوه ډېرې خبرې را سپړلی شو. اودکتاب اودلیکوال اویا مصنف رابطه قایمولی شو.

دخېرالبیان په لومړۍ برخه کې د((اِقْرَا ءبِاِسْمِ رَبک )) مبارکې سورې په پېروۍ پېل کېږي خو په دې کې ډېر ستر پیغام دادی چې په دیالوګ کې بایزید ته څو مهمې لارښوونې کیږي. چې دژبې (پښتو ژبې ) دلیکلو اوفونیمونو، سمبولونو وضع کولو لارښوونه یو له دغو څخه ده.

(( اوبایزیده !–وکښه هغه حرفونه چې په هره ژبه سازیږي دفایدې دپاره دادمیانو ،ته دانایې له هره څیزه ما نه زده بیرون حرفونو دقران اوسبحان. ))

د ژبې اودحرفونو دایجاد له لارښونې وروسته بل مهم ټکی دخدای دوحدانیت اودخدای ستاینه ده چې بایزید ته لار ښوونه کیږي.

((اوبایزیده ! زما ډېر ستر صفت وکښه .خوښي مې پېداشي چې زما ډېر ستر صفت وایي ادمیان.ګوره زما تسبیح وایي چې زما په

---

[53] تنقیدي مطالعه ۱۰ مخ

مزکه کې دي (یا ) په اسمان. نشته هیڅ بېرون چې زما تسبیح وایي ته باور کړه په دابیان.

-زه عامي مېره یم په څه ستا صفت وکښم او سبحان.

اوبا یزیده ! دخپلې پوهې په اټکل یې وکښه.تمام. ))[54]

دلته په ډاګه کیږي چې دخدای اوروښان پیرخبرې بې واسطه اوسېده خبرې دي. اودروښان پېروانو هم دا ډول باور درلود.

همدارنګه بایزید ته دکتاب یا خیرالبیان دکښلو لارښوونه کیږي په دې ډول:

۱.((وکښه په دا کتاب صلوة په خاتم دانبیاءچې محمد دی اوپه واړه پیغمبرانو چې ددوی دي پس روان. ومې کهه رحمت اوبرکت په تا اوستا په پس روانو په محبانو چې وې نغوږه په دا زمانه په تادې وې سلام. ))[55]

۲: همدارنګه بایزېد روښان ته دا ډاډ ورکول کیږي چې خدای تعالی تا اوستا یاران اومحبان که چېرې توبه وباسې بخښل کیږي. خو له دې وروسته دې تن له ګناهونو اوناوړه چارو ژغوري. بایزېد ته لارښوونه کیږي چې دیو پیر اوهادي په توګه خپل پېروان له بدو کارو نو منع کړه اوسمې لارې ته یې راوبوله.

۳: مورږ دبایزېد په ټولو اثارو کې ګورو چې دیو هادي اومرشد په توګه هیڅکله دکوم شخص اومخالف نوم نه اخلي. خو نوموړی په دغه دیالوګ کې له تواضع کار اخلي اووایي چې زما لیکل اولوستل ښه نه زده اوکه زه ولیکم کېدای شي غلطي وکړم. اوزما مخالفین به پر ما پورې مسخرې اوملنډې وکړي. بایزېد دعامه

[54] خیرالبیان تنقیدي مطالعه ۱۹۵مخ

[55] همدغه ۶مخ

ذهنیت او دخپلو مخالفینو عکس العمل ته انعکاس ورکوي. خو په دغه دیالوګ کې نوموړي یعنې بایزید ته ډاډ ورکول کیږي. او ډاډ له پاره ورته دتېرو انبیاو مثالونه راوړل کیږي.

((اوبایزیده ! شرم دې نشته چې درپورې مسخرې کا یا درپورې خاندې اونه نقصان دایمان. ګوره هسې یې مسخرې کړې او خندل یې زما په پیغمبرانو په اولیاء ګانو پورې له تا وړاندې ځنې ادمیانو، اوبایزیده !وتا مې عقل درکړه ودې لیده ودې پیژانده دده په رڼا رښتیا دروغ، امر نهی، حلال اوحرام. ترو مې ننویست ستا په زړه کې ډار امیدواري. په هغه بهنه دې کړه چار داسلام. دچارې په بهنه دې بیا لار مونده اوهر مقام. ترو حکمت مې درکهه او اجتهاد اونور دالهام. وهر چا لره چې مې حکمت ورکه وهغه مې ډېر ښیګړه کړه ورعیان. ))[56]

۴.دخیرالبیان دکښلو لارښوونه: ددې خبرو اترو په ترڅ کې په ډاګه بایزید ته رسالت ورکول کیږي چې دخپلو خلکو دروښنایي اوسمې لارې ته درابللو له پاره اړینه ده چې کتاب وکښي. نوموړي ته دکتاب محتویات هم په ډاګه کیږي. په دې مانا چې کوم شیان چې خلک ورته اړتیالري اوخلک اودهغو په ژوند کې دبدلون جوګه کېدای شي.

(( اوبایزیده !که زما خوښې غواړې اوډېره ښېګړه ،وکښه خیرالبیان زه اورم په دا زمانه له ځنې ادمیانو خبرې ددنیا اوهر چې پکې دي خبرې دکرلې دسود اوبازرګانۍ اودځناورانو اوبیهوده خبرې اودروغ دکېنې دغیرت دمیرڅۍ یا نور نور

---

[56] همدغه ۷مخ

رنگارنگ خبرې سخنان دبهشت خبرې اوهر چې پکې وي نعمت درنگارنگ طاعت یا ددوزخ خبرې اوهر چې په کې دي عذاب یې په بهنه درنگارنگ گناهان.... )) [57]

دخیرالبیان له بیان سره سم او د یاد شوي دیالوگ پر اساس لوی ذات بایزید ته دا لارښوونه کوي چې خیرالبیان وکښه. دبایزېد دقناعت له پاره دنورو پیغمبرانو مثالونه هم راوړل کېږي. خو کله چې دخدای امرپرې وشو کتابونه پرې نازل شول .(( اوبایزیده ! وکښه زما په عنایت خیرالبیان، نه یې کښل پیغامبرانو اولیاگانو کتابونه له تا وړاندې اونه یې کړه بنده گي چار دښیگړې بي عنایته بې توفیقه په تا دې وي اعلام. ))

دبایزید دکتاب دکښلو دستور اوادب لار ښوونې غوښتنه: بایزید روښان ته ددې خبرې هم الهامې وضاحت کیږي چې څرنگه کتاب ولیکي اودهغه محتوی به څه وي.

(( اوبایزیده دستور اوادب دکتابو دکښلو هغه دی چې یې وکښه زما په توفیق په ښکلي توگه په ورکولو داندیښنې اودزړه په حضورۍ اوپه نه نغتنه دنوس دهوس اودشیطان اودفایدې دپاره دادمیان. )) [58]

**۵**.دخپل قام په ژبه دکتاب په کښلو تاکید یوه هغه مساله ده چې روښان ته یې ابدیت ورکړی دی. دا هغه څه دي که څوک وایي چې روښان اودهغه پیروانو ماتې خوړلې ده اودهغو لاره نه ده بریالۍ شوې نو دپښتو ژبې غوړېدا اووده اوپه دې ژبه دروښان دپیروانو

---

[57] همدغه ۸مخ

[58] همدغه ۸مخ

په لسگونه اثار او دیوانونو کښل ددې خبرې هغه مثال دی چې څو پښتو ژوندی وي، روښان به ورسره ژوندی وي. ځینې کسان دا هم وایي چې دپښتو له پاره خو دهغه مخالف اخوند درویزه هم کار کړی دی. خو دا باید ورسره غبرگه کړو چې داسمه ده چې اخوند درویزه خو دا کار کړی دی .ددې له پاره چې روښان پروړاندې تبلیغ وکړي او هغه ورتټي. خو روښان پښتو دمذهب ژبه گرځولي ده او په هغه وخت کې مذهب داوس مهال دتکنالوجۍ سره سیالي کوي.

روښان ته الهام کیږي چې:

((گوره ما کتابونه له تا وړاندې پیغامبرانو وته استولي وو چې پکښې وه بیان درښتیا ددروغو دکړو دنکړو دحلالو دحرامو په ژبه دخپل قام .زه به دروښیم وتاوته په خپل قدرت په څلور ژبې خیرالبیان .څه شو که ته له دغو وړاندې بې خبره وې له خیرالبیان گوره زما اوزما دانبیاء واولیاء(ع)، رښتیا دی کلام، زما اوزما دانبیاء داولیا(ع) کلام می کړی دی خیرالبیان.))[59]

۲.رښتینې لاره:

روښان دیو ډول ټولنیز ریفورم او په ټولنه کې دشیطانې وسوسو اوشرارتونو دله منځه وړلو اوسمې لارې ته دانسانانو دسیخولو لارښود هم دی اودا کار له مذهبي لارښوونې اوله دغه زاویې پرته ناشونی وو. هغه ته ویل کیږي: ((اوبایزیده ! رښتینې لار دانبیاء ده. دانبیاء لارهغه ده چې زما وپیژند گلوی وته بولي ادمیان. ))

---

[59] همدغه ۹مخ

بايزېد روښان په خپلو تعليماتو کې داعتقاد لوړې درجې ته رسيږي اوهغه دا تلقين ترلاسه کوي چې هغه په دې قادر دی چې کولی شي خلک سمې لارې ته راوبولي. اوخلکو ته لارښوونه وکړي دهغه داثر دا ايت چې وايي:

مرگ به ورشي وسړې وته ننگهان ،نشته په دونيا کې تل دتله مقام.

دلارې يو بنسټ جوړوي. اوپه رواني لحاظ انسان دې ته رابولي چې له تاءمل اوغور نه کار واخلي چې دڅه له پاره راغلی اودڅه له پاره دلته دی. خيرالبيان دا ا لهامي عبارت لري چې وايي:

.((نشته په دا زمانه پير تمام بيرون له تا چې وارث دانبياء يې درښتينې لارې ښښتن يې ته باور وکړه په دا کلام وايه وسړي وته چې په رښتينې پيژند گلئ وپيژني دا جهان چې کړی مې دی سرای دفتنې دزيان اوده چارچوبۍ دتاريکۍ اوسرای دورانۍ عيان. هر چې محبت دبلا دفتنې له زيان کارۍ سره کا مبتلا به يې کړم په سختۍ په بلا په فتنه، په اندوه په غم اوپه تاريکۍ په ړندوالي ترو به زما له پيژند گلوۍ دروند شي عيان. ))[60]

ميرزاخان اودپير روښان نور پيروان بايزيد انصاري پير روښان ديو هادي اوپير کامل په توگه بولي اويادونه يې کوي اوپه تعليماتو يې عمل کول ځان اونور مکلف بولي.

## تصوفي تعليمات:

دنويو څيړنو اونويو مدارکو په ترلاسه کېدو سره دا هم اړينه ده

[60] همدغه ١٥مخ

چې دبایزید روښان په عقایدو او افکارو باندې نوی نظر وشي .په دې اړوند دبایزید روښان دتصوفي زده کړو کې مراحل دپیر کامل اهمیت، اودمعرفت درجې ته رسیدل اودتصوف اوشریعت ترمنځ داتصال کړۍ جوړول اوهمدارنګه له هغه وروسته دهغه دپیروانو په اثارو کې ددې زده کړو په قوت سره روزنه شامله ده .
دحالنامې له دې قوله جوتیږي چې روښانیت دپیر په پیروۍ تاکید کوي او له هغه لاس نیوی دانسان له پاره په خدای باندې په اعتقاد کې اساسي شرط بولي:
حالنامه وایي: (( ای عزیزمن ! پیر دستګیر قدس سره نشسته بودزنی پیرزالی از دردرامد وګفت یا بایزید ! دوپسر دارم پدرشان مرده است، وهر دو فرزند بمزدوری حلال مشغول اند وهمیشه با درویشان همصحبت اند ودرکار شریعت مستقیم اند ، اما پیر ندارند.
بعده پیر دستګیر قدس سره فرمود.ای زال بشنو !طلب پیر مکن، هرکه پیر ندارد دین ندارد ،وچنانچه رسول علیه السلام فرموده است: قال النبی علیه السلام: (( لاَدِینَ لهُ لِمَنْ لاَ شِیخَ لهُ )) [61]
دبایزید انصاري (( خلیفه اول )) محمد کمال صاحب وایي:
(( پیر که از چهار مقام واز چهار سیر واقف باشدومرید خود خبر ګرداند اګر مرید او باز ګردد مرتد ومردود باشد.. )) ۰ [62]
بیا وایي: وهر که از چهار مقام وچهار سیر خبر نباشد ... اګر از چنین پیر باز ګردد مرتد ومردود نه شود. بلکه لازم بود اورا که از

---

[61] حالنامه .مخلص نوی چاپ ۱۳۴مخ
[62] حالنامه .مخلص نوی چاپ ۱۳۴مخ

ان پیر باز گردد )[63].
په حالنامه کې ځای ځای ددې یادونه شوېده چې بایزید په دې ټینګار کوي چې زه دنبي علیه السلام لاره خلکو ته ښایم. اوخپل پلار ته هم په یو ځای کې وایي چې دنبي لاره دشریعت، طریقت ،حقیقت اومعرفت لاره ده. بایزید روښان دحالنامي په قول یو حدیث بیانوي چې ترجمه یې په دې ډول ده: (شریعت لکه دشپې دی، اوطریقت لکه دستورویو دی اوحقیقت لکه سپوږمۍ ده اومعرفت لکه دنمر دی اودنمر دپا سه هیڅ شی نشته ( ددې حدیث په فارسۍ ترجمه کې دحالنامې مصنف د ((لیس فوق الشمس شیاء)) معنی کوي (نیست چیزی روشن تر از افتاب)) یعنې دنمر دپاسه څه روښنایي نشته. ))[64]
هغه دخپلې لارې دښوولو او توضیح له پاره شریعت باندې ټینګار کوي. دا مساله واضح کوي چې هغه دخپلو دوښمنانو اومخالفینو پروپیګندې هم له پامه نه دې غورځولې اوغواړي په پوره احتیاط ګام پورته کړي.
((دټولې مسلمانۍ دتعریف په سلسله کې بایزید انصاري سره دا قول هم منسوب دی (( تمام مسلماني شریعت وطریقت وحقیقت ومعرفت است))

مقامات:

دبایزید انصاري د تعلیماتو اودهغه دتصوفي زده کړو په باره کې هم یو لړ ناسمې رواج شوې دي .دبایزید روښان دتصوف په باره

---
63 حالنامه .مخلص نوی چاپ ۱۳۴مخ
64 تنقیدي مطالعه ۲۳مخ

کې تراوسه زیات څېړونکي په دې خبره اتفاق لري چې بایزید دنورو صوفیانو برخلاف دڅلورومقامونو پر ځای داتو مقاماتو قایل و.
۱.شریعت .۲.طریقت .۳.حقیقت .۴.معرفت .۵.قربت .۶.وصلت ۷.وحدت .۸سکونت یادیږي. دبایزید دخپلو لیکنو اودهغه دتحریک دځینو شاعرانو اوپیروانو له شعرونو څخه دا ناسمې تقویه کیږي .خو دخیرالبیان اړونده برخې که په دقت اوغور ولوستلی شي نو دا ترې څرګندیږي چې دا وروستی ذکر شوي (څلور مقامه ) دبایزید دبیان کړي معرفت مدارج دي.
په خیرالبیان کې دغه مقامات په دې ډول تعریف شوي دي:
(( اوبایزیده ! دشریعت دطریقت دحقیقت دمعرفت دیګانګې پوهه مې دپیغمبرانو کړې دي علیهم السلام )) .

د شریعت دی بیان:
بایزید روښان په خیرالبیان کې دشریعت اوږود بحث لري اودطریقت تر سرلیک پورې ټول فرایض اوواجبات چې انسان ته اړین دي اودپیغمبرانو لارښوونې دي تشریح کوي. په دې اصولو کې دیو کامل مسلمان له پاره د حلالو او حرامو پیژندګلوې اوهمدارنګه دلمانځه اواوداسه په ارکانو ، دعشر اوزکوة اونورو اصولو بحث اوخبرې دي اوله هغه وروسته بیا دطریقت بیان کوي .
خیرالبیان وایي:(( ګوره ! دشریعت ورمندن ګفتار دپیغامبرانو دی اوچار دپنځه بنیاددمسلمانۍ ده په ادمیان اوګناه دشریعت

نه نغته دشريعت ده اونغته دنوس اودشيطان چې ليږي يې اوبې شريعت وته اوبې شريعت لکه ليوه دی چې پکښې قرار دی هغه هسې دی لکه ځناوران.))[65]

### د طريقت بيان:

((دطريقت زده اوچار وکښه ؛زده اوچار دطريقت دشريعت لِزده له چار بِه ده پر آدميان ))
روښان وايي: راوښيه وماوته زده اوچار دطريقت په خپل فرمان اوسبحان !اوبايزيده !شريعت وينا اوطريقت چار دپيغمبرانو ده زما رحمت په دوی اوسلام .نه نغوته دنفس اودشيطان اونغته دزړه ،دروح چار دپيغمبرانو ده عيان.))[66]

### د حقيقت دې بيان:

په خيرالبيان کې راغلي دي : ((اوبايزيده ! اوکښه زده اوچار دحقيقت ؛ گوره زده اوچار دحقيقت ،دطريقت له زده اوله چار بِه ده په ادميان ((قل رب زدني علما په قران کی دی بيان الخير لا يوخر نبی ويلي دي عليه السلام.))
راوښيه وماوته زده اوچار دحقيقت په خپل فرمان اوسبحان ! اوبايزيده ! حقيقت دی حال دپيغمبرانو اوچار يې پټ يادوي او فکر مدام))[67]

---

[65] خيرالبيان پيښور چاپ ۳۸۴
[66] همدغه ۳۱۸مخ
[67] همدغه ۳۵۳مخ

د معرفت دی بیان:

اوبایزیده ! وکښه اوچار دمعرفت، گوره ! زده اوچار دمعرفت دحقیقت له زده اوله چار ی به ده په ادمیان.

اولږ وروسته روښان وایي:

راوښیه وماوته زده اوچار دمعرفت اوهر چه پکښې دي مقام دعارف، طاعت اوگناه یې په خپل فرمان اوسبحان،

اوبایزیده ! دمعرفت زده دیگانگۍ زده اوچار یې هغه ده چې هر چار زما په حضوري کا ادمیان.

گوره ! په معرفت کې مقام دقربت دوصلت دوحدت دسکونت دی په تادي وي اعلام، اوعارف واجد مقرب واصل موحد مسکین دی عیان. ))[68]

دمعرفت په بیان کې داوضاحت راځي:

(( گوره ! په معرفت کې مقام دقربت دوصلت دوحدت دسکونت دی په تادي وي اعلام اوعارف واجد ،مقرب، واصل،موحد ، مسکین وي عیان. ))[69]

له دې جوتیږي چې قربت، وصلت،وحدت اوسکونت دمعرفت مقامونه دي اودمعرفت پورې اړه لري. اوجلا جلا مقامونه دي.

قلندر مومند هم په دې خبره ټینگار کوي اوهغه را پورته کوي اولیکي:

دواړو کې دبایزید روښان دمصروفیاتو په باره کې دحالنامې مصنف لیکي:

(( اوعارف واحد به یې دقربت دسیر خواته عارف توب دی به یې

---

68 همدغه ۳۸۳ مخ

69 ق.مومند سریزه تنقیدي مطالعه ۲۲مخ

دوصلت دسير په طرف عارف واصل به يې دوحدت دسير په طرف عارف موحد به يې دسکونت دسير په طرف اودتخلقو ابااخلاق الله مرتبې ته راغب کول.))[70] همدارنګه لږ وروسته زياتوي چې: (شريعت زما خبرې، طريقت زما کردار، حقيقت زما حال اومعرفت زما رازونه دي.))[71]

له دې خبرو اترو اوبحثونو جوتيږي چې روښان دخپل توحيد علم له پاره دغه ځلور منزله لازم بولي چې دنورو تصوفي طريقو کې هم شته. اودقربت، وصلت، وحدت اوسکونت سيرونه دمعرفت مراتب ګڼي.

چې په دې منازلو کې دوړومبيو دريو منازلو نه پس دسکونت درجه صرف کامل پير ته حاصليږي. اودبايزيد روښان په باره کې دااخرني ځلور مقامات دجدا منازلو په طور دهغه دځنې مريدانو له خوا په ناسمه توګه دمخالفينو دپروپيګندو په وجه پيدا شوي دي چې ښايي هدف به يې داوو چې بايزيد روښان لاره دنورو صوفيانو له لارې بيله اوجلا وښودل شي. سره له دې چې په ځينو تصوفي لارو دا منازل اوسير وسفرونه زيات اوکم ښودل شوي اوتوپير لري خو دا جوته ده چې بايزيد خپله طريقه لرله اوځان يې اکې يو کامل پير ګڼلو ځکه نو دې مخالفانه پرپيګنډو اواعتراضاتو ته زيات ځيلمه وه.

په صراط التوحيد اوخيرالبيان کې داخبره ځرګنده ده چې دپير کامل په لارښوونه مريد دحقيقت تر مقامه پورې رسيږي اوکه دخپل پير له خوا ورښودل شوی ذکر جاري وساتي نو دمعرفت

---

70 همدغه ۲۴مخ
71 همدغه ۲۴مخ

مقام ته پورته کيداى شي. دا بيا هغه مقام دى چې په هغه کې ذاکر دعارف واجد مقام ته رسيږي اوله هغه نه وروسته چې نور هم پرمختګ کوي نو دا عارف واجد په عارف مقرب بدليږي . دې پړاو ته په روښاني فرهنګ کې عارف سامع هم وايي ځکه چې دغوږ پرده يې لرې کيږي اونوي اوازونه اوريدلی شي. له دې پړاو نه وروسته چې کله پرمختګ کوي عارف مقرب ( عارف سامع ) وصلت مقام ته رسيږي او عارف واصل شي اودعارف واصل کيدو نه پس دنورې ترقۍ په نتيجه کې دعارف موحد مرتبې ته اوبيا ددې تعالي وروستی پړاو هغه وخت ترسره شي چې موحد عارف په عارف مسکين بدل شي.

نوکله چې خپلې خبرې راټولوو دې پايلو ته رسيږو چې دروښان لاره. دهغه دخپلو اثارو له لارې زيات دقت اوتاءمل غواړي. دروښان اعتقادي يا فکري ليدتوګه کې دا جوتيږي چې هغه دنبوت دعوه نه کوي خو دخيرالبيان دمتن له مخې هغه داسې شخصيت دی چې دلوی خدای سره له واسطې اومنځګړې پرته سوال اوځواب کوي.

هغه يو عارف اومتصوف دی خود هغه دپړاوونو پيل دشريعت له مقامه کيږي. په داسې حال کې چې په فلسفي لحاظ دتصوف اودشريعت دلارو په يووالي کې تناقض شته. کيداى شي دوخت متصوفينو ځکه دا غوره بللې وي چې دټولنيزې مواخذې څخه ځان ګوښی وساتي.

دپير بايزيد عرفاني لاره کومه تجريدي اوله دنيوي فعاليتونو څخه پردۍ اويوازې رواني اوروحې سفرونو کې ډوبيدل نه بلکې

یوه ټولنیزه اصلاحي پاملرنه هم لري. په دې مانا چې ددروغو اومنکراتو څخه دخلکو لیرې ساتل، دسوداګرۍ اوکرکېلې کاروبار ته پاملرنه کول اودخدای لاره تعقیبول، اودوحدانیت لاره یا توحید په مخ کې نیول دي.

په فرهنګي لحاظ دپښتنو دفرهنګ اومعنویت دغوړېدو اوخبرتیا له پاره هم یې ډېر څه پښتنو ته ورکړل. په دې مانا چې له ده وروسته دده پیروانوو چې په پښتو ژبه کې یې بشپړ دیوانونه ایجاد کړل. دپښتو ژبې لیکل اواثار رامنځ ته شول. اوس موږ دد ې ټکو په رڼا کې دمیرزا خان تعلیمات کتلی شو اولیدلی شو چې میرزا خان په څومره اندازه دغه تعلیمات پاللي اوروزلي او څومره له دې تعلیماتو څخه ترمخه تللی دی.

ځلورم ځپرکی:

# میرزا خان په دیوان کې د الفنامې فلسفي ارزښتونو ته یوه کتنه

## الف: د مدخل په توگه

په دې برخه کې د ،،روښانیت دفلسفي تفکر،، په یو اړخ نظر اچوو، دمطلب دښې روښانتیا له پاره اړه وینو چې دروښان پیرد لید توگې عمومي اړخونو ته هم ځغلند پام وکړو.

روښان پیرد خیرالبیان په اول مخ کې لیکي: (( اوبایزیده ! وکښه په اغاز دکتاب په ښو درستو حرفونو بسم الله تمام. زه نه ورکوم مزدوري دهیغو کسانو چې کښي، بیایي ورانوي یو حرف یا ټکی بیایي کښي چې درستیږي بیان. )) [72]

بیا وایي: ((اوبایزیده !وکښه هغه حرفونه چې په هره ژبه سازیږي دفایدې دپاره دادمیانو، ته دانایي له هره څیزه، مانه زده بیرون حرفونو دقران اوسبحان، ))

اوپه همدې دیالوگ کې دحرفونو دراز اوښوولو په باب وایي:

(( دحرفونو کښل په تادي دحرفونو څرگندول ونمون وښوول په مادي. وکښه زما په فرمان په مانند دحرفونو دقران اوکیږده په

---

[72] مومند قلند. د خیرالبیان تقیدي مطالعه . (دمتن اوسریزې سره ) دچاپ ځای،پیښور .۱۹۸۸ کال ۱۹۱ مخ ۱م

ځنې حرفونو ټکي یا غړوندي یا نورې نښانې بې له حرفونو. ژر به وپیژني ادمیان. ځنې حرفونه ځلور وکښه عیان ژر به یي زده کا چې لولي ساه ورسره باسي له دوه وستری حرفو سره ادمیان. ))[73]

پورتني احکام دوه شیان په ډاګه کوي، دحرفونوکښل اوبل څرګندول اوښوول.

دیالوګ کې ګورو چې لومړي شخص اودویم شخص څوک دي دلته مساءله یو ډول اشراقي ځانګړنه پیدا کوي . یو ډول آسماني لارښوونې په توګه جوتیږي اوتقدس مومي . په دې برخه کې زیاتې توضیح اوسپړنې ته اړه نشته. دا په لوی لاس دپښتو ژبې دانکشاف اودیوې لیک لوستې ژبې په توګه دهغې درواجولو له پاره دالهی لاري پرانیسته ده. په ټولنیز فرهنګي لحاظ دا دپیر روښان یو تهور اوناپایه زړورتوب ښی. چې په داسې چاپیر یال کې چې پښتون اولس دهر زورګیر سره پنجه ورکړې، خو زورګیرو حاکمانو اودرباریانو ددې له پاره چې دغه اولس له هر ډول فرهنګي خبرتیا څخه نا خبره وساتي ددوی ژبې ته یې د((دوزخ ژبه)) وویله. پښتانه یې دبنې اسراییلو پورې وتړل. ددې یو علت داهم و چې په پښتنو کې سواد اوزده کړه ډیره کمه وه. قرآن پاک ډیرو لږو کسانو له مانا سره لوستلی شو. خو دروښانیانو ظهور دپښتنو په فرهنګي، سیاسي ژوند کې دبدلون دیو ټکي په توګه را څرګند شو.

دلته زموږ هدف دژبپوهنې کوم مسلکي اوتخنیکي بحث نه دي،

---

[73] پورتنی اثر دویم مخ یا ۱۹۲،

چې په پښتو کې دپښتوژبې داوازونو ترسيم اوکښل وشيړو، خو يو شي ته زموږ پام رااړوي هغه داچې روښان اودهغه پيروانو اوپلويانو په څومره مهارت اوزيرکۍ سره د((دوزخ ))ژبې ته الفبا((روښاني الفبا )) جوړه اودهغې عامولو ته يې لاره پرانيستله.
(دپښتو ژبې دالفبا له پاره يو ه بله خبره داهم ده چې وايي حسن ميمندې دسلطان محمود غزنوي وزير ددې ژبې الفبا جوړه کړې وه.))
مرحوم قلندرمومند دخيرالبيان تنقيدي مطالعه په سريزه کې کښلي دي: (( دبايزيد انصاري اودهغه خاندان دپښتو ژبې دپاره خدمت هم دروښنايي تحريک دملي شعور په ثبوت کې پيش کيږي. ددې حقيقت نه هيڅوک انکار نه شي کولی چې دپښتو ادب په وده اوترقۍ کې دبايزيد اودهغه دتحريک ډير لاس دی خو دپښتو دا خدمت دروښنايي تحريک لوی دښمن اخوند درويزه هم کړی دی ... هسې ددېو دواړو خپلو کې دمخالفو قوتونو پښتو ته مخه کم از کم دا خبره ثابتوي چې دهغه وخت پښتنو کې يا کم از کم خوانده پښتنو کې دپښتو سره دمينې يوه جذبه خامخا پيدا شوې وه...))[74] دې کې شک نشته چې په دې وخت کې په پښتنو کې دليک لوست له کبله ډير پرمختګ شوی دی. دا ډول پرمختګ دملي خبرتيا دراولاړيدو سره په موازاتو کې رامنځ ته کيږي. ملي خبرتيا دملي ژبې دپرمختيا له پاره کار دملي هويت داعتلا سره اړيکي لري.

---

[74] همدغه اثر ۵۰ مخ

دقلندر صیب دا څرګندونې ددې له پاره دي چې دروښاني غورځنګ دملي کرکتر داعیه په شک کې واچوي اویایې کم رنګه کړي. خو زموږ مقصد له دې بحث نه نور هم په بله کچه کې دی .اوهغه ددغه فرهنګي هلو ځلو فکري اوفلسفي بنسټ دی. په دې مانا چې څرنګه یوې مفکورې ته روښان اودهغه پیروانو یوه فکري اودقبلیدو وړ زمینه برابروې اوله کومې لارې ؟.

څرګنده خبره ده چې په هغه وخت کې چې کومه خبره دقران اواحادیثو په استناد دمنلو وړ کیدله په هسې نورو ډولونو استدلال اونصیحتونو نه کیدله.

بیاهم دقلندرمومند صیب په قول: (( دخیرالبیان ته په څلورو ژبو کې ((بدایته الکتاب ((اغاز کتاب ))ویلي شوي دي چې دا نتیجه ترې راووځي چې دخیرالبیان ابتدا له دغه ځایه کیږي. )) یعنې دا خبرې دخیرالبیان په پیل کې راغلي دي۰ دخیرالبیان پیل هم یو ه پیاوړي فلسفې تومنه لري، چې په دې عبارت سره تکراریږي ((مرګ به ورشي وسړي وته ننګهان، نشته په دونیا کې دسړي تل ترتله مقام۰ ))

روښان که داوازونو خبره کوي اوکه دحروفو خو دا ترې جوتیږي چې دغه غورځنګ دپښتو دبیا سمون اورغون له پاره یو مخکښ غورځنګ دې اوله هر ډول کلتوري یا فرهنګي هلو ځلو پرته هر غورځنګ له پښو لویدونکی دی۰

همدا راز که له یوې خوا دحروفو ترویج اوپه پښتو ژبه کښلو اولیکلو ته بایزید روښان یو مذهبې اوخدایې لاره پرانیزي، دا کار دهغه مخالف(ملا درویزه ) نه دی کړي، کیدای شي دبایزید

اقدام یو قصدي اوعمدې وګڼل شي اود هغه دمخالف یعنې اخوند درویزه عمل ددې له پاره وي چې دبایزید مخه ډب کړي. لکه چې همدا خبره نومیالي استاد عبدالشکور رشاد هم داخوند درویزه له قوله کړي ده چې دکتاب په بله برخه کې به یاده شي.

خو اوس دلته یوازې دمیرزا خان انصاري ددیوان په(( الف نامه)) خبرې کوو. دادمیرزا خان ددیوان پیلامه ده. اودقران دالفبا توري په ترتیب سره داسې تفسیر اوتوجیه شویدي چې یو فکري سیستم ترې جوتیږي.

دا الفنامه دهغو ترتیبونو څخه جلا ده، کومه چې دځینو دیوانونو په چاپ یا کښلو کې لومړی توري برجسته کښل شوی اوبیا شعر ته دوام ورکړل شویدي. دلته یو مسلکي تشخص په پام کې نیول شوی دی. او په هغه کې هر تورې اوهر اواز ته یو ارزښت اومانا ورکول شویده.

همدارنګه په اسلامي نړۍ کې اوپه ځانګړې توګه په اسلامي فرهنګ کې دحروفو اوارقامو راز اوږود فلسفي بنیاد لري. روښانیانو په تیره دخیرالبیان دپورته څرګندونو دارزاني ملا له دیوان اودمیرز اخان له دیوانه څخه په ډاګه پوهیدلی شو چې دوې داسلامي اوهم((شرقي فرهنګ)) له پوهي اومالوماتو څخه په ژوره توګه برخمن وو.

ب: په اسلامي فرهنګ کې دحروفو او شمېرنو ارزښت:

داتمې هجري پیړۍ په پای کې په منځنۍ اسیا کې په خاص ډول

په ترکیه اواذربایجان کې داسې یوه فرقه رامنځ ته شوه چې په ((حروفیه ))یادیده. دې فلسفي ـ مذهبي او اجتماعي فرقې عقیده درلوده چې کلیمه مقدسه ده. همد اشان دحروفو په رمز اوراز اودهغو پیدا یښت باندې تیموري دولت اودستګاه شک کاوه اوله دې امله یې ددې فرقې پیروان سخت وځپل.

په اسلامي فرهنګ کې دکلیمې تقدس اودحروفو راز اوسموبولونه اونښو نښانوباندې داسې باور و چې ځینې کلمات اومقطعات لکه(( اَلفْ لاَمْ مِیمْ )) له ابتدا څخه دخدای اوپیغمبر تر منځ راز بلل کیده. چې عادي خلک دهغو له درک اوپوهې نه عاجز دي .

په نورو ادیانو اومذاهبو کې دکلیماتو په تقدس او اصالت باندې هم عقیده موجوده ده. په یهودې عرفان کې دکابالا ( قباله–قاباله ) دحروفو اواعدادو ارزښت اوتقدس دومره لوړو چې مقدس نصوص یې بولي. په مسیحیت کې هم دکلیمې تقدس زیات اهمیت لري. لکه چې په انجیل کې راغلي دي ((په سر کې کلیمه وه اوکلیمه له خدایه سره وه. اوکلیمه خدای و. ))[75]

همدارنګه یو بله ګړنه چې دغه فکري بهیر ښه جوتوي هغه دکابالا مفهوم دی.

((دکابالا کلمه یوه زړه عربي کلمه ده چې دروایت اوسنت په مانا یې ژباړلی شو، احتمال لري چې دعربي ژبې هیره شوی (ترکه شوي ) ریښه ولري· دکابال پوهنه یوه له اسرارو ډکه یهودي پوهنه ده چې دحروفو اواعدادو دنقش پورې اړه لري چې دهغو دفیض

[75] میرفطروس،علی· هفت گفتار (درنقد کتاب ،کتابشناسي گفتگوو...) چاپ: نشر فرهنگ. ۱۰۵-۱۰۴ مخونه

اوپيدا ينبت منابع ديهودي اساطيروڅخه عبارت دي.دهلنيزم،گنوستيسيزم دفيثاغورثيانو اودنيو افلاطونيانو زده کړې اونورو پورې اړه لري. دغه زده کړو دخپلو احکامو اهميت په تورات کې دمندرجو احکامو پوري لوړاوه اوهغه يي دسپيڅلو نصوصو په توگه بللو. شمعون بريحي په ارامي ژبه دکابالا دزده کړو په باب خپل عمده اثر چې ,, زهر ,, يا ځلا نوميږي کښلی دی. اوموسې ليون چې داسپانيا له يهوديانو څخه و ددیارلسمي پيړۍ په پای کې هغه خپور کړی دی. يو بل اثر د,,يزيره ,, سفر په نوم ياديږي يا سفر تکوين، چې په عربي ژبه په شپږمه اواومه پيړۍ کې تصنيف شوی دی. اودهغه مجهول مولف په دې باورو چې خلقت د اوه گونو(۷) اودوه ويشت(۲۲)عددونو پر اساس رامنځ ته شوی دی. ))[76]

ددغه متفکرينو په نزد په حروفو باندې عقيده يوه داسې هڅه وه چې له دغه لاري يې گويا کولی شول، پديدې اومسايل توضيح اوتشريح کړي. له دې امله حروفو ته په يو باطني ارزښت باندي قايل شول. نو له دې امله دهغو تشريح، توضيح، تبليغ اوپه خاص ډول دراز اورمز په باب دعوی دکراماتو، مهدويت، پيغمبرۍ يا الوهيت دمدعيانو له پاره شرعي اودمنلو وړ وگرځيد لې.

دمير فطروس په قول داتمې هجري پيړۍ په پای کې فضل الله آسترابادي[77] ادعا وکړه چې نوموړي ته دحروفو باطني اوواقعي مانا اودقران دحروفو راز څرگند شويدي اوالوهيت دهغه په

---

[76]طبري ،احسان. برخی بررسيها درباره ء جهانبيني ها_جنبش های اجتماعی درايران. چاپ چهارم. ۱۳۸۷(انتشارات ح،ت ،ا). ۵۴۰-مخ

[77]فضل الله آسترابادي :(سيد نعيمي )بن محمد تبريزي دحروفيه طريقي موسس ،کله چې رشد ته ورسيد دغه حرفه يې دخپل ژوند وسيله کړه ( ۷۸۸هجري)·سفرونه يې وکړل ·ايران ،عراق ،حجاز کې يې خپل عقايد تبليغ کړل

ظهور سره څر ګند شو. نومړي په دې خبره هم استناد کاوه چې دهغه نوم څو څو واري په قران کې ذکر شويدی ٠همدارنګه دانجيل ددې وينا څخه چې ويل يي ((لومړی کليمه وه اوکليمه خدای وه )) سخت تر اغيز لاندې و.
نومړي دا سې نتيجه ګيري کوله چې لفظ پر مانا باندې تقدم لري اوله لفظ پرته مانا نشته. . نومړي په دې باور هم و چې دقران دوه ديرش توري يا حروف دخدای اودانسان دپيژندنې کيلي ده .
له بلي خوا دنومړي په باور سره دغه ټول دوه ديرش توري حروف د،، آدم،، په کليمه کې تجلي کوي. حروفيان (آدم )اسم اعظم اودټولو اسماءو اوخواصو اوصفاتو جامع بولي. اوپه دې ډول يې (أُمْ الْكِتَابْ يا فَاتِحْتُ الْكِتابْ )بولي. حروفيان انسان ته دخدايي يا الوهيت مقام باندې قايل دي اوهغه ته يې لوړوي.[78]
په ختيزه نړۍکې، په ځانګړې توګه په اسلامي نړۍ کې داسې حرکتونه موجود و چې چې په خپلو زده کړواوتعاليمو کې يې فلسفي اونويو عقلي علومو ته پناه وړې ده. ددې لويه وجه دا ګڼلی شي چې کله تيموراودهغه دپاتې شونو ستم اوزورزياتی اوج ته ورسيد نو ځينو مفکرينو ديووالي، دهمنوع سره مينه ،معنوي ارامش اودمعنويت په لټه کيدل ورته داساسي مطالبو په توګه مطرح شول. دغه حرکتونه په حروفيه،نقطويه اوبکتاشيه اونورو نومو نو ياديدل.
شيخ سعدالدين محمود شبستري له يو شعر څخه پوهيږو چې وايي:

[78] مير فطروس علي. هفت گفتار ۱۰۵-۱۰۴ مخونه

یکی دریاست هستی نطق ساحل
صدف حرف وجواهر دانش دل

وجود علم ازان دریای ژرف است
غلاف دراو از صوت وحرف
است

تن تو ساحل وهستی چو
دریاست
بخارش فیض وباران علم
اسماست

خرد غواص ان بحر عظیم است
که اورا صد جواهر درگلیم است
دل امد علم را مانند یک ظرف
صدف برعلم دل صوتست یا
حرف

صدف بشکن برون کن در
وشهوار
بیافکن پوست ،مغز نغز بردار

لغت با اشتقاق ونحو با صرف

همـــی گـــرددهم پیـــردرمن حـــرف
((گلشن راز شبستري ))

حروفیه جنبش په تایخ کې کومه ناڅاپي پدیده نه ده، له دې جنبش څخه دمخه اووروسته دوی ته ورته جنبشونه موجود و. مثلا دحروفیه اړیکي له باطنیانو اویا اسماعیلي عقایدو سره اویا داهل حق دفرقي په ځانګړې توګه داسرارو دپټولو باندې دتاکید له پلوه ددورو په موجودیت باندې باور، اوپه هره دوره کې دالهی مظاهرو ظهور اود علي ابن ابی طالب په شخصیت باندې باور اویا بکتاشیه فرقه چې په ترکیه کې یې زیات نفوذ درلود، اویا نقطویه جنبش چې دشاه عباس صفوي په دوران کې یې پراختیا وموندده، اودبابیه جنبش چې په قاجاري دور کې ډیر روښانه دی، ټول اوټول ددې فکرې حرکت ښه مثالونه دي.[79] رامنځ ته شول. دغه جنبشونو اوحرکتونو په خپلو وختونو کې په ټول لوی خراسان کې نفوذ پیدا کړ. دې کې شک نشته چې دتش تحجر اودوګماتیزم په وړاندې مفکرینو تل بیلا بیلي لارې پلټلي دي.
له منطقي فکر کولو له دوران څخه ترمخه بشریت دهر څه له پاره په یو ډول سري اوپټو ځانګړنو قایل و. دغه هڅه له هر څه تر مخه دفیثاغورث په افکارو اواثارو کې جوته شویده.
(( فیثاغورثیانو اعداد اوشمیرې په خطي اوسطحي په مکعب اومتوازي الاضلاع اودري بعدي ویشي، اوټول ذوات اومفاهیم ددې اعدادو پوري مربوط ګڼي. متناهي اولامتناهي، جفت

[79] برخی بررسیها درباره ء جهانبیني ها جنبش های اجتماعی .... ۵۳۶ مخ

اوطاق واحد اومتعدد، کيڼ اوښی، نر اوماده، ساکن اومتحرک،سم اوکوږ، روښنايي اوتورتم، خېر اوشر، مربع اومستطيل، داسې ضدين دي چې دفيثاغورثيانو له نظره نړۍ له هغو جوړه شوې ده· دفيثاغورثيانو دښوونځي يو بنسټ اېښودونکی چې دفيلولای په نوم ياديږي ان اوازونو ته په سري مفهوم قايل و. ))[80]

په اسلامي افکارو کې هغه فرقي اوښوونځي چې ديوناني اونيو افلاطوني مکتبونو څخه اغيزمنې دي دفيثاغورثيانو اغيز هم په کې ليدل کيږي.

دغه فيثاغورثي افکار داخوان الصفا اواسماعيليه فرقې په نظرياتو اوعقايدو کې زيات اغيز درلود. حرفونه، الفاظو اواسمونو ته دداډول ځانګړنو انتساب په دغو جرياناتو کې اوږده ماضي لري. د ځينې نورو پوهنو اوفنونو نومونه هم اخيستل کيږي لکه دکابالستيک پوهنه هم له دې سره تړاو لري چې دمخه مو ورته اشاره وکړه. دغه راز دغريبه علومو لکه (( مانسريک ))،(( جفر جامعه ))، (( سيميا )) ،((علم اسما )) (( حساب ابجد )) اودجمل حساب )) يادونه هم په دې برخه کې اړينه ده.

د جفر طلسم ډوله پوهنې په اړوند روايت داسې دی چې وايي: داعلم پيغمبر داوزګوړي يا سيرلکي په پوټکي وليکه اوحضرت علي (رض ) ته يې ورکړ، اوله همدې امله دجفر په نوم ياديږي· دا ځکه چې په عربي کې اوزګوړی ته جفر وايي.

---

[80] هماغه اثر ۵۳۶مخ

دچیتک په قول د ابن العربي شیخ اکبر له نظره اسما او الهي صفات هم دوجو د پیژندنې اوهم دمعرفت پیژندنې له پلوه دڅرګند او ناڅرګند عالم ترمنځ اړیکې څرګندوي· دالهي اسما وو پرته چې دوحي په متونو کې یې یادونه شویده· هیڅ څوک نه شي کولای دوجود په ډولونو باندې بشپړ معرفت تر لاسه کړي· اسما دعیني واقعیت حکایه کوي اوپه دې ډول دهغه اشکالو اواطوارو ترسیم کوونکي دي چې وجود دآیاتو یعني دعالم داشیاو له لارې څرګندیږي·

دشیخ اکبر په باور سره(( یوازې خدای تعالې په بشپړه توګه اوحقیقي ډول دصفاتو خاوند دی. ژوندپوهه ،اراده اوحقیقي قدرت یوازې په هغه پورې اړه لري خو ټول شیان له دې امله چې په نړۍ کې میندل شویدي دژوند ، علم ارادې او دخدای دقدرت ځانګړې خواوې را برسیره کوي. خو دهغو حیات حقیقي حیات نه دی دا ځکه چې حقیقي حیات یوازې دخدای پورې اړه لري. په عین حال کې که دهغو حیات کاملا غیر حقیقي و ، نو نه به یې علم درلود اونه به یې پوهه او درک. ))[81]

سره له دې چې شیخ په غالب ګومان دخدای نهه نوي نومونو ته اشاره کوي اوداسنادو په جواز سره دوجود هر صفت، دهغه اسنادو د اهمیت په بنیاد سره په وحیاني متونو باندې تاکید کوي، له بلې خوا دا څرګندوي چې دخدای نومونه نه شو کولای چې وشمیرو یا په یاد کې وسپارو· دا ځکه چې هر عیني موجود دوجود دحکم څرګندونه کوي. په نتیجه کې په وجود دلالت کوي

---

81 ویلیام چیتك .عوالم خیال ابن العربي واختلاف ادیان . . قاسم کاکایي ۳۴, مخ

اودهغه تسمیه کوونکی دی. نو هر څه کولای شو دخدای نوم وبولو. په هماغه اندازه چې دخدای دعلم متعلقات لایتناهي دي نو دخدای نومونه هم بې نهایت دي.[82]

داسماوؤ په پوهنه کې په خاص ډول اسماؤ الحسنی چې خدای په همدې نومونو دی اوپه قران کې یې یادونه شویده لکه ،، ملک ،، ،،قدوس ،، ،،باري ،، ،، مصور ،، اونورو په اړوند خبرې کیږي. یو له هغو نومونو چې په تصوفي متونو اوڅیړنو کې یې زیاته یادونه شویده اودحالنامي له قوله چې روښان پیر هم دهغه یادونه کوي اسم اعظم دی. باور داسې دی چې که څوک له هغه خبر شي کولی شي خپل ټول مرادونه پوره کړي.

فکر کیږي چې په اسلامي فرهنګ کې له هغو فلاسفه و څخه چې دحروفو په راز اوارزښتونو یې زیات بحثونه کړي اودیونانې فلسفې سره هم اشنا و ، ابن سینای بلخي دی.

خو داسې نه ده، بلکې په اسلامي فلاسفه و کې په متکلمینو کې دا کار اوږده ماضي لري. دې بحث په بیلابیلو اسلامي فرقو کې رواج درلود. دمثال په ډول په اشاعره وکې دنفایس الفنون په قول ((مذهب اهل توقیع )) په دې باور درلود او خدای یې دلغاتو اوحروفو واضع باله، اوپه دې باور و چې خداې په خپله اصوات اوحروف داجسامو په جسم کې ځای کړل یا خلق کړل چې انسانانو هغه واوریدل چې ددې الفاظو واضع دمعانیو له مخې وضع کړ اوپر اشاعره و سربیره داخوان الصفا فرقې لیکوالو هم ډیرې مشهورې رسالې چې دحروفو په رمز باندې یې عقیده

---

[82] پورتنی اثر۳۴مخ

درلودله، کښلي دي.

(( اصولاً دمتصوفینو په منځ کې حروف د ،،موجوداتو داصلي واقعیت ،، په توګه تعریف کیږي .دوی په عالي حروفو عقیده درلوده چې هغې ته یې (( شوؤن ذاتیه موجود درغیب الغیوب )) ویل ، هماغه ډول چې ((ونه )) په ((زړي )) کې په ذاتي ډول موجوده ده،نو ټول موجودات په عالیه حروفو کې په (( غیب ا لغیوب )) کې موجود و. ابن العربي ....دعلم الحروف له معتقدینو څخه وو.[83]

دخیرالبیان په سر کې دهغه دیالوګ (یا بدایت الکتاب) یوه په زړه پورې خبره هم داده.

خو په پښتو ادب اوفرهنګ کې چې کله پلټنه کوو، نو دلیکنې دحرفونو یو ډول عرفاني تعبیر اوتفسیر کیږي. دا کار بایزید روښان په همدغو کلماتو پیلوي. لکه چې مونږ ورته تر مخه اشاره وکړه. بیا دهغه پلویان ارزاني خویشکې چې دخپل دور یو بې مثاله استعداد و. پیل کړي اومیرزا خان هم ورته دوام ورکړی دی.

دا کار دوی پیل کړې خو دومره موثر اواغیزمن کار و چې ان ددوی مخالفینو هم ورته اوږه ورکړې اودکریمداد په نوم داخوند درویزه زوی هم په دې اړوند کښلي دي.

مونږ په دې څیړنه کې یوازې دمیرزا خان انصاري په دیوان اوشعر خبرې کوو. اوپه لومړي سر کې دالفنامې فلسفي اساسات راسپړو اوپه الفنامه کې داب ت یا دحرفونو په ارزښت خبرې کوو. خو ترمخه تردې دا ټکې دپام وړ دی چې وایي:

---

[83] وګورئ دزیاتي توضیح له پاره دا.ط اثر. ۵۳۹

(( دحرفونو کښل په تادي دحرفونو څرګندول ونمون وښوول په مادي وکښه زما په فرمان په مانند دحرفونو دقران اوکیږده په ځنې حرفونو ټکي یا غړوندي یا نورې نښانې بې له حرفونو ژر به وپیژني ادمیان.ځنې حرفونه څلور څلور وکښه عیان ژر به یي زده کا چې لولي ساه ورسره باسي له دوه وسترى حرفو سره ادمیان ))

له یوې خوا که دحروفو کښل اودهغو غړونه یوه خبره ده، نو له بلې خوا دهغو پر مانا اوښوولو اسماني پوهه غواړي. مانا داچې دهغو تعبیر اوتفسیر دلوى ذات سره دى·

بل داچې دروښان په دور کې فارسې اوعربې ژبې په پښتنې فرهنګ حاکمې وې. هر څه لیک لوست په دغه دواړو ژبو کیدل. خو روښان اودهغه پیروانو دڅا خبره د((دوزخ ژبه)) ددین اومذهب ژبه کړه. اوپه خپل زړورتوب اوایثار سره یې دا وښوده چې پښتو هم دلیکنې دعلم ددین اوفلسفې ژبه کېداى شې.اوهم پښتانه له همدې ژبې سره جنت ته تللى شي.

له بلې خوا دحروفو اوکلماتو اواصواتو اوارقامو ژبه اوارزښتونه اوقیمتونه دفلسفې اوعرفان یو ګډ اومشترک بحث دى چې په پښتو کې روښانیانو پیل کړى دى خو په اسلامي فرهنګ کې له پخوا موجود و اوپه دې اړوند اوږده بحثونه موجود دي. چې ښه به وي دمساءلي دښې روښانتیا اودمیرزا خان دفلسفې لید توګې دراسپړلو له پاره پر دغه زمینه باندې لږه څه رڼا واچوو.

ج: د میرزا خان الف نامه او د هغې تصوفي او فلسفي مفاهیم په روښانیانو کي دالفنامې په کښلو کې ملا ارزاني دروښان

دډیرو تکړه اوبا استعداده پیروانوڅخه او مخکښ شخصیت دی. دهغه دیوان حجیم اودمیرزا خان ددیوان په څیر دفکر له پلوه سیستماتیک اثر دی. خو دمیرزا خان الفنامه دهمدغه مکتب دفکري بنسټ له پاره دڅراغ حیثیت لري. په کې لیدلی شو چې څومره دوخت دمتداوله علومو اومعلوماتو ټول اوذخېره په کې راټوله شویده اودلومړي ځل له پاره په پښتوژبه بیان شویده.

داستاد محمد اصف صمیم په قول: (( په پښتو ادب کې دالفنامي پیل په لسم هجري قرن کې وشو ، لومړنی دیوان وال شاعر چې الفنامه یې نظم کړه ارزاني خویشکی دی، چې دوی الفنامې یې نظم کړي دي. )) [84]

خو دمیرزا خان الفنامه چې ددیوان په سر کې راغلی ده دغزل په چوکاټ کې ده. اود۳۱ حروفو تشریح اوتفسیر په کې شویدی. ددې الفنامې یوازې تغزلي مفهوم مهم نه بلکي فلسفي اوعرفاني اړخ یې خورا مهم دی.

دمیرزا خان الفنامه دقران پاک په جزییاتو اوجوړښت پیل کیږي ٠حمد اوثنا وایي په حروفو خبرې کوي ٠ قران دتوحید دعلم په توګه اونور یې اشارات بولي٠ په دې څرګندونو کې دتوحید علم په حروفو کې څرګند شوی دی٠

دتوحید علم یو ویل اویو کول دي. دا په ایمان کې لومړی شرط دی. چې دمعرفت مبدا ده. ددې خبري تصدیق دی چې خدای یو دی. دویمه مانا یې داده چې دمعرفت کمال دی چې دایمان څخه وروسته حاصل کیږي. په دي مانا هر کله چې مومن په دې باور

[84] صمیم .محمد اصف .پښتو نامې (ټولونه اوڅیړنه ) پیښور چاپ. دانش خپرندویه ټولنه. ۷ مخ

شي چې په وجود کې دخداي اودهغه له فيضه پرته بل څه نشته اودهغه فيض هم په منفرد ډول کې نه دی نو خپل نظر له کثرت نه اړوي هر څه يو بولي اوهر څه واحد ويني.[85]
الف: په الف کې وحدت په کثرت کې تعبير شوی اوالف ديگانگۍ دسمبول په توگه يادشوی دی:

اول ځــړه وحـــدت دی
نن راغلي پر کثرت دی

پـــر ســړي بانـــدې يـــې
ايښــــــــــــــــی
دا خپل علم امانت دی.

وحدت يووالي اويگانگي ده ، دعارفانو په باور سره دحقيقي وحدت مراد دحق وجود دی، (( وحدت وجود )) يعني واحد وجود ، حقيقي واحد دی، اوداشياو وجود دحق تجلي ده داشياو په ډول باندې. اوکثرات مراتب ،اعتباري چارې دي.[86]
څرنگه چې وحدت اويووالی، دميرزا خان دديوان اساسی فکري ليد لوری دي نو غواړو لږ څه په دې خبره تمرکز وکړو. دانگليسي فيلسوف استيس په قول: وحد ت الوجود داسې فلسفه ده چې ددواړو قضاياوو جامع اوتاييدونکي ده. يعني:
١.جهان له خدای سره يو ډول دی. ( يو ) دی.

---

[85]داکتر سيد جعفر سجادي. فرهنگ اصطلاحات وتعبيرات عرفاني .کال ١٣٨١,.انتشارات طهوري ,زبان وفرهنگ ايران. ٢۶۶, مخ
[86]همدغه اثر مخ ٧٨٢-

۲. نړۍ له خدايه جلا ده. يعني له ذات مقدس سره يو شان نه ده. استيس په دې ډول ځينو نيوکو ته چې په وحدت الوجود شوي ځواب ورکوي .خو دا وينا سملاسي بله پوښتنه په ذهن کې را ولاړوي. يعنې ورته والی اونه ورته والی.

شيخ اکبر چې په اسلامي فرهنگ کې ددې لارې لوی پيشوا اومفکر دی هغه په فلسفي لحاظ په پانته ييزم متهم دی ( يعنې دوحدت الوجود په فلسفي اعتقاد چې مونيزم يا يګانګي هم ترې مراد ده ) ددې مفکوري په اساس يوازې يو واقعيت موجود دی اوهغه خدای تعالی دی. په دې تفسير سره چې خدای يعنې دټولو اشياوو اوموجوداتو ټول دی(Sum of all things)

ابن عربي وايي: (هيڅ موجود اوهيڅ عيني له خدايه بهر نه دی. بلکې هر صفت چې په عالم کې ظاهريږي په حضرت حق کې ديووالي عينيت لري ,, ددې دليل دادی چې دهيڅ شي وجود به له هغه بهر نه وی. ځکه که دکوم شي وجود له هغه بهر وي نو په هغه شي کې به حکم ونه شي کړای. اوپه هغه به حاکم نه وي. ))[87] په پښتو ادبياتو کې کله هم دغه دوه ګړني سره په غلط ډول کارول کيږي اوان کله په نه دقت سره کارول کيږي.

يو شمير متفکرين په دې باور دي چې دشاعرانه خيال په لړ کې ددې له پاره چې وحدت الوجود عارفانه حقيقت وښيې نو دوحدت الشهود مساله اصله بولي اودوجودي وحدت تعبير،بې ځايه تفسير يا شاعرانه يا تجربي عارفانه تلقي اوانګيرنه بولي. شبلي نعماني د((همه اوست)) يا وحدت وجود په نظر داسې وايي:

---

[87] کاکايي ،قاسم .-وحدت وجود به روايت ابن عربي ومايستر اکهارت. چاپ .انتشارات هرمس ،تهران: چاپ سوم .۱۳۸۵ .مخ ۵۹۴

((۰ دا خیال په لومړي سر کې له حقیقي عشق نه پیدا شوی دی، یعنې کله چې دمحبت نشه دعرفان اوشهود په خاوندانو غلبه کړې په هغه وخت کې یې دحقیقي معشوق پرته ( صانع کل ) نه پرته بل هیڅ نه لیدل. شعروشاعرۍ (تصوف ) هم دا حالت مجسم کړ ی دی اوزمونږ له نظره تیریږي. چې دې ته شهود وايي خو همدا خیال په کرار کرار پر مخ تللی اووحدت الوجود ته رسیدلی، داسې چې له خدایه پرته له اوله تر اخیره نور څه نشته. یاداسې وايي هغه څه چې په عالم کې په نظر راځي بس خدای دی اوبس.[88]
وحدت یعنې یووالی، یګانګي، واحد صفت دی دعارفانو په نظر دحقیقي وحدت نه مراد دحق وجود دی. ((وحدت وجود ))یعنې واحد وجود حقیقت دی. اوداشیاو وجود دشیانو په صورت کې دحق تجلي ده
اودشیانو کثرت اعتبار نه لري.[89]
ب: دباور اوعقیدت دراز په توګه بلل شوې اوپه دې حرف کې دسالک دباور پړاو تشریح کیږي ۰ په دې مانا چې هدف یې د وحدت تایید اوتصدیق دی اوپر هغه باندې باور اوداغیار ونفي کول اوترک کول دی .نومونږ ي د((قرآن دنَحْنُ اَقْرَبَ ایت)) پر بنسټ دغه توجیه کوي ۰ همدارنګه ددې حرف دتوجیه اوتعبیر په ترڅ کې دکارغه اوتوتي دسمبول یادونه کوي ۰کارغه دنفس اماره اوتوتي دپاکۍ سمبول بولي ۰ همدارنګه د((فنا )) په درس هم ټینګار کوي۰ اوفنا دابدیت سرمنزل بولي ۰

88 پورتني اثر. ۹۲مخ
89فرهنګ اصطلاحات عرفاني ۷۸۲ مخ

ب بـاور پـه دا کـلام کـړه
تـه دویـم فکـر حـرام کـړه

چې کلیات پـه کې ووینې
نـن طلـب د هغـه جـام کـړه

نحـــــن اقـــــرب الیــــــه
تـه یې فهـم پـر پیغـام کـړه

لکه چې پوهیږو عرفاني پوهه اوتصوفي سیر سلوک یو ډول اروا پوهنیزه تجربه هم ده. انسان یا ((کامل انسان)) یا مرشد اوصوفي ددې تجربې له لارې له بیلو بېلو پړاوونو تیرېږي اوکمال ته رسیږي.
دمثال په توګه نفس په صوفیانه ادبیاتو کې عبارت دي، دخلاصه لطایفو له ټول څخه اودبدن د اجزاوله ترکیب څخه چې حیواني اوطبیعي روح هم ورته وایي. اوهغه نور چې پر دوی باندې ځلیږي، هغه علوي انساني روح دی چې ددغه نور په وسیله انسان دالهام،فجور اوتقوی مورد ګرځي. نفس اماره، لوامه اومطمینه ټول هغه نومونه دي چې په رواني اوانفسي پړاوونو کې بیلابیل حالتونه بیانوي اوداعتلا په لور له کښته څخه دپورته په لور دروح دخلاصون اوپاکۍ مدارج ښيي.
ت:
دغه راز دت په حرف کې درس ورکوي ۰ دتادۍ درس (عجله )

اودوخت په نه ضايع کيدلو باندې ټينګار کوي. اوددې کار له پاره سمبول بلل شوی دی. نوموړی وايي:
دوحدت شها راغله. دا شها څه مانا لري نوموړي دکرشمه لفظ هم کاروي.

ت تلوار کړه په دامرسته
نـن طلـب وکـړه دقسـتـه
(قصــــــــــــده)
د حاصـلو وقـت دې دادی
څو اختيـار دي دی دلاسـه

ث: دث په توري کې نوموړی په ثنا تاکيد کوي اوپه دې ټينګار کوي چې خدای ته چې دشاه سمبول اوکليمه کاروي اوبيا هم په دې ټينګار کوي چې هغه ذات انسان ته له شاهرګ څخه نږدې دی.

ث ثنــا کـــړه دتوحيـــده
نـن خبر شـه لـه دې خريـده
شــاه تــر تــانزدې وتاتــه
بـل رخ مـه درومـه بعيـده

ج:
ج: د جمال او ښکلا توصيف دی يوازې عارف په دې راز پوهيږي اوغافل کس دهغه له ليدو بې برخې دی. هغه څو ځايه په تمثيلي توګه دشاه سمبول دخدای له پاره کاروي. شاعر د خدای قدرت

دنم اورطوبت په مثال يادوي چې کله دغه نم گياه ته ورسيږي نو ژوند ورکوي٠

ج جمال يې صبح گاه دی
ددې يو زلف په پناه دی

په هرلوري تجلي کا
دغافل دليل کوتاه دی

ح:
دح لفظ دخدای دحضور تعبير دی چې هر کس ته دهغه له کميسه هم نږدی دی. هغه عارف ته داور اولمر مثال لري٠ شاه له انسان سره يو دی.

ح حاضر دی که يې گورې
درنزدی دی په تا پورې

خ– خودي ده.
داسې خودي چې شک کول په کې زيان دی. هغه په وحدت کې دی٠ له کثرته متاثر دی اودهغه مکان دسړي په تن اووجود کی دی٠

خ خودي دې خپل گومان دی
په گومان کې دې خپل زيان
دی
حد پايان يې مونده نه شي

خودي يا خودخواهي يا ځان غوښتنه ځان ته کتل چې له خدای ليدلو اوپه دې باب له فکر کولو سره مغايرت لري. دسلوک له ادابو يو دادی چې ځان ته به نه گوري. ځان ته مه گوره چې ځان غوښتنه مخ نه لري. په ځان فکر مه کوه چې ځان ته پام اوځان په باب فکر کولو په باب اجازه نه شته. ځان غوره مه بوله چې د ځان غوره کولو له پاره شرط نشته. ((دورباش از صحبت خودپرور عادت پرست بوسه بر خاک کف پای ز خود بيزار زن خودرا منگار که حق تورا مينگارد. ))[90]

د- دليل

بايد دلايل پخپله ومومي اوددې له پاره دپيغمبر ددلايلو تعقيبول، له عقل نه کار اخيستل اوله شيطان نه ځان ژغورل دي٠

د دليل دې خپل رفيق کړه
نن طلب ددې شفيق کړه

ذ- دذکر تعبير دی ٠ ذکر دحقيقت موندنې پيلامه ده په ذکر مشغوليدل لکه داور اورکي سوځيدل دي.کله چې سجده کوي نو دخپل وجود نه لاس پرې منځه٠ دمحمود اواياز مشابهت يادوي ٠ ځان مسکين بولي اوهغه خدای ته دمسکين نواز خطاب کوي٠ دمحمود اواياز دعشق افسانه دلته تصوفي تمثيل دی. همدا راز مسکين، اومسکين نواز هم په عرفاني ادبياتو کې يو ه زړه

---

90 فرهنگ اصطلاحات عرفاني ۳۷۴مخ

اولرغوني كلاسيكه ( منل شوې ) ګڼنه ده. چې ان په روښاني ادبياتو كې ډير ځله كارول كيږي.

ذ ذكر د زړه راز دى

دا د حقيقت اغاز دى

پطروشفسكي په خپل اسلام په ايران نومي اثر كې ليكي: (( ددويمي اوځلورمي هجري پيړيو تر منځ ددې په خوا كې منفرد صوفيان چې په ((تمرين )) اومراقبه زهد اوعرفان باندې مشغول و اوپه عين حا ل كې يې دايمي كسبونه لكه كاسبي (كوچني كسبونه سوداګري اونور ) څخه لاس نه اخيست، ځينې حرفه يي صوفيان چې ګدا پيشه و هم ياديدل، په هغه وخت كې يې زموږ دوخت په څير هغو ته فقير يا بيوزلي (( مستمند )) چې له فقر يا مستمند كيدلو څخه اخيستل شوي اويا دفارسي مترادف لغت ((درويش )) ورته ويل كيدل .درويش په خاصه اومحدوده مانا ((زاهد –عارف)) يا سوالګر ته ويل كيږي چې خصوصي ملكيت ونه لري اوخانه بدوش وي· يا په خانقاه اويا كنج كې ددرويشانو ناست وي خو ددرويش اوفقير كلمات په وسيع مانا دصوفي سره مترادف دي.)) [91]

په پښتو عرفاني ادبياتو كې هم دا ګڼي په عين مانا اومفهوم استعمال شويدي. رحمان بابا ددرويشانو په نوم شعر ونه لري، ((ماليدلى دى رفتار ددرويشانو )).

دغه راز مسكين ويلي دينه، فقير، زاهد اوداسې نور ډير

---

[91] پطروشفسكي. اسلام درايران .(ترجمه كريم كشاورز ) چاپ: نشر نيما المان. چاپ ۱۹۹۸. مخ ۳۴۲

اصطلاحات په کرات کارول شویدي.

ر- رویت دی اودیدار دهغه په فکر سپیڅلی دی ۰ دشها هغه یود رڼاڅرک دملکونو له پاره رڼایي ده۰ هغه یې دمعشوقي سره پرتله کوي ۰ خدای په خاورو مهرباني وکړه چې ادم یې ترې جوړ کړ اورسول هم چې دلولاک درجې ته رسیدلی دی۰ حق له شاهرگه هم نږدی دی۰

ر رویت د شـــها پاک دی
له هر چا سره امساک دی

ز-انسان ته په خطاب تعبیر شوي چې په اوبو اوهوا ژوندی دی خو دسمندر په طلب کې دی. دانسان له پاره یوازې بدگماني ددې سبب شوې چې له معرفت څخه په واټن اوفاصله کې واقع شي.

ز زنـــده په هوا اب یی
په طلب ددې دریاب یې

س: خطاب کوي چې سالک شه اوپه اخلاص دغه سلوک غوره کړه. باید پوه شي چې دغه سلوک په سختۍ حاصلیږي. ته په سربازۍ اختیار شه، کله چې دعشق ډیوه بله شي نو دپتنگ غوندې ترې ځارشه.

س ســـالک پر دغه لارشه
په اخلاص یې طلب گار شه

ش: شها دی چې تاته له هر څه نږدې دی، بې پروا دی دسالک خزانه دهغه په کور کې ده. خو هغه درویزه کړي .خدای له خرقه

پوشو ویزار دی او دزړه بوڼ یې له استینه.

ش شهـا وتا قرینه

بې پراو ده نازنینه

ص: صراط المستقیم دی. خو منزل یې له ویرې او ترهې ډک دی په دې لار کې شیطان شته او له هغه هم ډیر بد تر نوس(نفس) غلیم دی. په دغه سیده او مستقیمه لار کې هوا اوهوس بد حال اوبد تعلیم، اولاد مال، نام اوننګ ددود اودستور او په دونیا کې هغه څوک چې د شیطان اوري، نه مرېږي · خو چې انسان په دې سیده لار کې له ټولو موانعو په برې تیر شي نو هغه کامل او قلوب سلیم دی.

ص صـــراط الستقیم دی

او منزل یې په ډیر بیم دی

ض: ضلال یا روښنایي دتورتم ده اودا روښنایي داب حیات حیثیت لري. ددې روښنایي په اثر درڼا شغله پاتې شوه اودا داوبو دیخ دماتولو حیثیت لري په وحدت کې یګانګي له تشویش او اندیښنو خخه دنجات لاره ده.

ض ضلال دظلـمات دی

او ظلمات اب حیات دی

ط: دطلب مفهوم افاده کوي په طلب اوغوښتنې شها خپلیږي که په دې اوږده لاره کې که ددیدن اودیدار پړاو ته ونه رسیږي نو ټوله بنده ګي بې مانا ده. دطلب په افاده کې ویل کیږي چې

دګومان تعقیب په کار نه دی ځکه چې حق له تاڅخه وتاته نږدې دی. ډیره نوې خبره داده چې عرش ته خپل عارفان وینې اوعرش چیرته دی .عرش دمومن زړه دی. په پای کې وایي هر کله چې ته خپله هستي فاني کړې نو له شاه سره به واصل شې.

ط طلب وکړه ســـایله
په طلب کړه شها خپله

ظ: په ظ کې ظالم نفس تشریح کیږي دغه ظالم نفس دانسان سره بخیل دی اوهر هغه څوک چې ددغه نفس له خوا لاندې شوي وي اووژل شوي وي له عذاب نه به خلاص نه شي. هغه څوک چې ددغه نفس اوددغه شیطان په لاس کښیوزي نو سزا یې دوزخ دی.

ظ ظالم نفس دې دخیل دی
دی له تا سره بخـــیل دی

ع: دعیب افاده لري اویا دامطلب په کې څیړل شوی دی .ګومان کول اوګومان لرل لوی عیب دی. خاطر جمعي اورواني فراغت هیڅکله هغه چاته په لاس نه ورځي چې په هیڅ پسې پریشان دي .هغه څوک چې ګومان اوشک کوي دبې بارانه وریځې په مثال دی. خو دپرست یوازې دځان په فکر کې وي دا په مثال دظاهر ادم اوپه باطن کې دحیوان مثال لري. په داسې وجود کې دیوسف مثال لري چې روح یوسف اوصورت یې زندان دی دایوه رواني تجربه ده دروح اوتن په اړوند تجربه.

ع دا عیب د بد ګومان دی

## په ګومان عالم حیران دی

غ: د غ په حرف کې دبیګانه اوغیر خویو دتغییر اوبدلون لاربنوونه کوي اووایي چې روح بادشاه اوعقل وزیر کړه. دروح اوعقل په باب خاص نظر لري: نوس (نفس)دعقل خلاف دی اوددې مقابله په دانش اوفهم وکړه دشیطان مکرونه ډیر دي. په دې بند کې وايي، ستا په کور کې پنځه غله دي. دا پنځه غله ټول بندیان کړه.

طمع توکل، خناس د خدای یاد باندې تحریر کړه مجاز خوي د حقیقت تعبیر

اخلاص تـه نـږدې شـه
دتزویـر لبـاس لیـرې کـړه
غ داغیرې خوی تغیبر کـړه
روح بادشاه عقل وزیر کـړه

ف: فنا یا دتن صفت خامخا دی. څه چې بې وفادي هغه رسم عادت دی. انسان دې دوجود دغه فنا وغواړي. دخدای څو ډوله عزت په هغه کې شته. علم لدني لري. هر څه اوري اوهر څه ویني، له مخلوقاتو مستغني دی. اوداد هغه ټول ارادت دی چې ته له حق نه ناخبره یي نو په ژوند کې معصیت دی. انسان ته اوه ډولونه یي امانت ورکړل شوی دی. که ته صورت فاني کړي نو دامستقیم معرفت دی.

ف فاني دتن صفت دی

## بې وفا رسم عادت دی

د ((فنا )) ګړنه یا لغت په عرفاني ادب کې د اساسي هغو څخه ده. فنا یعنې له ځانه تیریدل او له خدایه سره یو کیدل دي. په دې برخه کې خبره د خدای سره رابطه او یا له خدایه سره قرب نه دی. بلکې یوازې له خدای سره د یووالی خبره ده. او یوازې د سالک او عارف خبره هم نه ده. په دې اساس د هغه ((خودي)) شناخت دی چې تل باقي وه. هغه چې هیڅکله نه وه او تل فاني وه. د عارف امتیاز د دغه ذوق او فنا او بقا په درک کې دا دی چې لومړی باید د دغه دوه ((خودیو)) (فاني او باقي)، هدف روښانه شي چې د فنا او بقا مانا په ډاګه شي.

ق: د ټولو چار او قدرت او وس لري او د ټول عالم اختیار د هغه سره دی د خدای صفت بیانوي. هغه په وحدت کې یګانه او په کثرت کې بې شمیره دی. د هغه په وس کې ده چې دیوه دریاب له نوه (څاڅکي )هم ګل ټوکوي هم خار.

په خلوت کې یک نما دی
هم په ښهر هم په بازار کې.

هغه په کعبه کې مسلمان او په کنشت کې کفار
په هـــــر څه او هر چا کې خپل کردار ځلوي.

ق قــــادر په خپله چار دی
په هر څه کې یې اختیار دی

ک: هم دخدای نوم اوصفت دی. هغه څوک چې په خپلو اخلاقو کریم شي. هغه دخدای لاره نیسي داسې ساقي دی چې ټول رندان پرې اتفاق لري. دهغه شهرت په افاق کې دی. له غافلو بې پروا اوپه نیازمندو مهربان دی په دې بند کې دمجاز ي عشق ټول مفاهیم کاروي. خو هغه څوک چې ورته په فکر کې نه دی ګمان لري. په واقعیت کې دهغه خونه دانسان په زړه کې ده.

ک کریم په خپل اخلاق دی
دا دستور یې له میثاق دی

ل: داهل پیغمبر په باب ستاینه ده. دپیغمبر اهل بیت کمیني اوتواضع اختیار کړه نو په معنوي لحاظ منور شول .قارون دظلم اودنیا داری سمبول دی. هغه به ګدا شي که دخپل ګوهر ساتونکي شي. هغه څوک چې له زړه شک لیري کړي اوباور ته ورسیږي. نه به دفردوس په فکر وي اوهم به له سقر نه بې پروا وي. یوازې درضا حصول دستونزو اومسالې حل دی. په هغه صورت کې چې سالک په بحروبر محیط او یووالی (( یګانګي )) ورته حاصله شي.

ل لـــه اهله به خبر شې
که پس رو د پیغمبر شې

م: دمهدي اخیرالزمان توصیف دی
مهـدي روح الامین دی

خود راغلی مرسلین دی

دمهدي دصورت سیوری نشته خو دلمر غوندې روښانه دی په وحدت کې یگانه اوله کفر ودینه بې پروا دي.

په هر څه کې ځای لري
اسرافیل چې شپیلۍ پوه کا
نوبیا ځای اربعین دی

هغه څوک چې پخوا مړه شوي بیا راژوندي کیږي اوهغه څوک چې پرې دگومان اوشک له مرحلې ووځي ځای اومقام یې علیین دی.

دا د روح اصل له خـدایه
د میرزا صورت کمین دی

ن: دلذت برکت اولارښوونه داده چې خپل گومان نفي کوي هغه گومان چې ته ورته حیران یې. نخبه اووتلی ددوه کونو سلطان وي. یعني په دوگانگۍ کې غرق وي بدحجاب مبتلا په هجران له لاهوته مستغني کښیوتلی په زندان دغفلت نیشه اوسرگردان په ډیرو اندیښنو کې پریشان. که په پای کې گومان لیرې کړې نو دځمکې اواسمان لوي یې.

ن نفی په خــپل گومان یې
ته په خپل گومان حیران یې

و: دوحدت تعبیر دی. چې ټول اشیا ددغه ذات صفات دي. ارواح

–ډول ډول دی اود قران په ایاتو کې دي· یوازې امین روح ابدي دي اوتل ژوندی دی.
امین روح له تاسره په هر حالت کې دی. څلور ډوله ارواح موجود دي. په سړي کې گوینده په حیوان کې گنگ په ونو کې حسي جمادات.

و وحدت بې مثله ذات دی
کل اشـــیا ددە صفات دی

ه: دهادي ستاینه ده هغه دجهان میر دی. اودهغه ضمیر جام جم دی. له پورته تر کښته اوله اعلی تر اسفله، په هر څه پوه دی. قناعت دهغه خزانه ،په فقیر رحم لري له درویشانو ارادت لري. که هر څوک وي که بادشاه اوکه وزیر ددواړو جهانونو له متاع یې عنایت زیات دی. دهغه تجلې پر هر لورې ده لکه لمر.

هه هادې دجهان میر دی
جـام جم ددە ضمیر دی

ل: دلا یا نفي تعبیر دی· هغه چې له حق نه غافل دی په کړاو اخته دی. هغه دحقیقي اصل له لیدو نه عاجز ، او له لیدلو بینوا دی· دهوا اوهوس یې واوریدل اوپه دې ډول ظالم اوله جنته را بهر شوی دی. (( په دې برخه کې دخلقت اسطورې ته اشاره ده ))دظالم اوجاهل نومونه ورکړل شول اودامانت برده شوی دی.

ل وایـي نفې صورت یی

## چې له حقه په غفلت يې

الف: (ء) دا الف هم اول او هم اخير دی. هم باطن او هم ظاهر دی هر څه په رضا کوي او په هر کار قدرت لري. هغه په ټولو غوږونو شنوا او په خوله ذاکر دی. هغه چې له وحدته يې را کوچ وکه نن يې زړه په مهندر دی. هغه چې له اصل نه خبر نه وي خوی يې دقچر اوحيوان وي او امانت دخدای ورکړه

الف (همزه ) اول هم اخر دی
هم بـــاطن او هم ظاهر دی

ی: دا يو پادشاه دی، په هر لوري دهغه رڼا ده دکثرت په کاليو کې څو ډوله را څرگند دی.يو نخاس يې سرانجام هم دلال دی اوهم متاع په عجب سرود کې اينگ په سماع کې دی.

د د کثـــرت لبـــاس يــــې
واغوســـــــــــــت
را څرگند په څو انواع دی
اوس له عشقه هم پياله شه
د تـــوبې رفيـــق وداع دی

## د: د الفنامې ځانگړنې

(۱)

اوس که دميرزا خان په ديوان کې دحروفو تعبير او تفسير ته وگور و ،دڅو ټکو يادونه کولای شو.

يو: ميرزا خان دحروفيه په نوم دکوم حرکت نوم نه اخلي او نه ورته معتقد دی. خو دنورو حروفيه پيروانو برخلاف ميرزا خان د پښتو ژبې متداول اصطلاحات تعبير اوتشريح کړي دي. او د پښتو اصطلاحاتو پر بنياد يې دخپل فکري سيستم يعنې وحدت الوجود لاره تشريح کړې ده. دمثال په توګه

ت ( تادې ) ث ثنا ، ج جمال، ح دخدای حضور ، د دليل، ذ ذکر س سالک ط ، طلب، ظ ظالم، غ غير او بيګانه، ف، فنا ، ق قدرت، و وحدت، او نور...

سره له دې چې دغه اصطلاحاتو زياتره يې په فارسي او ممکن په عربي ژبو کې هم دا مانا ورکړي. دا ځکه چې تصوفي ادبيات ان دعربي په نسبت زيات په فارسي کې رواج شوې اوله بلې خوا فارسې ژبه په هند کې دمغلي دربار ژبه هم وه نو دې کې اشکال نشته. خو دميرزا خان انصاري نوښت په دې کې دی چې هغه په پښتو شعر دغه اصطلاحات تشريح کړي د.

دويمه: داچې په دې اصطلاحاتو کې تر کومه ځايه چې حروف کولای شي، دوحدت الوجود دفلسفې اساسي ارکان اواجزا تشريح کوي او په يو فکري قالب کې يې اچوي.

دريمه دا چې له تصوفي اصطلاحاتو سربيره، په حروفو کې يو لړ سمبولونه او مفاهيم چې د شعر او تغزل په ژبه کې زيات رواج دي، ميرزا خان هم راوړي دي اوکارولي يې دي. لکه شک، شها ، عشق ،جمال، کارغه، طوطي او داسې نور.

(٢)

وحدت الوجود یوه داسې لید توګه ده چې له عرفان څخه سرچینه نیسي. په عرفان کې په پرله پسې توګه دیو ډول وحدت یا مونیزم سره مخامخ یو· عارف داسې څوک دی چې دوحدت دشهود له درجې برخورداره و ي. په همدې اساس دوحدت الوجود اودعرفان تاریخ سره نه بیلیدونکي دي.

له بلې خوا دې ټکي ته توجه لازمه ده چې عارف یوازې دژبنیو تعبیراتو له مخې کولي شي خپل مکاشفات اوعرفاني تجربي نورو ته انتقال کړي. نو په وحدت الوجود کې له دوه مسالو سره مخامخ یو: تجربه اوتعبیر، شهود اوتجربه دهر عارف له پاره کاملا یو شخصي کار دی، چې دخیړنو اوتاریخي شننو غوښتنه نه کوي. سره له دې چې کیداې شي دارواه پوهنې اودښکارندو دپیژندنې یا ظواهرو دپیژندنې دبحثونو پورې وتړل شي، نو له تاریخ نه خبري نه کوي.

خو کله چې همدا شخصي تجربي تعبیر ته داخلیږي له تاریخ سره پیوند پیدا کوي دعارف دفرهنګ اوټولنیز چاپیریال څخه اغیز من کیږي. نوپه خپل وار سره دعارف په فرهنګ اوچاپیریال هم اغیزه کوي. دا ځکه چې ژبه، بیان اوفرهنګ خاصه تاریخچه لري.

دوحدت الوجود لوي پیشوا شیخ محی الدین اکبر په خپلو اثارو کې دوحدت الوجود نوم نه اخلي، اونه یادونه کوي. عارف کولي شي له نورو نه زیات تعبیرات اواصطلاحات واخلي اویا داچې کولي شي په خپل وار سره نوي تمثیلات اوتعبیرات اواصطلاحات په ژبه کې داخل کړي. خو په دې ټولو مواردو کې عارف ددغه اصطلاحاتو په منلو اوجعل کې دهماغه شهودو

او تجربې تابع کېدای شي.
د وحدت الوجود په بحث کې دوه مسالي مهمي بريښي يوه تجربه او بل تعبير دی او کيدای شي چې د واحدې تجربې څخه بيلا بيل تعبيرونه وشي.
هغه څه چې د وحدت الوجود په فلسفه کې مهم دي هغه خدای ته د نږدې کيدلو لاره يا طريقه ده. چې په اسلام کې ورته (٠قرب خدا ) او په مسيحيت کې يې حضور خدا بولي. په عرفاني ادب کې هر مومن د دغه قرب مختلفي درجې لري خو اخرينه درجه کومه ده ؟ مسيحيان دې بهير ته د خدای سره اتحاد وايي او بالاخره عرفاني اتحاد بلل کيږي. خو په اسلام کې د ((فنا )) اصطلاح کارول کيږي. په اسلام کې عرفاني تجربه دقرب له احساس نه پيل او د شهود په يو والي او وحدت پای ته رسيږي چې ((فنا )) هم ورته وايي.
په اسلام او مسيحيت دواړو کې د محبت او معرفت يادونه کيږي٠
دعرفان په ټول تاريخ کې هيڅ داسې عارف نشته چې د محبت او معرفت څخه برخوردار نه وي.
بله مساله داده چې انسان د مسالي مرکزي پديده ده. انسان چې خبرتيا پيدا کوي، شعور پيدا کوي ديگانگۍ او وصلت مقام ته رسيدلي شي او ((حق )) گڼلی شي.
د ميرزا خان دالفنامې يوه ځانگړنه داده چې د تصوف ډير پيچلي مسايل او مفاهيم يې په ډيره ساده ژبه بيان کړي دي. دادې له پاره چې دصوفيانو په کړيو کې لومړی يا په لومړي سر کې مسايل يوازې په لوړه کچه مطرح وو چې د نورو له پاره د پوهيدنې

وړ نه و. له دې امله و چې يو شمير يې د شرعيت نه په انکار او په کفر تومتي شول. خو وروسته دا رسم بدل شو. صوفيانو هڅه وکړه چې دمعرفت کړۍ پراخه کړي، په دې ډول تصوفي او عرفاني پوهنو يو ډول تعليمي اودزده کړې جنبه پيدا کړه.

پنځم څپرکی:

# د میرزا خان انصاري د فلسفي او عرفاني تفکر بنسټیز مسایل

لومړی: میرزا او انسان

انسان په عرفاني انسان پېژندنه اوهمدارنګه دمیرزا خان په باورونو اوپه ځانګړې توګه دهغه دمکتب په فکري دایره کې یو مرکزي اصل دی. یا داچې عرفان اومعرفت په رموزو او اسرارو پوهه اوهر هغه څه چې مطرح دي حکم کوي چې لومړي یو موجود اوهستي شته چې دخپل معرفت له لاري دهستۍ د کمال پړاو وهي.

عرفاني انسان پېژندنه دانسان پېژندنې یوه خاصه اوځانګړې لاره ده. چې ددغه لیدتوګې له مخې دانسان ظاهر ي څېره نه بلکې دهغه په دننني جوړښت پېژندلو تمرکز کوي. دمطلقې تجربه کولو په تعقیب انسان په خپل حقیقت پوهیږي. دهغه حقیقت دمطلق ذات سره دهغه اړیکه ده اوهغه څه چې دا پیوند ممکنوي هماغه دانسان ناټاکلي اودهغه دوجود سیال والی اوخوځنده توب دی. ددغه نا ټاکلویا نامعینو حدودو پر بنسټ لکه چې وویل شول انسان کولي شي دشتون دبیلا بیلو ډولونو حقیقت جوت کړي.

په حقیقت کې انسان او عرفاني انسان پیژندنه ددین دلاسبرۍ په دوران کې یوازې دمطلق سره په یو والي او پیوند کې مانا پیدا کوي او حقیقت مومي. په نورو ډولونو اومثالونو برتری لري. په دې اساس ده چې انسان کولي شي له نړۍ اوهر هغه څه چې دانسان جزء د ي مستقل او خپلواک او په دې ډول په یو جوهر بدل شي. په ځان متکي او مطلق ډوله شي یا په داسي جهان بدل شي چې له بیروني څخه څه کمي نه لري.

د دانا نصیحت هسې رنګ دارو دی
چې ضعیف مزاج یې وجارو یست له
تاپـــــــــــــــــه

معرفـت دولـي غیـب وکرامـت دی
دا ښـیوه نـه پـه ریـا شـي نـه پـر لاپـه[92]

دویلیام چیتک په قول دانسان یو بل اړخ دادی چې خدای یوازې دهغه (انسان) له لارې خپل ټول اوصاف ظاهروي. په همده کې ده چې وجود واقعا بشپړ تابه اوکمال ته رسیږي. هیڅ مخلوق له کامل انسان څخه پرته دخدای دټولو اوصافو دښکاره کولو لازم استعداد نه لري. که وجود په خپل باطن ذات کې په بشپړه توګه نا ځرګند دی نو په بشپړه توګه ځرګند تیا یوازې په کامل انسان کې ترلاسه کوي چې ټول الهی نومونه (اسماءالحسنی) په همغږۍ

[92] دمیرزاخان دیوان ، سمونه اوڅیړنه .داکتر پرویز مهجور خویشکی .پښتو اکیډیمي پېښور یونیورستي: چاپ ۲۰۰۴ کال ۱۱۸ مخ

او اعتدال سره ظاهروي٠
میرزا دخپل سیر وسلوک په پړاو کې انسان مخاطب کوي او دهغه دوحدت اوبو والي دلیل په دې ډول هم وړاندې کوي. وايي:

تـه بادشـاه دولایـت یـې
د هلـک کُلـي مـزدوره

د نسـب پو ښـتنه نشـته
چـــې اوازوشـــي لـــه
صـــــــــــــــوره

کامـل کاشـف الارواح
دی
هـم خبـر دی لـه قبـوره[93]

دلته میرزا خان دوه ګڼي کاروي یوه دعرش الله اوبله کاشف الارواح ده٠
له عرش الله نه دابن عربي هدفونه دوه دي یا په دوه مانا وو یې کاروي یو داچې: عرش الله دخدای عام ملک دی چې هرڅه یعنې ټول ماسوی الله په کې شامل دي. بله داچې دعر ش الله مفهوم انسان ته اختصاص ورکړل شوی دی یا په انسان پورې اړه لري دا ځکه چې همغه یعني انسان دجامع الله دنومونو په یاد کې

[93] ـ دمیرزاخان دیوان ، سمونه اوڅیړنه .داکتر پرویز مهجور خویشکی .پښتو اکیډیمي پېښور یونیورستي: چاپ ۲۰۰۴ کال ۴۷ مخ

ساتونکی دی.[94]

عرش الله وهسې زړونو ته ویل شي
چـې مدام د معرفت په نور جلا [95]

کاشف الارواح هم هغه څوک دی چی دارواحو دکشف اودرک واک اووس لري چې هغه هم انسان دی. پیر اومرشد دی ، چې دانسان اوخدای واټن دصفر ترحده رسوي چې په لاندې شعر کې یې ښه ترا بیانوي:

یو باقي ژوندون بـه مـومي
دفنـا دخونـد پـه څکـه

کـه دې دا لـذت تـر خولـه
شـــــــــــــــــي
ځای دې پاس دی لـه فلکـه

خلیفــه دکــل عــالم یــې
چـې معـراج دی نهـه فلکـه

دا جهـان پـه تـا لیـده شـي
د دوو عینـــو مردمکـــه

---

[94]داکتر گل بابا سعیدي. فرهنگ جامع اصطلاحات عرفاني ابن عربي.چاپ اول .١٣٨٧ .تهران. ایران ۶٣٨مخ
[95] دمیرزا خان دیوان .٢۶ مخ

د پښتـــتو ســـاده خبــرې
خونـد يــې زيــات دى لــه
نمکـــــــــــــــــه[96]

دويليام جيمزامريکايي فيلسوف په قول دېو عارف ستر برياليتوب په دې کې دى چې دفرد اومطلق ترمنځ په ټولو موانعو اوخنډونو باندې بريالي کيږي. په دې مانا چې هم هندي عارف اوهم نو افلاطوني پوه اوهم مسيحي عارف هم مسلمان عارف اوان حتى دوايتمنسيم( Whitmanisme )[97] اړوند عارف له مطلق سره يو کيږي. اودهغو له اتحاد يا وحدت نه خبرتيا پيدا کوي. دا يو مشترک دود اوسنت دى اوپه ډېره سختۍ ددينې اواقليمي توپيرونو له مخې بدليږي. ))[98]

دپورتنيو خبرو مصداق دميرزا په دې لاندې نظم او دانسان په رواني سير وسولوک کې هم ليدلى شو چې وايي:

زه څرګنـد دمحبـت پـه بنـه بنيـاد يـم
لـه نيسـتيه هـم پـه دا هسـتۍ ابـاد يـم

پــه ازل مــې داقــرار پــه ژبــه ووې
تــر ابـده وفـادار پـه خپـل ميعـاد يـم
امانت چې اسمان ځمکې ورلى نه شه

---
[96] دميرزا خان انصاري ديوان .سمونه اوڅيړنه: داکتر پرويز مهجور خويشکى .پښتو اکيډيمي ,پيښور يونيورستي .۲۰۰۴ کال ۲۶مخ
[97] واتمنيزم. والت وايتمن امريکايي شاعراوژورنالست ته منسوب ادبي مکتب په اړوند نظريات دي .
[98] محمد رضا .انديشيدن فلسفي وانديشيدن الهى –عرفاني .نشر باران : سويدن .چاپ دوم سال: ۲۰۱۰ (۱۳۸۹عرفان الهي) ۶۰ مخ

اوس يې زه په دا عاجز صورت عماد يم

په اختيار مې هسې ظلم په ځان وکه
له دې قصده دجهول په نامه ياد يم

که دجهل بار مې ليرې شي له سره
بې گمانه دصفي ادم اولاد يم

امانت که په امان وتښتن ورکړم
ترو امين له نيک نيتيه نيک نهاد يم

تل توبه مې دگمان په مخ نيولې
اوس په صلح جاروتلی له فساد يم

په اختيار مې له کل نهی لاس وکښلی
په اختيار ددوارو امرو انقياد يم

گه طالب گهی سالک گهی ذاکر شم
گه عارف په معرفت باندې اشهاد يم

گهی قطب قراري کړم په ځای اوسم
گهی غوث گهی ابدال گهې اوتاد يم[99]

---

[99]اوتاد اوابدال· اوتاد: وتد په عربي کې ميخ يا موږي ته وايي جمع يې اوتاد په سلوک کې دخدای ددوستانو يوه ډله ده ·دهجويرې په قول په وليانو کې ديوې خاصی درجې خاوند دی. يا هغه څلور

په ګمان کې دګمان اهل بندي شه
په باور کې دجمله چارو ګشاد يم

په خپل قصد به ددې قيده وتی نه شي
که پر ما دې نظر وشي ان يکاد يم

دا شيرين اشنا مې کسې په ليمه کې
دی به کسې کې ليده زه يې مداد يم

په ظاهر صورت ديار له ياری ګوښی
په باطن له ياره يو په اعتقاد يم

کل عالم يې په نظر کې واړه وينم
او هر چرې دا شنا په ديدن ښاد يم

چې ښتن مې دخدمت حلقه په غوږ
کـــــــــــــــــړه
په ښادی کې له جمله غمه ازاد يم

په بنده ګی کې عنايت را باندې وشه

---

کسان چې دنړی په ځلورو کونجونو کې دي .يا دعالم ځلور ارکان دي. اوددې ځلور وکسانو ه وسيله خدای نړې ساتي ،دوی ته اوتاد وايي. (فرهنګ سجادي ) پاتې په بل مخ

ابدال:په تصوف کې ابدال دخدای ددوستانو يوه ډله ده چې دمحبت،کشف ،مشاهدې اوحضور ښتنتان دي . ددوی په برکت له ملکونو او اوکسانو څخه افتونه اوفسادونه ايسته کيږي مولانا نورالدين جامي يې ځلويښت تنه خو شيخ اکبر وايي چې نړی اوه اقليمه اوهر اقليم يو متصرف لري چې ابدال نوميږي .

## لـه دې مهـره دميـرزا پـه نامـه يـاد يـم[100]

په پورتني غزل کې په سمبوليکه توګه اشاره ځمکې ته دبابا ادم راتلل اودهغه په اوږو دامانت ايښودل دي. حافظ شيرازي همدغه مفکوره په دې لاندې غزل کې داسې بيان کړې ده:

اســمان بار امانت نتوانست کشيد
قرعه اى فال به نام من ديوانه زدند

دعرفان پوهنې له مخې دميرزا په عقيده انسان دمحبت اوعشق پر بنياد رامنځ ته شوی اوخلق شويدی دغه امانت دهغه اراده اوپريکړه کول اواختيار دي . دده مرتبه اومنزلت په دې ښه ترا جوت اوڅرګند دی چې هغه امانت چې ځمکې اواسمانونو وړلی نه شو نو انسان ته وسپارل شو .انسان ته که دجاهل انتساب کيږي نو په جهان يا له شر نه ډک جهان کې ځان غريب احساس کوي اودا دانسان دمعرفت يو پړاو دی چې پرځان باندې خبرتيا پيدا کوي خوله همدې بهير نه تيريږي اوځان دمطلق سره وصال ته رسوی.
انسان هڅه کوي اوپه دې تلاش کې دی چې دجهالت بار له اوږو ليرې کړي دا ځکه چې دصفي ادم اولاد دی· کله چې هغه دوسوسی اوشيطان سره مخامخ شو نو له اشتباهاتو سره مخامخ شو اوبيا دې نړۍ ته راغي. هغه دګناه اوشرم له احساس نه تير شوی دی. معرفت دهغه اختيار اوازادي وه يا يې هغه ته اختيار

---

[100] ميرزا خان ديوان ١٣٣مخ

ورکړ چې دګمان اونهی نه ځان فارغ کړي، او په امرو انقیاد باندې پایبند شي.
کله چې انسان دمعرفت په لو ر ګام اخلي هغه له بیلابیلو پړاوونو تیریږي. کله طالب وي او کله سالک وي او کله یې سترګې بینا کیږي او په معرفت باندي شهادت ورکوي. کله قطب کیږي او کله هم په دې لړ کې غوث او دابدال او اوتاد درجې ته رسیږي
عارفان په مجموع کې په دې باور دي چې انسان په لومړي قدم کې یو ناطق حیوان دی. دمیرزا له پاره هم دمولوي په څیر انسان کوم مشخص او ټاکلي ماهیت نه لري او دهغه ماهیت هغه څه چې په فعل کې دی له هغه زیات دی. یعني په انسان کې قوه په فعل باندې لاسبرې اوزیاته ده. دا برتري انسان ته ددې مجال ورکوي چې دلوړ اومتعالي ذات سره پیوند ټینګ کړي. دعارف له پاره دغه متعالي مطلق ذات دی.
لکه چې وویل شول دانسان په باب دمیرزا لید یو عرفاني اوتصوفي لید دی .دمیرزا په څرګندونو کې له انسان څخه هدف دمطلق اوواحد ذات سره په رابطه کې لیدل کیږي. انسان دهغه په باور ټاکلی او مشخص ماهیت نه لري. هغه څه چې عرفاني انسان پیژندنه دانسان په باب وایي دیوې خاصې تجربې نه حکایت کوي چې دیو اټکل شوې معرفت دمتعالي خصلت او حقیقت سره په پیوند اورابطه کې یو ډول وړاند وینه ده. سر ه له دې چې دعرفاني تجاربو سره تړاو لري خو زموږ دمعمول تجربو اوخبرتیا وو څخه لیرې نه اوله هغو څه نه کمیږي. ددې تجربو له مخې انسان مخکې له دې چې خاص ماهیت ولري دمطلق سره یو ډول

رابطه پیدا کوي اویوازې له دې لارې ده چې کولای شو چې دهغه دوجود تعریف وکړو.

نیکلسون وایي: (( دکامل انسان څخه دصوفیانو هدف اومراد سره له دی چې دتصوف په قدامت اوپس منظر کې نغښتی دی. خو دلومړي وار له پاره ابن عربي تشریح کړی دی. داچې کامل انسان څه شی دی ؟ له بیلابیلو زاویو ورته ځواب ویلی شو. خو که کلي ځواب پلټو نو ویلی شو چې کامل انسان خپل ذاتي وحدت له خدای سره چې دهغه په صورت هست شوی وي، تحقق ورکوي. ))[101]

میرزا خان تر هر څه دمخه دخپل پیر یعنې بایزید روښان دروښانې لارې ثابت قدم اومتفکر پیرو دی.هغه نه یوازې دروښانیت داصولو مبلغ دی، بلکې ددې لارې تیوریکي اونظریاتي عالم اوفلسفي هم دی. میرزا خان په ټینګو الفاظو اوکوټلو عباراتو دپیر روښان لاره را سپړلې، تشریح کړې او څرګنده کړې ده. هغه تر هر څه دمخه دپیروښان مقامات اواصول په نظم راوړي دي اوددې په خو اکې یې روښاني لارې ته یو فلسفي بنسټ هم ایښی دی. په دې اساس دمیرزا په نزد روښان یو کامل پیر اوکامل انسان دی.

میرزا په دې شعر کې وایي:

ابتــدا شــوه پــه پښــتو د حــق ثنــا
بښــه ثنـــا پـــه عنایـــت د ربنـــا

[101]عرفان وتفکر(ازتاءملات عرفاني مولوي تا عناصر عرفاني درطریق تفکر هایدگر ) بررسي تحلیلي .انتقادي .نشر: تهران نگاه معاصر، سال ۱۳ ، ۱۳۸مخ

لام الـف دواړه خلقـو هسـتي يـوه
ده
بيـا دا يـو يګانـه نـون شـه د لنـا

دا فـاني چـې د فنـا د ملکـه وبښ
تـرو بـاقي شـو د فـاني معنـی انـا

ښـه بـاران يـې د رحمـت پـر اهــل
اوري
رسـيده عقـل برښـنا دعشـق ثنـا

کل اشيا دده له ذوقـه شـو رقاصـه
پـه هـر لـورې يـو اواز دتـن تنـا [102]

يا داچې:

دعارف زړګی پـه مثـل ايينـه شـه
ددې بـد ګمـان لـه رنګـه مصـفا

دنفـاق دا هــل برخــه ريــايي ده
داخلاص اهل ښـيګڼه کـا اخفـا . [103]
دده امـر پـه هـر چـا کښـې جـاري
شــــــــــــوی

[102] ميرزا خان ديوان ٢١مخ
[103] اصطلاحات صوفيا .متن کامل رساله (مراءت عشاق ) ازمولف نا شناخته .مقدمه ,تصحيح وتعليقات .مرضيه سليماني .چاپ سال ١٣٨٨. ٢٢٩مخ

پــه محــیط دریــاب کښــې ذوق
کـــــــــابې شـــــــــنا

دا د فقـر حـال یـې ورغـی تـر فخـر
پـه تمـام عـالم یـې بـرق دی د ثنـا

میرزا په خپل کلام کې رمز اودکلماتو اوحروفو راز اوارزښت اوپر هغو باندې تاءویل نه هیروي. دهغه په باور حروف اوکلمات خاص ارزښتونه لري. نوموړی ددې له پاره چې په ډاګه وواېي د پیچلتیا لاره نیسي اوپه حروفو تکیه کوي.
لام په عرفاني او تصوفي اصطلاحاتو یا مراءت عشاق کې داسې تعریف شوی دی: ((دا دتعریف توری دی اودکثیف اوشریف عالم ترمنځ دوصل اویو ځای کیدو نښانه اوهغو ته اشاره ده... ))[104]
همدارنګه په تصوفي ادب کې د ((انا انت و انت انا )) عبارت نه هدف دمعشوق په هستۍ کې دعاشق دفنا مانا ورکوي په داسې ډول چې له معشوق نه پرته ان خپل نفس ونه ویني )).
مراءت العشاق دخواجه له قوله واېي: دغه حرف دجمع اشاره ده دهر اوریدونکي مناسب نه دی. ظاهري اسماع یا اوریدنه ددې اوریدو توان اووس نه لري. اودصورت سترګې ددې معانې په مانا اومفهوم نه پوهیږي. هغه سړی چې باید عین عشق و، یو وخت مطلقه کیمیا وه. ترهغې پورې چې ددې عبارت جمال پرې وځلیږي اوددي حقیقت بیان په زړه سره درک کړي. سړی په دې

[104]سجادي ، سید جعفر .فرهنګ اصطلاحاتوتعبیرات عرفاني. انتشارات طهورې .,زبان وفرهنګ ایران ,چاپ ششم .سال ۱۳۸۱ ص ۱۲۶

کلیمه کې فرق نهویني اودعدد شمیرنه هم په کې نشته.[105]
داچې میرزا خان وایي:

دا فاني چې د فنا له ملکه ویبس
ترو باقي شوه د فاني معنې انا

د پورتنۍ توضیح له مخې دفاني مانا دلویې هستۍ سره یا دمطلقه ذات سره یو ځای کیدل دي اوپه معشوق کې هستیدل دي. دا چې وایي: ټول موجودات دعارف اوصوفي دذوق نه په رقص اووجد راغلل اوپر هر لورې یې دتن تنا یا ساز اواواز یا نغمې اوري. دعارف زړه داسې هنداره شوه چې له بد گمان څخه فارغه اوخلاصه ده. همدارنگه د(( نون )) کلیمه دملک اوملکوت په عالم کې دڅرگندو حقایقو سمبول دی .همدا ډول ن په ن والقلم وما یسطرون کې واضح دی چې قدامت اوالویت یې پیدا کړی،حال داچې لومړی دقلم مخلوقات دي .[106]
میرزا خان دعطار نیشاپوري اونورو مشهورو شاعرانو اومتفکرینو په څیر دهُد هُد( چې په پښتو کې یې ملا چرگک بولي ) مفهوم له یاده نه باسي بلکې پرې ټینگار کوي:
هُد هُد هغه مشهور مارغه دی چې په کلاسیکو اثارو کې دسلیمان دمرغه په نوم هم یادیږي. په عرفاني ادب کې دبیلابیلو معناوو کنایه اوسمبول دی. دعطار په منطق الطیر کې له سیرو سلوک اوهم دارنگه په سلوک کې دمارغانو لارښود دی، چې

[105] اصطلاحات صوفیه. .. .۲۶۵مخ
[106] سجادي، سید جعفر .فرهنگ اصطلاحاتوتعبیرات عرفاني. انتشارات طهورې . زبان وفرهنگ ایران ،چاپ ششم .سال ۱۳۸۱. ۷۹۸م

دسیمرغ په لور الوزي.

مرحبا ای هُد هُد هــادي شده
درحقیقت پیک هر وادي شده

ای به سرحد سبا سیر تو خوش
با سلیمان منطق الطیر تو خوش

سهروردي وایي ((کله چې هُد هُد په بومانو (جغد ) په منځ کې ولویده دلارې په اوږدو کې دهغو پر ځای ورښکته شو .هد هد په ډیر قوي بصیرت مشهور دی. اوبوم یا گونگی یا جغد دورځې ړوند وي. دا کیسه په عربي کې مشهوره ده په الغربته الغربیه په داستان کې دالهام کنایه ده.[107]
هباء: دهبا مفهوم له قران الکریم څخه اخستل شوی دی. په اصطلا ح داسې ماده ده چې دعالم له اجسامو مصوره شوی اوهر څه ترې پیدا شوي دي. عارفان باور لري چې دا دعنقا رمز دی .فلاسفه اوحکما یې هیولا بولي. هبا ددونیا دبې وفایي اوبې باورۍ مانا هم لري.[108]
خو دمیرزا خان ددیوان دپیښور چاپ په لغتنامي کې دناڅاپه ښکاره کیدونکي په مانا کارول شوي دي یا مانا شوی دی.
دمیرزا په باور لام اوالف ددواړو یعنې دخالق اوهستۍ اوکایناتو یو مفهوم دی. خو یوازې نون یواځینې ذات دی چې شریک اومثل نه لري. انسان په هستۍ کې فاني دی. ترهغو چې

---

107 فرهنگ اصطلاحات عرفاني ۷۹۶مخ سجادي
108 میرزا دیوان ۲۳-۲۴

دده قرب حاصل نه وي او يوا ځيني ذات سره دعشق او محبت له لاري واصل او يو شوی نه وي نو دفاني جهان برخه ده. او دا فنا هغه وخت را برسيره او ښرگنده ده چې کله خودي او ځان ليدنه او ځان ستاينه پرې غالبه شي.
هغه څه چې ستر حکم او امر پکې جاري دي، هغه پر هر څه کې دی. په ټولو کايناتو کې موجود دی .کاينات اوشته او هستي دهغه مظهر ده. په انس او جنس دهغه امر جاري دی. خو سالک، فقير او عارف چې دعشق او خپلې فنا له لارې يې قرب حاصل کړی وي په دې ناپايه سمندر کې بې لامبو وهلو لامبو زن دی.

دا گويـا هُـد هُـد چـې راغـی لـه سَـبَا
ومشـــتاق تـــه يـــې ووی لـــه هبـــاء

ده عجـب دحـال پـه ژبـه ځـواب ورکـه
راشـــه راشـــه بلـــی بلـــې مرحبـــا

کـل جهـان لـه محبتـه پيـدا شـوی
دا رښـتينی عشـق دکـل جهـان ابـا

دغـافلو نـاپوهي تـوره تيـاره شـوه
دعـــارفو فهـــم ســـپين لکـــه صـــبا

دعـارف چـې دبـاطن سـترگې بينـا شوې
پـه هر څه کې تـل محبـوب وينـي پـر گڼـه

دکثـرت بـازار يــې روغ کــه لونــه لونــه
کــل ســودايي دعــارف دزړه لــه هټــه[109]

لکه څنګه چې صوفيان عقيده لري چې دخلقت نه هدف دانسان دوجود تخليق دی. هر هغه څه چې وجودي دي ټول اوټول له دواړو نړيو څخه دانسان دوجود تابع دي اوپه مجموع کې ټول وجود انسان دی. دانسان له وجود څخه هدف دذات معرفت دی اودخداوندي صفاتو مظهر هم دی. د قراني تاويل له مخې لوی ذات ددې له پاره چې په کايناتو اوموجوداتو ځان وپيژني نو انسان يې پيدا کړ. ځکه نو انسان هم خليفه دی اوهم نبي دی اوهم ددې وس لري چې دمعرفت لوړو پوړيو ته ورجګ شي. سره له دې چې ملک اوجن دانسان سره په تعبد کې شريک ول خو يوازې انسان وو چې دحافظ خبره د دې امانت بار يې په اوږو واخيست اوپه دې ډول له ټولو موجوداتو نه ممتاز اواشرف وګڼل شو . له اسمان نه هدف داسمان اهل يعنې ملايکې اوله ځمکې نه هدف حيوانات اوشياطين اوله غره اوځنګله نه هدف وحش اوالوتونکې دي. خو له دې ټولو نه يو هم سم ونه خوت چې دا امانت دغه دروند بار په اوږو يوسي. بلکې له دې ټولو وتلی انسان وو چې استعداد يې درلود اوکمال ته ورسيد اودحق ټول صفات په هغه کې موجود وو.

دپورتنيو خبرو په اړوند وبلي شو چې عرفاني انسان پيژندنه د

---

[109] ميرزا ديوان ۲۳م

فلسفي، تاريخي، ټولنپوهنيزې، وګړ پوهنيزې انسان پيژندنې په څير نه ده. بلکې عرفاني انسان پيژندنه دانسان پيژندنې يوه خاصه اوځانګړې لاره ده. چې ددغه ليدتوګې له مخې دانسان په دننی ظاهر ي څيرې سره سرو کار نه لري بلکې دهغه په اړوند د انسان په جوړښت او پيژندلو تمرکز کوي. دمطلق تجربه کولو په تعقيب انسان په خپل حقيقت پوهيږي. دهغه حقيقت دمطلق ذات سره دهغه اړيکه ده اوهغه څه چې دا پيوند ممکنوي هماغه دانسان ناټاکلي اودهغه دوجود سيال والی اوخوځنده توب دی. ددغه نا ټاکلويا نامعينو حدودو پر بنسټ لکه چې وويل شول انسان کولی شي دشتون دبيلا بيلو ډولونو حقيقت جوت کړي.

په حقيقت کې انسان اوعرفاني انسان پيژندنه ددين دلاسبري په دوران کې يوازې دمطلق سره په يو والي اوپيوند کې مانا پيدا کوی اوحقيقت مومي ـ په نورو ډولونو اومثالونو برتری لري په دې اساس ده چې انسان کولي شي له نړی اوهر هغه څه چې دانسان جزء د ي مستقل اوخپلواک وي اوپه دې ډول په يو جوهر بدل شي .په ځان متکي اومطلق ډوله شي يا په داسې جهان بدل شي چې له بيرون څخه څه کمي نه لري.

## دويم: اشراقيت او معرفت

دميرزا خان انصاري نړۍ ليد که له يوې خوا په منظم اوسيستماتيک ډول دبايزيد روښان لاره، مقامات اوتصوفي افکار بيانوي نو په همدې بنياد هغه په خپلو اشعارو کې زيات په عرفاني اصولومعتقد دی. نوموړي په خپلو اشعارو کې

دعرفان اوعارف زياته يادونه کوي.
دابن عربي په باور عرفان يعنې دحق تعالی پيژندنه ،يا خدای پيژندنه ده .په اصطلاح کې ترې هدف دحق پيژندنه اوپه الهی علومو کې ديو علم نوم دی.ددې علم دپيژندنې اوڅېړنې موضوع دحق اودهغه داسمونو اونومونو اودصفاتو پيژندنه ده. باالجمله داسې تګ لاره اوطريقه ده چې اهل الله دحق دپيژندنې له پاره غوره کړې ده.
عارفان پهدې باور دي چې معرفت اودحق پيژندنه په دوه ډوله ترلاسه کيږي: يو داستدلال اوبل دباطني تصفيي، يا له غير څخه دخلاصون اوليرې کولو اودروح دتحلي (يعنې دصداقت اوروحانيت په لباس ملبس کيدلو ) له لاري چې په دې باور لرل اړين دي چې دالاره دانبياوءاو اولياو اوعارفانو دمعرفت لاره ده.
ميرزا خان انصاري په خپل فکري بهير کې دعلم لدن يادونه هم کوي چې په يو نه يو ډول دعرفان سره تړاو لري. هغه وايي:

له صورته ومعنې وته نظر کړه
دسيد مرتبه راغله تر حبشه

چې تل بحث دلدن په کی جاروڅي
دديو هسې مدرسيو مدرسه شه

په ساده جامه بيشکه قلندر يې
دريا خرقه دې واچوه څيره شه[110]

---

[110] دميرزا خان ديوان ۹۲ مخ

علم لَدُنْ یا لَدُني په ځينو فرهنګونو کې د انبیاءو او اولیاوء په علم باندې هم یادیږي. دا هغه پوهنه ده چې د درس اوزده کړي له لاري نه تر لاسه کيږي. یا په بل عبارت: (( دا الهام شوې پوهه یا داسي پوهه ده چي د خدای له خوا ورکول کیږي یعني له روحاني چارو څخه چې د مخامخ کیدنې او بخښنې په وسیله تر لاسه کیږي عرفاني لاس ته راوړنه ده [111]

غريبه علوم هم دعلم لدني په نوم یادیږي چې په اروپایي ژبو کې يې (Magie) یا (Magiea) له لغتونو څخه مشتق شوي ده. چې پخپله دغه کلیمه د((مغ )) له کليمي څخه جوړه شوې ده. داسي بريښي چې یونانیانو دمغان حکمت ته ماجیک ویلي او په هغو کې يې غیبي اوغريبه یا ( Occultisme ) زیات شامل وو نو د(( ماژي )) ګړنه په مربوطه علومو باندې اطلاق شوه.

له لرغونو زمانو څخه تر اوسه جادو د(( علومو )) په توګه تنظیم شوي ده لکه اسطرلاب، نجوم، استرولوژي چې (له استرونومي پرته دستور پيژندنې مانا لري ) داعدادو علم، دنقاطو اوحروفو علم داسماء و علم جفر، رمل، سیمیا ، کیمیا اونور· همدارنګه داورادو اوذکر کارول اودبیلابیلو داروګانو، دوعاګانې، اوان دیو شمیر طبیعي پدیدو نه ګټه اخیستنه دجادو اوجادوګرانو دکار وسایل دي.

له ډیرو پخوا زمانو راهیسې ان بابلي ،مصري کاهنان، ایراني مغان، مغولي شمنان اوتبتي مرغزان هندي جوکیان اوسور پوټکي جادوګران اوتورپوټکي ترسپريتيزم پلویانو پورې او ان

---

[111] سعيد شيخ ،ترجمه سعيد رحيميان .فرهنګ اصطلاحات فلسفه اسلامي چاپ تهران مرکز : ۱۳۹۰ مخ ۹۷

معاصر ازوتریک علوم چې هڅه کوي زړې جادو ګرۍ په علمي اوعقلي استدلالونو سره سمبال او وپسولوي ،ټول په دې مرکزي نقطه کې سره شریک دي چې نړۍ داسې یو نمود (Exoterique ) ښکارنده ده چې موږ ورته طبعیت وایو ٠ دباطني نړۍ یا ماوراء الطبیعي جهان تابع اوبشر په دې قادر دی چې دهغه ماوراء جهان سره په پټه اړیکه کې ورداخل اوپه طبیعې نړۍ کې یو خرق عادت یا معجزه وکړي. له همدې امله ده چې دباطن اوظاهر مفاهیم رامنځ ته کیږي ٠ په ظواهرو باندې زړه نه تړل خپل اعتبار له لاسه ورکوي ٠دباطني چارو کشف دمذهبي تاءویل داحکامو پلویانو په منځ کې رامنځ ته کیږي ٠ [112]

خو تصوف دنفساني غوښتنو ځان پاکول اوعالم اواشیا دحق مظهر ګڼل دي وایي چې: تصوف دزړه تصفیه ده .له ناپاکیو اودطبیعي اخلاقو اونفساني ادعاوو څخه لیرى والى اودروحاني صفاتو خپلول اودحقیقي علوموسره تړاو لرلو څخه عبارت دي.

په تصوف کې څلور اصله ډېر مهم دي: له ناوړه شیانو توبه اوپه غوښتنو کې صدق اورښتینواله اودتوحید په فن او شبهاتو کې ورع ( تقوی اوپرهیزګاري ) چې دایې نهایی اوروستی پړاو دی چې یو سالک دحق تعالي دعظمت په شهود ، وجود اوصفاتو کې خلق او ټول ځان ووینې.

یا په بل عبارت: تا یعني توبه، صاد یعني صدق، واو یعني ورع یا پرهیزګاري، فا یعنې فنا.

---

[112] برخي بر رسیها ۸۷مخ

دابن عربي په نظر تصوف په الهی اخلاقو باندې ګروهېدل دي چې پخپله دتقوی ثمره ده. داسې چې یو څوک په هغه حالت کې پرې پوهېږي چې دزړه ښېښه یې دپردیو یا دغیر له خیرې پاکه وي، اتکا وکړي. دمعقولاتو اومغیباتو ( پټو شیانو ) په وړاندې مانع اوپردې لیرې کړي.[113]

معرفت دذات بی حده لوی دریاب دی
چې نشان یې لیدی نه شي بی اوازه

دانشمندو یې پایان موندلی نه دی
عالمان یې خبر نه دي له اغازه

چې هر موج یې بې حسابه خون ریزي کا
اوڅپه یې ګوښې ګوښې جان ګدازه

دا همارې له خپله خویه قیمتي دی
دازاد تعلیم به څه اخلي له بازه

دې محمود په صورت ډېره کمیني کړه
چې حاصل یې معرفت کړه له ایازه

کم دلیل چې دجلیل طواف ونه که
بې دیدنه بیارته راغی له حجازه

---

113 فرهنګ عربي ۲۰۵ مخ

که مقصود یې دخپل مخ ننداره نه وي
دانســان جامــه یــې څــه لــره کــړه ســازه

درســت کلیــات بــه دبــاطن پــه ســترگو
وینــــــــــــــــــــــــــــي
چــې خبــر شــې لــه دې حقیقــي پــروازه[114]

له دې توضیحاتو پوهیږو چې تصوف دمعرفت دحصول له پاره دیوې لارې اوپل حیثیت لري. عرفاني پوهه داسې پوهه ده چې دانسان په تجربو نه بلکې په دروني اوذاتي تفکر اوتامل باندې ترلاسه کیږي. میرزا دا خبره جوتوي چې دانسان جامه دیوه هدف له پاره جوړه شوې اوهغه هدف دادی چی لوی ذات دخپل مخ ننداره وکي.

دمیرزا دا شعر لولو چې وایي:

کــــه پــــه ځیـــر ومعنـــا وتــــه وگــــورې
لــه یــوه الفــه څــو علمــه تحصــیل کــا

دا خفــــي ذکــــر دارو دی درنځــــورو
دذاکــر لـــه زړه بـــه لیـــرې کـــا علیـــل

دادیــدن دمعرفــت بــه یــې روزي شــي

114 میرزا دیوان ۸۴ مخ

دریـا قمـیس کـه غـرق پـه رود نېـل کـا

چې نه رنګ نه يې پايان شته او نه لوری
پــه بــاطن بــه ننــداره ددې جميــل کــا

يـو پـه يـو بـه دهـر چـا پـه ژبـه پـوه شـي
چـې اشـنا دحـق ثنـا پر بـم دزيـل کـا [115]

ویلیام جیمز په یوه مشهوره مقاله کې دتصوف اوعرفاني زده کړې له پاره څلور ځانګړني غوره بولي چي له سور ریالیزم سره سر خوري.

۱.دنه ستاينې وړتيا (Linffabilite ) له دي ګړنې څخه هدف دادی چې صوفي په داسې حالاتو کې وي چې ژبه دهغه ستاینه نه شي کولي .داسې حالت دی چې دانتقال وړ نه دی بلکې باید تجربه شي. په خاص ډول چې زياتره دناخوداګاه پورې اړه لري. نو کله چې له بهر نه په دغو حالاتو باندې قضاوت کوو یا په عقلي توګه ارزوني کوو چې عقل په کې هيڅ دخالت نه لري نو اشتباه کوو.

۲.دوم اړخ يې دتصوف معرفتي ( notique ) اړخ دی. سره له دې چی دا حالت يو اغيزمن اوحسي حالت دی خو معرفتي پيژندونکی حالت هم دی داځکه چې دحقايقو په ژورو باندې غور کوي چې عقل له هغه نه زيات نه دی ازمويلی.

۳. دنه ثبات حالت دی. (nature transtoive ) دنه ثبات حالت ځانګړنه جوتوي چې دوام نه لري. اوغالبا له پای وروسته حافظه

115 ميرزا ديوان ۶۳

دهغه له وصف نه بې وسې ده.
۴وروستۍ ځانګړنه يې انفعالي حالت دی. (Lapassivite ) کله چې دا حالت را منځ ته شي دحالت لرونکی احساس کوي چې خپله اراده يې له لاسه ورکړې اوبندي دی اويا ديو ې برترې قوې په پنجو کې دي چې نه شي کولي پر هغو برياليي شي. دا حالت ځينې ځانګړې حالتونه لکه نبوت ،جذبه ،يا پخپله سره ليکنو ته نږدې والی لري.[116]
له دې مسايلو چې تير شو ميرزا خان په يو ډول اشراقيت هم باوري دی.اشراق اواشراقيت په تصوفي افکارو کې ډېر ځله کارول کيږي اودادپوهې اومعرفت دحصول اوترلاسه کولو يوه لاره ده.
اشراقيت دروښانه کيدو اودلمر دراختو مانا لري. په اصطلاح کې په هغه حکمت اوپوهه اطلاق کيږي چې دهغه پر بنسټ په کشف اوذوق ولاړ دی . دمشا ءيي حکمت اوپوهې پر عکس چې دهغه اصول استدلال دی. اشراقي حکمت په دوه بنسټونو ولاړ دی. يعنې استدلال اوذوق. اوپه هغه باندې پوهيدنه ددې غوښتنه کوي چې له يوې خوا مشايي حکمت اوله بلې خوا فطري ذوق اودروني پاکي اوسپيڅلتيا لرل دي.
داشراقي حکمت پيروان په دې باور لري چې دنړۍ دموجوديت په حقايقو پوهيدنه رياضت اوتزکيي اودنفس اوباالجمله دحقيقت ځليدل چې په زړه وځليږي ترلاسه کيږي. دا کار دمنطقي استدلا ل له مخې نه کيږي.

---

[116] تصوف وسور رياليزم ۷۸مخ

میرزا په خپلو ویناوو کې ډېر ځله دغه اشارات کړي دي. دین اوفلسفه هر وخت دبشریت دکمال له پاره چې ددینوي اواخروي سعادت ته رسیدل یې هدف دی ددوه قواو په بشپړېدو کې سره متفق دي چې په ټوله کې دمعرفت په مبدا اومیعاد باندي ترلاسه کیږي. یو داهل نظر اواستدلال طریقه ده اوبله داهل ریاضت اومجاهدت طریقه ده.

لکه چې دمخه وویل شول دلومړۍ لارې پیروان چې که دیوې فرقي یا دین پیروان وي متکلم یې بولي اوکه چیرې دمذهب اودین پسی ولاړ نه شي نو دمشاء حکیمان یا فلاسفه یې بولي. که ددوېمي طریقي سالکان له شریعت سره موافق وي هغو ته متشرعه صوفیان وایي اوکه له شریعت سره موافق نه وي یعنې دعلمي بحث طریقه له شریعت نه جلا وګڼې نو هغو ته اشراقي حکماء وایي.

علامه قطب الدین وایي: ((دمشرق فلسفه هماغه داشراق فلسفه ده یعنې دختیزې نړی اودفارس دحکماوو ترمنځ رواجي حکمت چې شیخ شهاب الدین یې احیا ء کوونکی دی هماغه داشراق فلسفه ده چې دنوم اینښودني وجه یې هم دختیزې نړۍ دفلسفې پوری تړلې ده. ))[117]

په لرغونو فلسفي افکارو کې دځینو نورو فلسفي –عرفاني افکارو په څیر ((ادریه )) یا ګنوستیسیزم فلسفه هم دشرقي اویوناني افکارو یوه ګډوله یا سنتیز دی چې په لومړۍ میلادي پیړۍ کې دمسیحیت سره یو ځای پر مخ تلله. په تدریج سره په کې

---

[117] سجادي فرهنګ ۱۰۵ مخ

لړ بدلون راغی اومذهبي صبغه يې خپله کړه. په مسلمانانو کې دې ډول تفکر دعلم کلام حکم اوحيثيت درلود.
دا ډول افکار اوعقايد څرګندوي چې انسان کولي شي بشپړ معرفت اوپوهه حاصله کړي اوکله چې انسان اتصال ته رسيږي ټولي ستونزې حلولي شي، په همدې اساس ددې تفکر پيروان ژباړونکي اوعرب پوهان ((ادريون )) بولي اوفلسفي تفکر ته ادريه وايي دا ځکه چې په اروپايي ژبو کې ((ګنوستيک )) اوحکمت ته يې ګنوستي سيزم وايي په يوناني کې ګنوس د(( پوهيږم )) مانا لري په دې اساس ګنوستي سيزم يعني دمعرفت دمدعيانو طريقه ده.
خو دځينو پوهانو په باور سره په دې کليمه کې ځينې نيمګړتياوي اوسهوی هم رامنځ ته شوي دي دا ځکه چې غالبا داسې تصور کيږي چې ګنوس دپوهيږم په مانا ده اودا فرقه دپوهي اودانش داصولو اودمنطق اوعلم داصولو تابع ده په داسي حال کې چې ادريه حکماوو يعنې دميلادي پيړۍ عارفانو يوازې دبشپړ حقيقت دوصول لاره يوازې الهام، وحی اوکشف باله چې په دې ډول دبابلي اواريايي مانوي اوبوناني فلسفې اوهندي عقيدو يو عجيب وغريب ترکيب وو. سره له دې چې ادريون په بيلابيلو ډلو ويشل شوي دي خو اساسي اواصلي مساله يې داده چې وايي:
((خدای ازلي اوابدي اودخير مصدر دی.))
دعارفانو په باور ماده هم ازلي اوپه خپل ذات قايمه ده خو ماده دشر مصدر ده .ماده کې دخدای اغيز مستقيم نه دی بلکې ديو

شمير قواعدو په واسطه چې دهغه اودمادې ترمنځ واسطه ده اوډير ه سترقوه يې (( زوی )) دې چې په کليمه تعبير کيږي. په تورات کې دغه قوې په ملايکو تعبير شوي اوافلاطون دغه قوې ته مُثل وايي ددوی په فکر ،فضيلت دهغه چا سره دی چی په دې مبارزه کې بريالی شي يعنې ماده اوجسم دروح مقهور اوزيږنده وبولي.

دفضيلت دتر لاسه کولو له پاره ښه وسيله زهد دی. ددې عقيدې دپيروانو په فکر کله چې روح له بدنه جلا شي له خدايه سره يو ځای کيږي اوپه دې دونيا کي کله هم دخلسې(دخوب اوويښتيا ترمنځ يو حالت چې صوفي په کې نويو کشفياتو ته رسيږي ) اوکله دبې خودۍ په حالت کې له خدايه سره موقتي وصال مومي .ددې عقيدې دپيروانو مهم اصول دادي چې مسيح يعنې کليمه را څرگنده شوه چې دځان په قربانی يې ځينې خطا کاری ملايکي چې گناه ترې شوي وه او په بشري جسامتونو کې ساقطې شوی وي،ورته نجات ورکړي. په دې فرقه کې اوراد ، اسما ء اورموز ډير اهميت لري.خاص اوراد شته چې دشيطان اوشريره ارواحو سره دمبارزې له پاره کارول کيږي اويو اسم يې اسم اعظم دی چې ځينې اوليا ءوو پر هغو قابو درلوده.

ددي تفکر دپيروانو په عقيده انسان په خپل بدن کې بندي دی اودهغه اودخدای ترمنځ يوه لويه پرده بدن يا جسد دی نو دصوفي لوی همت دادی چې هغه اسماني جوهر له بدنه ازاد کړي. پردې وشلوي اوله همدې بدن نه هغه له حقيقت مطلق سره متصل کړي. بدن دله منځه وړلو نه دی بلکې هغه بايد تصفيه اوتلطيف کړي

اوروحاني يې وګرځوي.

عارفـان دزړه پـه حـال ځبلـه خبـر شـو
لـه يـوې ډ ېـوې يـې بـل کـړه څـو چراغـه
چــې ډ يــوه دمعرفـت شــوه بانـدې بلــه
د همـای اصـل يـې ګوښـې کړلـه زاغـه[118]

معرفت اوعرفان دتصوف اوصوفيانو له پاره يوه هغه اساسي مساله ده. چې دهغوی دټول فکري بهير محراق اومحور ګرځي. دصوفيانو په عقيده دحيواناتو په نسبت دانسان شرافت اوفضيلت په دې کې دی اوانسان ددې وس اواستعداد لري چې خدايي معرفت حاصل کړي .دمعرفت په برخه کې صوفيان څلور مفهومه ډير اساسي اوغوره بولي چې له زړه، روح، نفس اوعقل څخه عبارت دي. چې دا ټول بهير يو ډول تير ته اويا خپلې مبدا ته بيا ورګرځيدنه ده. لکه چې په معاصره اروا پوهنه کې يې دانسان دفيزيکي موجوديت په بنسټ تشريح کوي.

دعرفان په پرتله په معاصره اروا پوهنه کې مبدا ته دورستنيدو مفکوره په بديل ډول دغير معنوي يا روحي برخلاف دفيزيکي موجوديت له مخې تعبير شوې ده ۰

يونګ دفرويد په څير په دې باوري دي چې له مور سره زموږ مينه او په ژوند کې تېر ته د بيا ورستنيدنې رغبت موږته په لمس ورو توګه يو داسې امکان دی چې دټولنې په ځان خبرتيا (خود اګاهي ) کې ځای نيسي.

---

[118] ميرزاخان ۱۰۹ مخ

یونګ ددې له پاره چې دا مساله یعنې مبدا او منشا ته ورستنید نه روښانه کړي اساطیرو ته مراجعه کوي. لکه څنګه چې د خلقت په باب بېلابېلې اسطورې موجودې دي نو دیونګ په باور په لومړي سر کې د دغو اسطورو د پیدا ایښت او ایجاد کې یو ډول وحدت شته. نو موړی د مصریانو هغه اسماني مارته اشاره کوي چې خپله لکۍ یې په خوله کې نیولې وه (اوروبوس) یې باله. د نړۍ د لومړۍ هستّیدنې په توګه فلاسفه ، کیمیا ګران اونور یا دوه جنسي موجودات دي چې له تاریخ نه تر مخه موجود وو یا د هندوانو پو راشات یا پوراشای ( یوه هندي اسطور ده چې د خلقت اسطوره تشریح کوي او بیا د هغه نه پس ټولنیز نظام او ...) یا د افلاطون لومړی انسان یا ادم وحوا چې حوا یې له کیڼې پښتۍ وزیږیده .
یو مشهور روانپوه د اساطیرې پوهنو په رڼا کې د انسان ابدیت او جاودانګي داسې تشریح کوي.
پیل یا مبدا ته ورستنیدل په فزیکي سطح کې داسې غریزه ده چې د مرګ په غریزه او پیښه کې هم انعکاس کوي . په روان پوهنه کې د مرګ په زړېیلګه یا ارکي تایپ کې یې تعبیر اوتفسیر کیږي. د مرګ په غریزه کې وجود په تدریجي توګه تجزیه کیږي .دا د مرګ په زړېیلګه یا ارکي تایپ کې داسې هڅه ده چې د فردیت خود اګاهي د جمعي نا خود اګاه په لوې سمندر کې ورګډیږي. دغه رواني اوفزیکي بهیرونه دژوند نه جلاکیدونکی برخې دي اوپه سمبولیکو شکلونو سره وده کوي . خاورو ته دمړو شو یو کسانو سپارل یا ښخول یا لکه ((یونس چې د نهنګ په ګیډه کې وو اوهلته پاتي کیدل )) اویا د غسل تعمید په مهال داوبو جریان

ته لویدل اونور یا د((ماندالا ))[119] مفکوره یا دخپل ځان یوه توته موجودیت په نوم هم دخپل کلیت زهدان ته بیرته ورستنیدلو مانا لري٠ په جمعي نا خود اګاه کې هرډول ډوبیدل دهرډول افسردګيّ اودمن تر وړانګو لاندي را تلل دي٠

مطلب داچې دژوند پیل اوپای په یوه نقطه کې یو ځای کیږي یو پر بل کې ځای نیسي٠ داسې چې که له یوې خوا دنشتوالي اونابودی هیله شته په عین حال کې دابدیت اوبیا زیږیدنې هیله هم شته ٠له همدې امله ده چې انسانان دې دواړو ته پیوند ورکوي اوخپل مړي خاورو ته سپاري اوهغو ی ځمکه دمور دګیډې په څیر بولي٠چې تللی یا مړه شوی ژر ژوندی شي اوبیانړی ته راګرځي ٠ دډېرو توږلوپه دوران کې په دې ډول خاورو ته دانسانانو سپارل دې ته ورته تعبیر کیدل چې لکه انسان دمور زهدان ته سپارل کیږي٠

بل مثال:

لکــه نــم پــه ګیــاهونو کــې غړیــږي
په دادود سړی هلک و پسی شاب شه

د عارف چې دباطن سترګې بینا شوې
د معنـې لـه مخـه لـري کـل حجـاب شـه

د وحـدت پـه ځـان لـه ځانـه سـربازي ده

---

[119] په سانسکریت کې ددایرې په مانا ده چې په هندي اوبودایي ادیانو کې دځاني تمرکز اومراقبي مانا هم ورکوي اویونګ یې دزړبیلګي په توګه یادونه کوي

د کثرت نوم یې ارهټ که یا گرداب شه[120]

که ددې برخې اړوند خپلې خبرې راټولې کړو نو پوهیدای شو چې عرفاني انسان پیژندنه دانسان پیژندنې یو ډول دی چې داشراقي پوهې اودانسان له دروني اوباطني تاءملاتو سره تړاو لري ۰ که له یوې خوا ددې پیژندنې بنسټ تیولوژي اودیني تعلیماتو ته راجع کیږي نو له بلې خوا ارواه پوهنې اواسطوره پوهنې سره هم اړیکي لري ۰

دسوریې یو فلسفي عالم ادونیس یا علي احمد سعید دتصوف اوسوریالیزم په اثر کې هم داسې ټینگار کوي او لیکي:

مهمه خبره داده چې وجود دصوفیانو له نظره دخارجي عالم پورې مربوط نه دی چې دبیروني وسایلو لکه عقل اومنطق له مخې وپیژندل شي ۰ له وجود سره نږدیوالي دمنطقي اوتحلیل کوونکي عقل په وسیله انسان ته له حیراني اوبې لارې توب نه بل سوغات نه راوړي بلکې هغه په عین حال کې له خپل ذات اوخپل وجود نه لیرې باسي ۰ دصوفیانو په نظر دغه معرفتي وسایل لکه سترگې چې لمر ته گوري ،هغه ویني خو دلمر رڼا لیدونکی ړندوي اودهغه دزیات جهل اوناپوهۍ سبب کیږي ۰

دریم:عرفاني عشق

یو ډیر مهم شی چې تصوف دنو افلاطوني فلسفي څخه را اخیستی اوخپل کړی یې دی، هغه دعشق مفهوم دی. متصوفینو

120 میرزا خان دیوان ۹۴مخ

اوعارفانو عشق یا له واجب الوجود سره عشق دټولو هڅو اوتلاشونو محور ګرځولی دی.

صوفي غواړي دعشق پر وزرو خدای ته ورسیږي. له دې امله تصوف ته په فلسفي پوهه باندې غوره والی ورکوي. توپیر یې ساده دی دا ځکه چې په فلسفي کیسو اوداستانونو کې انسان خدای ته ورته بلل شوی دی چې دخیر اوکمال اوجمال مثال دی. په داسې حال کې چې دتصوف په بنیاد انسان په الهي ذات کې محوه کیږي اوددې فناپه لړۍ کې مطلق ته تقرب پیدا کوي. په اسلامي تصوف کې ددې ډول افکارو پیدابینت چې دتوحید له عقیدې سره اختلاف لري صوفیانو ته یې سخته ستونزه ایجاد کړه اودتکفیر حکمونه پرې وشول. صوفیانو چې نه غوښتل داسلام له دایرې ووځي نو له یوې خوا یې دقران په تاءویل لاس پورې کړ اوله بلې خوا یې په اسرارو اورموزو باندې تکیه وکړه. په لومړۍ برخه کې صوفیانو قران داسې تعبیر اوتفسیر کړ چې ګویا له تصوف سره مطابقت لري. اوپه دویمه برخه کې یې غوره وبلله چې په پرده کې خبرې وکړي. کلمات یې په مجازي اویا کله ناکله په لیرې مجاز کی وکارول. دا کار په مجموع کې ددې سبب شو چې په ادب کې لاره پیدا کړي ا ودادب په وده اوغنا کې رول ولوبوي. میرزا خان انصاري په ادبې کار اودیوان کې دعشق مفهوم ډیر ځله راغلی اوان تر دې چې وایي:

کل جـهان له محبته پیدا شوی
دا رښتینی عشق د کل جهان ابا

دعشق مانا په افراطي توګه ديو څه خوښول اوله هغه سره مينه درلودل دي . يوه عاطفه ده چې دجسماني تمايلاتو، دښکلا دحس، ټولنيز احساس، تعجب، عزت النفس اونورو څخه مرکب دی. دا ډيره مفرطه علاقمندي اوان نا معقوله غوښتنه ده چې کله نا کله دکدورت سبب هم کيږي. البته دشهواتو په برخه کې صدق کوي چې په پای کې به په دې اړخ خبرې وکړو . خو دصوفيانو په باور سره دهستۍ دجهان بنياد اوبنسټ په عشق ولاړ دی .هغه جوش اوخروش چې ټول وجود يې تر اغيز لاندي وي دعشق له امله وي. نو واقعي کمال بايد په عشق کې وپلټل شي.

مولانا جلالا لدين بلخي وايي:

عشق جويد بحر را مانند ديگ
عشق سايد کوه را مانند ريگ
عشق بشکافد ملک را صد
شکاف
عشق لرزاند زمين را از گزاف
گرنبودي بحر عشق پاک را
کی وجود ی دادمی افلاک را [121]

دصوفيانو اوعارفانو په باور سره عشق دطريقت مهم رکن دی اودا مقام يوازې کامل انسان ته چې دتعالي مراتب اوکمال پړاوونه يې وهلي وي،دپيژندني وړ دی. دکمال په پړاو کې عاشق داسې حالت لري چې له ځانه پردی اونا خبره وي، اودزمان

---

[121] فرهنگ جامع اصطلاحات عرفاني ابن عربي ۶۴۷ مخ

اومکان نه فارغ او دمحبوب له فراق نه سوزي.
ابن عربي وايي: ((زه دعشق له مذهب نه پیروي کوم، دعشق سپاهیان هر لور تاختونه کوي، عشق زما ایمان اوزما عقیده ده. ..اوبیا زیاتوي: هیڅ داسې مذهب اوطریقت له داسې مذهب اوطریقت نه پورته نه دی چې پایه اواساس يې په عشق اوله معشوق سره په شوق چې زه يې پرستش کوم او پرې باور لرم، ولاړ نه وي. ))[122]
دمیرزا په دیوان کې ځای ځای دخپل طریقت سره او دخپلې لارې اوپیر اومرشد سره مینه اوعشق څرګند شوی او دعشق په اړوند ډیر رومانتیک اوسمبولیک غزلیات لري:

چــې کامــل محبــت ورشــي تــر قلوبــه
پــه محــب کښــې خپلـه مینـه شـي محبوبـه

پــر وړومبــي اثــر اختیــار ورڅخــه یوســي
چې د عشـق پـه زور يـې پوهـه شي مغلوبـه

تـــــرو پخپلــــه مـــــدعایې ګرځوینـــــه
هــر راکــب چــې قــوت رانیولــه مرکوبــه

د عـــذاب او د راحــت تــر پــوهې تېــر شــي
تـرو طاعـت ګناه سـاقط شي لـه مجذوبـه[123]

یا دا غزل:

---

[122] فرهنگ جامع اصطلاحات عرفاني ابن عربي ۶۴۷ مخ
[123] میرزا خان دیوان ۴۶

یگانه محبوبه ولې دی سر تور که
دآرام خلق دې واړه شرا شور که

لکه تا چې غنچه زلفې کړې پریشانې
دعاشق خاطر دې هسې پسی خور که

دښایست لښکر دې تول درسره ویوست
اول تاخت دې دعاشق دزړه په کور که

په اختیار دملامت دې جهان ونیو
دا تمام حسن دې خپل دی که دې پور که

پر هغو باندې به څرنګ قراري وي
چې پرې پوري دې دخپلې مینې اور که

چې دناز پلو دې ونیوو وړاندې
په عاشق دې دوباره محبت زور که

وعالم دې ښایست ورکه ولونه ولونه
بیا دې خپل ښایست دکل ښایست انځور
که

یو عجب حکمت دې دلې ته لیده شې
چې هر رنګ له یوه رنګه نوم دې نور که

دا بینا سترګې دې وینې بې جهته

دا سلام قوت دې کل پر یوه لور که[124]
یا په دې اوږده غزل کې:

ددې مستې شها زلفې تار په تار دي
غوړیدلې لکه سیوری په رخسار دی

هر ویښته یې گوښې گوښې کمند روغ کړ
خورې شوې دزخمي زړونو په ښکار دي

پر هغو زړونو به څرنگ قراري وي
چې څکولي یې دمینې په مهار وي

چې له هسې خپله ځایه شو بې ځایه
دا ستوگنې ملک یې کوم دی چې قرار دی

چې ددې محبوب په مینه دیوانه شو
اوس وتلی له تسبیح وله زنار دی

واړه چارې خپله مینه شوه دوړاندې
اوبې مینې له جمله کارو بیمار دی

په خلوت په میخانه کې یې ځای نه شي
نه په مینه دمسلم نه دکفار دی

124 میرزا خان دیوان ۱۱۹

له دې هسې مستې ځنګه احتیاطي کړم
چې کاته یې وویشتو وته تیار دي

ښایسته صورت یې ونه د چندڼ کړه
دا ګیسو ترې پریوتلې لکه مار دي

چې دا هسې رنګ دیدن وته هوس کړې
د جهان غمونه واړه پر انبار دي

همیشه د عاشق زړه باندې ورتیږي
د محبوب کاته لمبې سترګې انګار دي

نن یې بیا د خپل جمال ډیوه کړه بله
عاشقان لکه پتنګ تر چارو زار دي

عندلیب د عاشقۍ نامه ویلې
په ثنایي خبر زړونه خوارو زار دي

دغه سترګی یې کنول پسې بورا شول
او کاته لکه هستې صاحب اختیار دی

دواړه وروځي يې ليندۍ بانه يې غشي
واشنا ته يې نيولي په ګوزار دي

مخلصان په دواړو کونو ازاري کا
دمحبوب وښه ديدن وته حصار دي

تر دغه خوښۍ به زياته خوښي څه وي
چې هر دم يې ونظر ته انتظار دي
دا کثرت يې په وحدت باندې ارهټ کړي
اوراتله ورته دهر چا په خپل وار دي

وهر چاو ته يې خپله پوهه کېښوده
د هر چا ليده دفهم په مقدار دي

اى ميرزا ته دا ملالي ستر ګې وينه
چې مدام ديار له مينې په خمار دي[125]

عشق او دعشق پر محور نور مسايل په تصوف کې ددې سبب شوې چې شعر اوادبيات له ريښې له يو بدلون سره مخامخ شي. غزل دتصوف له پاره اورباعي اومثنوي دتصوفي افکارو دبيان ښه بستر وګرځيد. دا پيښه په فارسي کلاسيک ادب کې ډيره زياته جوته ده.

---

[125] ميرزا خان ديوان ۱۵۷

په غزل کې د شراب، مې خانې، خرابات،دېر مغان، مغ ومغ بچه،پیر مغان (په فارسي ادب کې) د شرابو اومستۍ اثر، بېخودي اونور عارفانه مسایلو ته اشاره ده چې په یو ډول کارول شوې دي ۰ البته دغیر متصوف شاعرانو له خمریه شعر ونو سره هیڅ ورته والی نه لري.

په پښتو ادب کې هم میرزا خان انصاري ددې لارې یو نوښتګر اوسر لاری شاعر دی۰ دهغه پورتني اوږود غزل یا قصیده، په همداسې تغزلي کلماتو اومفاهیمو پیل کیږي. هغه په واقعیت کې دیوې معشوقې انځور کاږي اوددغه انځور په باب خبرې کوي. هغه په ټول غزل کې دا کلمات لکه:

مسته شهلا ، تار په تار زلفې، په رخسار سیوری، له خپله ځایه بې ځایه، دهستوګنې ملک، بې له مینې له جمله کارو بیمار، نه په مینه دمسلم نه دکفار دی،

ښایسته صورت ونه دچندڼ یا چندڼ
چــــې ګیسوی لکه مار پرې راوتلی۰

یا نن یې بیا دجمال ډیوه، عندلیب نامه یې عاشقي، دوارړه وروځې یې لیندۍ باڼه یې غشي، کثرت په وحدت باندې ارهټ دی، اوداسې نور زیات مفاهیم. دتغزل مفاهیم اوعبارات دي چې موږ یوازې دمثال په توګه څو عبارتونه یا مفاهیم دتصوفي اصطلاحاتو دفرهنګ له مخې بیانوو.

زلف: زلفې په تصوفي فرهنګ کې جمالي اوجلالي تجلیاتو ته وایي. چې دمطلق جمال دوحدت دپټیدو سبب کیږي. دمثال په

دې بیت کې:

خواهیکه به رقص اید ذرات جهان با تو
در رقص بر افشان ان زلف چلیپا را [126]

شهلا سترګې: دسالک دکمالاتو اومقاماتو څرګندونې ته وايي چې ځان اوله ځانه غیر چی طالب یا غوښتونکې وکولای شي لاره پیدا کړي.[127]
خماري سترګې: دسالک دتقصیر دپټولو مانا لري چې دکمال خاوندانو ته دهغه قصور څرګند نه شي.
جمال: د دلربايي اوځان ښودني له لاري دانصاف له مخې دمعشوق دښکلا دکمال څرګندیدل دي.[128]
تسبیح اوزنار: چې زنار داطاعت او دنفس دمطاوعت په مانا کارول کیږي. لنډه دا چې داسې ټول اصطلاحات اومفاهیم چې په ظاهر ي او عیني توګه په یو عیني شي اوپیښې دلالت کوي. په تصوفي اوعرفاني فرهنګ کې استعاري اوسمولیک اورمزي مانالري چې میرزا خان په خپل کلام کې ډېر زیات کارولي دي. پخپله هم په یوه ځای کې وايي:

د میرزا کلام رمـــوز دی
چې معنی یې په څو بابه[129]

## ځلورم: نفساني غوښتنې او غرایز

---

[126] میرزا دیوان ۶۳
[127] تصوف وسور ریالیزم ۷۸مخ
[128] سجادي فرهنګ ۱۰۵ مخ
[129] میرزا خان دیوان ۴۵مخ

تصوفي اوعرفاني فرهنگ دیو لړ انساني اودیني اخلاقي ارزښتونو د ټینګښت، ودې، هستونې اوتعالې جوګه هم دی. لکه څنګه چې صوفي او عارف دبیروني نړۍ په نسبت تر زیاته حده په خپل ځان اوخپل تن تمرکز کوي نو یو ډول اروا پوهنېزو بهیر ونو اوجریانونو ته هم لاره هواروي .یا په بل عبارت عرفاني تفکر یو ډول انفسي اوروانی جریان دی چې داصلاح او رغاوني بهیر له یو تن اویو روح نه پیلوي اوپه تدریج سره دداسې درسونو او لارښوونو سبب کیږي چې خپل پیروان دنفس دتزکیي دزړ ه دسپیڅلتیا او د هوا اوهوس نفی ته را بولي.

د لرغونو فلاسفه وو اوحکیمانو په باور نفس هغه جوهر دی چې ذاتا خپلواک اوپه فعل کې مادې ته اړتیا لري یا داجسادو اواجسامو سره تړاو لري. یا هغه جوهر دی چی په خپل ذات کې قایم اومستقل دی.

دځینو پوهانو په عقیده نفس یعنې اور یعنې هوا ،څمکه، اوبه، بخاري جسم، له عناصرو مرکب عدد دی .غریزي حرارت دی .دم اومزاج دی او داسې نور.

د ابن رشد په قول دنفس حد اوتعریف امکان نه لري.

نا صر خسرو وایي (( نفس جوهری است بسیط وروحانی وزنده بذات وداناست بقوت وفاعل بطبع واوصورتی است از صورتهای عقل فعال )) .په (( جامع الحکمتین )) کې دا خبره واضح کوي چې نفس اعلی لکه چې دمخه وویل شو ل غیب نفس چې ددې جهان ملکوت دی په څلور ډوله دی چې یو یې نفس اعلی دی . یو نفس اعلی چې هغه ته اسرافیل وایي اوکار یې

د روح اچول او اجسامو ته روان ورکول دی.[130]
په اسلامي فلسفه او عرفان پوهنه کې د نفس د پیژندني له پاره ډېر اصطلاحات کارول شوي دي چې دلته یې په لنډ ډول یادونه کوو.
نفس اماره چې هدف ترې د پستو اوډیرو ټیټو تمایلاتو ځخه دی. چې دهوا اوهوس تابع وي اود دمهلکه دستوراتو په اساس انسان ناوړه کارونو ته هڅوي. اوبا الاخره په انساني روح باندې دحیوانیت دغلبې له امله یې نفس اماره بولي.
نفس الامر: دنفس الامر کلیمه یعني دهر شي دذات اندازې ته وایي اوځیني وایي هدف ترې د فعال عقل مرتبه ده چې عقل اول اوکلیه نفس ته هم نفس الامر وایي. یعني هغه عالم چې روح اوداجسامو دعالم حقیقت دی نفس الامر یې بولي.
انساني نفس: انساني نفس له حیواني هغه نه جلا نه دی. لکه ځنگه چې سړیتوب له ځناورتوب نه جلا نه دی· دانسان انسانیت له نورو حیواناتو او ځناورتوب نه په تدریج سره جلا شو .له دې امله ده چې دحیواني نفس مرتبې هم د وهمي اوخیالي ادراک په قوت اوهم دفعل په قوت کې پرمختگ کړی دی. )[131]
ځینې نور تعریفونه لکه: بهیمي نفس چې هدف ترې شهواني قوت یا نفس شهواني دی.
نفس حسي: هدف ي حیواني نفس دی چې دحس اوحرکت منشا دی. اوداسې نور.
درحماني نفس په اړوند صدرالدین وایي: لکه ځنگه چې انساني نفس دبیلابیلو اصواتو اواشکالو دپیدا ایښت سبب شو اوخاصه

---

[130] فرهنگ علوم عقلي ۵۹۶
[131] همدا اثر ۵۹۷

پيښنه وه .منشا يي هماغه ۲۸ حرفونه دي چې دعالم موجودات په خواصو اواطوارو اومختلفو ډولونو سره له عالم الغيوب نه دفيض حق په وسيله په بيلابيلو شکلونو را منځ ته شوی دی.

ميرزا خان انصاري ځای ځای په خپلو اشعارو کې دنورو متصوفينو په څير نفس هوا اوهوس په خوا کې دزړه يادونه هم کوي وايي:

دې کې شک نشته چې دانسان اوحيوان يو مهم غړی له زړه نه عبارت دی. چې دژوند ،حيوان اوانسان دحياتي فعاليت مرکز دی. له دې امله ده چې طبيعي پوهانو ويلي دي؛ لومړی غړی چې په انسان کې مسکون شوی له زړه نه عبارت دی. اوځيني وايي کبد دی اوځيني وايي حيواني روح دی.

دزړه کليمه په بيلابيلو دورو اوبيلابيلو افرادو اوطبقاتو په فکر بيلابيلي او بې شميره مانا وي لري يو شمير فلاسفه وو ويلي دي. زړه هغه روحاني رباني لطيفه ده چې دجسماني صنوبر الشکل پوري اړه لري.

عارفان وايي: دانسان روح په دې باور سره چې ددوه خواو يا وجهو ترمنځ په تحول کی دی يو داچې يلی الحق دی اوله حق نه فيض اخلي اوهغه وجهه چې يلي النفس ده زړه ورته وايي.

قيصري واي: هغه چې حکيمان ورته نفس مجرد نا طقه وايي اهل الله يې قلب بولي.[132]

عرش الله وهسې زړونو ته ويل شي
چې مدام د معرفت په نور جلا [133]

---

[132] همدا اثر ۴۶۹
[133] ميرزا خان انصاري ۲۷

په عرفان پوهنه کې کله چې د نفس کلیمه په خوله راوړو نو طبعا چې هدف ترې انساني نفس دی. هغه چې د مهارولو په صورت کې صیقل کیږي او د تعالي په لور حرکت کوي.د نه مهارولو په حالت کې په حیواني او غریزوی بڼه د حقارت، پستۍ او زوال په لور ځي. انساني نفس درې سرچینې او منشا وی لري. لومړی منشا د طبعیت حسي شکلونه چې د هغه مظهر پنځه گوني حواس دي. دویمه منشاء یې اشباح او سیوري او د حواسو غایبې بڼې دي چې مظهر یې باطني حواس دي چې عالم غیب او اخرت هم ورته وایي او دریمه منشاء یې عقلي ده چې مظهر یې عاقله قوت دی. میرزا خان په خپلو تعلیماتو او د خپل سیروسلوک په بهیر کې د نفس، هوا، او زړه (قلب ) اساسات له یاده نه باسي بلکې په کرات او په وار وار یې یادونه کوي:

په هر تن کې چې امیره شوه هوا
د هـــوا اسیر له عقله بې نوا [2]

د شاعر له کلامه د هغه فکري سیر په څرگنده توگه جوتیږي چې باور لري په کوم انسان کې چې پر ځان د مهارولو او کنترول وس له لاسه ځي، هوا او هوس پرې غالبیږي. هوا او هوس او نفساني غوښتنې په کې امارت کوي، تعقل او پوهه زوال مومي. او یا خاوند له عقله بې نوا او بیوزلي کیږي.

تزکیه چې یې حاصله د صورت شي

---

2 همدا اثر ۳۶ مخ

## ترودې غير انديښنې دزړه للون کا

ميرزا خان په يوه ځای کې دانساني نفس دتزکيي اوپاکۍ له پاره روحاني سفر اړين بولي او سالک ته لارښوونه کوي:

شاه تر تا نژدې وتاته
بل رخ مه درومه بې
راتـــــــــــــــه
باقې مينه حقيقي ده
صحبت مه کړه له
امواتـــــــــــه
دحرص ځانګونه مات
کـــــــــــــړه
مخالف شه وهوا ته[134]

خو هغه کسان چې رياضت ته پناه وړې اوپه دې فکر کې کيږي چې څرنګه دهوا اوهوس اونفساني غوښتنو څخه ځان وژغوري نو له نورو افکارو اواند يښنو نجات مومي.
نوموړې دقرآن دمبارک ايت تفسير بيانوي چې وايي: لوی ذات انسان ته دهغه له شاه رګ څخه هم نږدې دې چې پخپله دا سلامي تصوف يو عمده بنياد ګڼلي شي. عارف نصيحت اولارښوونه کوي چې حقيقي مينه کې دمرګ اوفنا خبره نه شته. بلکې ابديت دی. په داسی حالت کې عارف بايد چې دحرص اوطمع نه لاسونه

---

134 همدا ۴۹ مخ

پرې منځې. او دهوا اوهوس په وړاندې درېځ ولري.
دمذهبي اوعرفاني متونو بر سيره دهوا اوهوس اونفساني غوښتنو اوغرايزو مساله دمعاصري اروا پوهني يوه مهمه موضوع هم ده ۰

غريزه دارواپوهني اړوند عوامل دي چې دانسان دټولنيز نا خبر يا ناخوداگاه سره تړاو لري· توماس ريد دغرايزو په باب وايي:له غرايزو هدف هغه طبيعي ټکان دی چې دخاصو اعمالو دترسره کولو په استقامت کې پرته له دې چې غرض يا حساب وکتاب اويا ان هغه څه چې کيږي دهغه اړوند تصور موجود وي ،ترسره شي ۰ غرايز داسې فعاليتونه دي چې په هره برخه کې چې دعمل اوعکس العمل سره مخامخ کيږو يوه بڼه لري اوپه يوه قاعده اواساس رامنځ ته کيږي ·موږ له داسې غرايزو سره سروکار لرو چې مهمه اواړينه نه ده که هغه هوښيار محرک ولري اوکه نه ·يونگ دا خبره نه هيروي وايي : لومړني غرايز اوس هم په انسان کې پياوړي اوقوي دي چې که داقتدار اوقانون له لارې ورته قيزه وانه چول شي په چټکۍ سره فرد اوټولنه له منځه وړي ۰ هغه زياتوي انسان سره له دې چې په ظاهر کې متمدن دی خو په باطن کې لا تراوسه بدوي دی ۰[135]

يونگ دانسان غريزي عملونه دهغه په نا خود اگاه کې پټ اونغښتي بولي چې په بشر کې دهغه ددروني اړتيا له مخې را برسيره کيږي ۰ لکه لوږه،جنسي تمايل، عمل اوفعاليت ،انعکاس اوهستونه چې عقل اوحواس يې غريزې ته محتوا

[135] ولاديميروالتراوداينيك·يونگ وسياست ۰ (ترجمه عليرضا طيب )نشر نی ·تهران:١٣٨٨ کال ٢٥مخ

اوموضوع ورکوي ۰ دا روښانه ده چې دغرايزو سرکوب نه يوازې داچې امکان نه لري بلکې دروانې ګډوډۍ سبب هم کيږي ۰ دنيچه وړانديز دادی چې له غرايزو نه په مثبت اوجوړوونکي کار کې ګټه واخلو خو پوهه اومعرفت دی چې دانساني روح دتعالي اوصيقل سبب کيږي ۰ دټول حيواني او نفساني غوښتنو اوغرايزو کنترول اخلي ۰ پر هغه پښه ږدي اونه يوازې ديو عالي انسان اوعارف په توګه رامنځ ته کيږي ۰ له همدې امله ده چې ددې ستونزو دحل لاره ميرزا په معرفت کې ګوري اوانسان عرفاني لارې ته را بولي ۰ اوپه يوه اوږده غزل کې وايي:

دفقيـر خبـرې ونغــوږه ای کســه
تـه پـه دا حيـات خبـر شـه لـه نفسـه

کـه لـه دی شـيرينه دمـه خبـر دار شـې
دژوندون لذت بـه مـومې يـو پـه لسـه

کـه مـدام دې لـه دايمـه سـريکار شـې
هـم دغـه فـايـده دې تـل ترتلـه بسـه

که په دا حيات لـه ذاتـه خبـر نـه شوې
پـه معنی کې تـه يې کـم لـه کمـه خسـه

هر نعمت بـه دې بيشکه پـه زړه درشـې
کـه يـې ژغـورې لـه ميږيـو لـه مګسـه

قناعت به دې هاله په زړه قرار شي
که یک لخته حرص رانسې له نسه

خپل زړګی دی عجب باغ په میوه پر
دی
ته یې خلاص کړه له دغه نږدې
ګرګسه

حق ترتا وتا نیزدې دی که باور کړې
ته دا خپله معنی وګوره بې کسه

دصورت په صفت ولې غلطیږې
له اوله مراد اواز دی له جرسه

دهوا ځانګونه مات کړه له پروازه
هم وزړه ته پیر دار شه له وسوسه

ته ګومان دمحبت پر لمبه کښیږده
په دا خوی به یګانه شې له ققنسه

دا رضا که درضا ومقام وریې

ستا اندوه به هاله ورشي تر هوسه

کل جهان به ستا له مخه مرغزار شي
ته بهار دولايت يې دهند وسه

چې عارف له نيزديکيه مقصود
بيامونـــــــــــــــد
په يقين به ليرې نه ځې له جوسه
هر گداى چې همنشين شې له
مســـــــــــــکينه
په شرې يې گرو پيرودله اطلسه

دې ميرزا پخپله هيڅ نه دي ويلي
دوحدت طوطي اواز کا له قفسه.

ميرزا سالک ته لارښوونه کوي چې دژوند په پړاو کې که له دايم يعني ابدي ذات سره سرو کار ولري نو ترتله دې گټه پورته کړه اوکه له دې راز نه خبر نه شوې نو هسې خس يې٠ که دا زړه له ميرېيانو اومچانو نه وژغورې نو دنعماتو څښتن به شي٠ که دحرص اوطمع وسواس ليرې کړې نو ستا استغنا به ستا زړگى له ميوو ډک ووينې٠
ميرزا وايي چې دصورت په ستاينه غلط نه شي دا ځکه چې په ابتدا کې چې دجرس اواز شوى دى هغه ابدې اوتلپاتې اونه بدليدونکى دى٠ هر څه مالوم دي٠دهوا اوهوس وزرې بايد ماتې

کړې اودوسواس په وړاندې دزړه پېره دار اوسه۰ دا میرزا نه دی چې وایي بلکې دا دوحدت طوطي دی چې ددې خاورین تن له پنجرې نه دا اواز کوي۰

هغه وایي چې محبوب له انسان نه لیري نه دی،بلکې دهغه دتن اووجود اودحواسو په مرسته کولي شي. درک اوو پېژني. نوموړې دا نه هیروي وایي چې کله دعارف سترگې دحق په لیدو بینا شوې نو په هر څه کې خپل محبوب لیدا ی شي. دا دتصوف اوعرفان یو کلي بیان هم دی.

میرزا وایي:

د عـــارف خبرې واړه نصیحت دی
که دزړه په غوږ یې واورې حق شناسه

اویا داچې:

اوس له نفسه سره جنګ درلره بـه
دی
نـه چـې برخـه دې خـوارې شـي
جاودانــــــــــــــــه
بې زوالـه بادشاهي بـه دې روزي
شـــــــــــــــــــي
که دا هسې برې یو سې له میدانه

پـه داهسـې غلـیم څـه لـره سـرفه
کـــــــــــــــــړې
چې پـه ورکـه یـې دیـار مینـه شي

### دخبـرې پـه معنـی هغـه پـوهيږي
### چې يې فهـم رسيدلی تـر نروانـه[136]

ميرزا خان په دې پورته شعر کې له نفس سره جنگ اومبارزه دمتعالي پوهي اودرک معراج بولي .اوهغه څوک دې پوهې ته لاس رسی پيدا کولای شي چې تر نروانا پوري يې پوهه ورسيږي. نوموړي دهندې فلسفي دنيروانا[137] مفهوم په ډيره ښه اوانطباقي توگه کاروي. نيروانا دپوهي اومعرفت لوړ اوعالي پړاو دې چې په فکري تمرکز اوتاملاتو تر لاسه کيدای شي. گورو چې داسلامي تصوف اوهندې فلسفي پوهي ترمنځ واټن دلته کميږي اومفهوم واحد شکل اوبڼه غوره کوي. لکه دا غزل:

نيکوبـد وبلـه نـزدې ځيلـه جـدا دي
د ميــوې ســره اغــزې لــري کرکڼـه

---

[136] همدا ۷۶ مخ

[137] نيروانا په لغت کې داور مړه کيدلو ته وايي. ماکس مولر ددې مفهوم اړوند ليکي: (( دې کې شک نشته چې وروستيو بودايي حکيمانو دوجود عالي هدف اودخاکي ژوند پايي نيستې يا عدم بللی دې. خو دبودا اصلي طريق اودرهبانيت لومړی عقيده بل ډول وه. ))
بودا خپلو شاگردانو ته دژوند دپای په باب وايي: (( ای زما شاگردانو ! مساله داده هغه رڼا چې دتيلي څراغ په غوړيو سوزي نو روښانه وي. اوکه څوک په لازم وخت کې په څراغ کي غوړي يا تيل وانه چوي .دلوښي سر پاک نه کړي په نتيجه کې دسونگ موادپای ته رسيږي.
خو که له سره په څراغ کې غوړي وانه چول شي، نو خاموشه کيږي. نو زما زده کوونکو !.په همدې ډول دهغه چا په وجود کې چې دهستئ دټول جهان دسپنجي کيدلو له لړی خبرتيا پيدا کوي اوپه دې خبرتيا ټينگ ولاړ وي .نو دژوند غوښتنې له منځه ځي .په نتيجه کې دهر ډول رنځ سلطه اوعذاب له منځه ځي .))
محمدداراشکوه .دکتر تاراچند. جلد نخست .چاپ تهران .سال .۱۳۵۸. صفحات ۵۷ و ۵۸.

دغه لوی نوم یې د هر نامه مصدر که
چې هیڅ نوم یې بیرون نه دی له انګنه

ای میرزا که یې دخوی بهترې نه وي
د سید تفاوت څه دې له بامنه ۰[138]

درې مفهومه توضیح ته اړه لري:
سید ، بامنړ او خوی خصلت.
جوته خبره ده چې دخوی اوخصلت صیقل کیدل اورغول دمثبتواخلاقي ارزښتونو دحصول په بنیادتر سره کیږي. سید اوبامنړ یعني داسلامي فرهنګ دوتلي اوسپیڅلي نسل اودهندو هغه ترمنځ توپیر په همدې کې دی. سره له دې چې دواړه مفهمونه په خپل ځای کې تقدس لري .خو میرزا دلته سید ته په ارجحیت قایل دی.
میرزا خان په خپلو فلسفي تاءملاتو کې دنیکۍ اوبدۍ، دخیر اوشر مفهوم په ژوره مانا بیانوي. ددې دواړو مفاهیمو تړاو اونږدې والي او دهغو ترمنځ منطقي اړیکي بیانوي. اودخلقت له اسطورې نه په ګتې اخیستو سره ورته اشاره کوي. دمثال په توګه:
(دغه لوی نوم یې دهر نامه مصدر که
چې هیڅ نوم یې بیرون نه دی له انګنه )
په معاصرو فلسفي ښوونځیو کې هم دهوا اوهوس، نفس اوقلب،

[138] د میرزا خان دیوان ۱۴۸مخ

خیر او شر او داسې نورې مسالې له بیلابیلو زاویو څخه څیړل شوېدي. نیچه یو له هغو فلاسفه وو څخه دی چې تر هر چا زیات په انسان او د هغه په عظمت متمرکز او هم دانسان جدی نقاد دی. دداروینیزم دمنځ ته راتلو په ځواب کې خپل دریځ روښانه کوي. ددې تیوري په وړاندې چې دانسان اشرافیت په کې د شادویا بیزو حالت ته را کښته کیږي. داسې فلسفي ښوونځي بنسټ ږدي چې انسان له توهماتو ژغوري. هغه دداستایوسکي دا خبره را نقلوي چې وایي: (که واجب الوجود نه وي نو هر څه مجاز دي). البته (داستایوسکي دواجب الوجود له مفهومه خاص اخلاقي برداشت لري ) په دې مانا چې انسان دخدای مخلوق او له هغه سره په رابطه کې دی. اوکه دغه خدایي رښا له هغه سلب شي نو یو حیوان دی چې ښه او بد نه پیژني او هر څه ورته مجاز دي.

نیچه دشعور په اهرم سره نه یوازې انسان ته تعالي وربخښي بلکې دهغه دننی انسانیت هم نه منعکسوي بلکې غواړي هغه څه چې کولی شي: یعنې برتر انسان ؛

نیچه غواړي له مخلوق انسان نه خالق انسان جوړ کړي. دنیچه په نظر دانسان هدف دمسیحییت پر خلاف باید ژوند ته مثبت ځواب وي. نه دا چې هغه رد او له هغه نه انکار وشي ·

نیچه وایي: په انسان کې خالق او مخلوق دواړه یو ځای شوي دي. ایا ددې تضاد مفهوم څه دی ؟ددې له پاره چې ستاسو په تن کې مخلوق په خالق بدل شي نو باید هغه مات کړئ هغه وځپئ او وریتې. وسیزئ او له سره ورته شکل ورکړئ او اګاه یې کړئ. ) )

دنیچه په عقیده ددې له پاره چې وکړای شو خپل درون لکه څنګه

چې غواړو بدلون ورکړو نو درې شيانو ته اړتيالرو. اوسپنيز انظباط، سنت شکني، اونوی کول.
لکه چې دمخه بحثونو کې وويل شول، په تصوف کې يو اساسي مفهوم دکامل انسان هغه دی . چې ډېر لوړ اوعالي مثال يې په خاص انسان کې ځليږي. د قرآني داستان دتاءويل له مخې دآدم ( ع) پيدايښت دهغه په برخليک اوسر گذشت کې دازړبېلګه ( ارکی تايپ) پلټل کيږي . ددغه تاءويل اهميت دادم دهستۍ اودمخکينۍ اوله لومړۍ گناه څخه وروسته دهغه په نقش کی دی . تصوف چې په اصل کې دزهد اورياضت اوله خدای څخه دوېرې اوترهې په بنسټ را منځ ته شو ددې تاءويل له مخې بل پړاو ته داخليږي . ددې تاءويل له مخې دازلي گناه ماجرا اوپه هغه کې دخدای قهر اودخدای له درگاه څخه دهغه شړل يا له جنته راويستل يوه داسې ظاهري پيښه وه چې درقيبانو اومدعيانو څخه اصلي خبره پټه ساتلې، بلل شوی ده . دفلسفي عرفاني تعبيراتو په اساس دغه پټه اوازلي طرح له هغه ښکلا نه عبارت ده چې ادم دغه تقاضا پوره کړه . دادم يا لومړني انسان اساسي کمزوري (نفس اووسوسه ) ددې تاويل له مخې دتجلي دطرح يو ضرورت گڼل کيږي. په دې اساس په نظر کې داسې بدلون رامنځ ته شو چې گواکې غواړي له وېرې،عشق،رنځ اوزاهدانه رياضت له مخې بيا جنت ته ورستون شي اوله ناپايه نعمتونو نه برخمن او دپرښتو په څير بې گناه وبلل او د هغه لومړنی گناه له مخې چې حقير بلل شوی وو ،وژغورل شي او ځان له هوا اوهوس نه پاک کړي. په دې لړ کې عارف ځان ددې جوگه بولي چې دهستۍ ددغه

امانت په منلو پوهيږي اودا پوهه هغه ته ددې انګيزه ورکوي چې ځان لوړ احساس کړي٠ نو دواړو عالمو ته ګوري ٠دواړه عالمه يې په نظر سپک اوحقير راځي دا ځکه چې يوازې دخپل دوست اودلدار دښکلي مخ ليدل اوله هغه سره له وصل پرته بله هيله نه لري.

داساطيرو له مطالعې اوڅيړنې هم جوتيږي چې لومړې انسان چې کله ديو مشکل سره مخامخ شو، ورته امر وشو چې دمعرفت دونې ميوه ونه خورې. خوهغه دشيطان اووسوسي له مخې دا چاره ترسره کړه نو له عذاب سره مخامخ شو. دلومړي ځل له پاره ورته دشرم احساس پيدا شو اوچې کله ځمکې ته راغې. نو دژوند پيتې دهغه په اوږو پريووت. دخير اوشر سره مخامخ شو.

په انسان کې غرايز اونفساني غوښتني دهغه دکړنو او اعمالو محرکه قوت دی. کله چې انسان په دی قابو ومونده چې له نفساني اوحيواني غرايزو لاس واخلي اويا هغه کنترول کړي نو په تصوف کې دا لاره دزهد اوتقوی اوتفکر له لياري دخپل نفس دتزکيي په لټه کې کيږي انسان متعالي خصلت پيدا کوي اوله حيواني اوټيټو اعمالو اوکړنو څخه ځان ژغوري.

پنځم: پير او مرشد

صوفيه اصول حکم کوي چې سالک بايد ديو پير اويا مرشد لاس نيوی و کړي. دپير اومرشد مفهوم په ببلابيلو کليماتو اونومونو ياديږي. لکه پير، ولي، شيخ اوقطب اودلارې دليل . داداسې شخص دی چې پوره علم اوتجربه لري اوپه خپله دحق سره دوصال

دعوه کوي. جامې عبدالرحمان په نفخات الانس کې دولي په باب وايي: (( ولايت له ولي نه مشتق دی اوپه دوه ډوله دی،ولايت عامه اوولايت خاصه. عامه ولايت دټولو مسلمانانو تر منځ شريک دی اوخاصه ولايت دواصلانو پورې مخصوص دی .دسلک دخاوندانو فناعبارت ده دسير الله له نيابت نه اوبقا عبارت ده دسير الله له هدايت نه چې سير الله هغه وخت انتها ته رسيږي چې دتن باديه دصدق په قدم يو وار قطع کړي اوسير الله هغه وخت تحقق مومي چې بنده له وجودي اوذاتي مطلقې فنا نه وروسته دهر ډول لوث نه پاک شي چې الهی اوصافو اورباني اخلاقو ته ترقي وکړي.

هغه زياتوي: ددې له پاره چې په تصوف کې دولي اوپير مقام اواهميت روښانه شي نو ډيره ښه وسيله دصوفيه لويانو څخه استشهاد دی.))[139]

دتصوفي عقايدو پر بنياد پير په دې نړۍ کې يوازې دخپل محبوب اومعشوق سره دوصل له پاره په خپله فنا اوامحا کې فقر غوره کړ. درويشي يې غوره کړه. نو ځکه خو اوس دهغه ثنا اوستاينه اوږنا دبرښنا په څير په ټول عالم پرته ده.

ميرزا خان په يوه لويه قصيده کې دعارف رواني حالت اوکمال په خپلو غزلياتو اوقصايدو کې په ښکلي ژبه بيان کړی دی. دنوموړې له کلام نه په روښانه توګه دشاعر فکري اډانه اوفکري سيستم جوتيږي. شاعر دتزکيې څخه پيل کوي. دروح له صيقل کولو پيل کوي. دهر ډول دنيوي چارو په اړوند فکر اوانديښنه

[139] دکتر قاسم غني. تاريخ تصوف ايران.چاپ: ايران تهران سال چاپ يازدهم ۱۳۸۹.ص۲۰۹

پریږدي. روح یوازې دخپل پیر اومرشد سره تړي. له هغه پرته ټولي نورې وسوسې او اندېښني له زړه لیرې کوي. دنور څه په باب هډو فکر نه کوي. فکري تمرکز په یوه مفهوم ایجادوي.

لــه هغــو جــاهلو څــه وایــم عـالمــه
چــې دنــن چــاره پــه ګانــده پــه پــرون کـا

تصــفیه بــه یــې دزړه شــي نــه حاصــله
چې څراغ پرې باندې بل دخپل ژوندون
کــــــــــــــــــــــــــــا

دعــارف نظــر لــه قافــه دی تــر قافــه
په محیط دریاب به ګډ دغه جیحون کـا

عجب زیـب دمعرفت دزړه پـه سـترګو
چـې بـې مثلـه ننداره ددې بیچـون کـا

میرزا دخپلو عارفانه لارښوونو په لړ کې جوتوي چې وخت اوزمان ددی علت اوسبب نه دی چې عارف اوسالک په کې ځنډ وکي. یوازې جهال اوناپوهان دي چې دنن چاره دپرون په معیار سنجوي. دهغو کسانو دزړه تصفیه حاصلیدی نه شي تر هغه چې دخپل ژوندون دڅراغ په رڼا کې چارې ګورې یا داچې دژوند صورې دوام ته لومړیتوب ورکوي.
خو عارف څه وایي: دعارف نظر له قاف نه تر قاف پورې دی.

لومړی قاف یعني قادر اودویم قاف یعني دقادر ذات دقدرت تجلي چې په کثرت کې بې شمار دی.
دمثال په توگه وایي:

ق قادر په خپله چار دی په هر څه کې یې اختیار دی
په وحدت کې یگانه شه په کثرت کې بې شمار دی[140]

دادوه قافونه په الفنامه کې هم تشریح شوي دي اوپه ذوالمعنین توگه کار ول شویدي. چې ځانگړي تصوفي اوعرفاني سمبولیکه مانا لری. عارف چې له قاف نه ترقافه نظر کوي نو په ناپایابه سمندر کې چې هر څه یا ټول کاینات یې احاطه کړ ي دي. کولی شي چې خپل سیند په دغه سمندر وربرابر کا اوله هغه سره یو ځاې شي.
میرزا دمعرفت دزړه په سترگو ښکلا ویني. داسي ښکلا چې ددې بې چون اودبې څرنگوالي بې مثاله نندار ه کوي.

ذاکـران چـې نـن پــه لاالــه نفـی شــو
هــم دالا الله پــه کــوت کــې فــا یضــه

نــورې غیــرې اند یښــنې ځنــې فــانې
شـــــوې
چــې دذکــر فــیض یــې بیــا مونــد لــه
فایضـــــــه

140 دمیرزا دیوان .(ص ۱۳)

عـاقلان چـې بـې مرشـده قـدم ږدي
په بار بار يې احتياط شي لـه ناقضـه

[141]

د پير کامل په باب د ميرزا عقيده هماغه د کامل انسان نظريه ده چې ځای ځای يې ورته اشاره کړې ده.

چـې دا فهـم و محبـت و بلـه ورشـي
تـوره شـپه يـې رڼـا ورځ شـي لـه تاليفـه

د روښـانـ ثنـا پـه کومـه ژبـه وايـم
هـر اواز يـې دلالـت دی لـه تعريفـه[142]

ميرزا د پير کامل او وحدت په اړوند وايي:
گـه يـې وويـنـي پـه څيـره
داد دواړو کونـو ميـره

پـه وحدت کـې يگانـه دی
بـې شـريکه بـې نظيـره

کثرتي لښـکر يـې جوړ کړ
گـه بادشـاهي گـهـي وزيـره

[141] دميرزا ديوان ۱۰۱مخ
[142] دميرزا ديوان ۱۱۱مخ

دا ژغرویه دهر کښت ده
هم دهر حیوان آهیره

چې نظر یې په محبوب شه
زړه مې ووت له تدبیره

نور عالم پخپله لار ځي
زه یې بیل کړم له بهیره
د استاد کلام رښتیا دی
صحبت نه دی بې تاثیره

چې دعشق په لومه
کښېښوت
بند یې سخت دی له
زنځیره

په دابند کې ازادي کا
دخود بین خودي تغییره

محبت دده زندان شه
زړه یې لوی که له سریره

ځو ځوانان يې رسيده کړ
کل ځوانی دې ده له پيره

خلق طمع له بادشاه کا
بادشاه خواست کا له
فقيــــــــــــــــره

ميرزا امن هغو بيامونـد
چې هوا يې کړه اسيره[143]

په روښاني مکتب کې دپير اومرشد مفکوره دخيرالبيان له دې عبارت نه پيل کيږي چې وايي: ((مرګ به ورشي وسړي وته ننګهان .نشته په دونيا کې دسړي تر تله مقام. اوبايزيده ! که دې رضا وي (۱۰۴) چې زما وپيژند ګلوي ته وبولي ادميان ترودې بويه چې دپيغمبرانو ولارې وته يې بولي ادميان. ترودې بويه چې دپيغمبرانو ولارې وته يې بولې عليهم الصلات والسلا م. اوکه دې رضا وي چې دپيغمبرانو ولارې وته يې بولي ادميان ترودې بويه چې يې بولي و هغه وته چې پير وې تمام. (۱۰۵)
همدارنګه بيا وايي: (( نشته په دا زمانه پير تمام بيرون له تا چې وارث دانبياء يې دربنتيني لارې ځبنتن يې .ته باوروکړه په دا کلام (۱۰۶)وايه وسړي وته چې په رښتيني پيژند ګلی وپيژني دا جهان چې کړی مې دې سری دفتني دزيان اوده چارچوبی

143 دميرزا ديوان ۷۹مخ پير کامل ۲۰۱ مخ

دتاریکۍ اوسرای دورانۍ عیان ))[144]
دپیر اومرشد مفکوره په اسلامي تصوف کي دلاربنود هادي په توگه یو له اساسي اصولو څخه ده. خو په ځینو اسلامي فرقو لکه په اسماعیلیه کې دامام زمان یا دمهدي ظهور بیا یو بله لاره ده. چې دلته دخیرالبیان داعبارت ورسره سر خوري.
حالنامه دعبدالله اویعقوب اونورو عزیزانو ددعوت کولو په برخه کې وایي:
(( پس به تحقیق معلوم شد که شناختن حق تعالي پیش از جمله فریضه ها بربنده فرض عین است وشناختن حق تعالی بی پیر کامل حاصل نمی شود . )) دحالنامې لیکوال په دې لړ کې ددلیل له پاره دا یادونه کوي.
قال النبی علیه السلام: لا دین لمن لا شیخ له (٠ یعنې نیست مرکسی را که نباشد مر اورا .لا جرم فرمود ان خاتم النبین وسید المرسلین که طلب پیر کامل بکند وازمعرفت حق وعلم النبی حاصل کنید. اگر چه ان کامل به سرحد زمین چین وماچین باشد چنانچه میشنوی قال النبی علیه السلام : اطلبو العلم ولو با لصین ))[145]
میرزا خان دروښاني لاري یو له هغو ثابت قدمو اوټینگو پیروانو څخه گڼل کیږي چې په فکرې لحاظ دروښاني مکتب یو مفکر اوایدیولوگ دی. هغه په خپلو اشعارو کې څو ځایه دپیر اومرشد مفکوره یاده کړې ده وایې:

---

[144] دخیرالبیان تنقیدي مطالعه .قلندر مومند ١۴ مخ
[145] علي محمد مخلص کندهاری ,شینواري. حالنامه. چاپ سال ١٣٨٨ وزارت اطلاعات وفرهنگ.کابل. (مصحح فضل الرحمان فاضل ) ص ١۴٩

پیــر کامــل بــه وده هســې تلقــین ورکــا
چې به خلاص شي د غفلتـو لـه امراضـه

د نــاقص عــالم پــه رســم غلــط مــه شــه
کــه امیــد کــړې د کامــل لــه فوایضــه

عــاقلان چــې بــې مرشــده قــدم نــه ږدي
پــه باربــار یــې احتیــاط شــي لــه ناقضــه

ای مېــرزا کــه ځــان د پیــر پــه امــر نېســت
کـــــــــــــــــــــــــــــړې
دغه نېست به ځان همه کاندي په وعظ[146]

سره له دې چې روښان دحالنامې له روا یاتو جوتیږي چې په دی برخه کې دیولړ ستونزو سره مخامخ دی اودا نیوکه پرې کیږي چې گویا دهغه پیر. څوک دي؟ وایي څوک چې شیخ نه لري دین نه لري یا څوک چې پیر نه لري دین نه لري. خو روښان دخپل ځان اوخپل مرتبت په اړوند وایي چې ماته الهام کیږي او له خدای راته دا الهام کیږي چې خلکو ته سمه لار ه، دپیغمبر لاره وښایم. خو په وروستو تعلیماتو کې دپیر اومرشد په اصالت باندې ټینگار کوي اودهغه مریدان ا وپیروان ځای ځای ددې یادونه کوي چې روښان لکه لمر داسې دی، خو میرزا خان انصاري له بل هر پیرو

[146] دمیرزا دیوان. خویشکي .پیښور پښتو اکیډیمي چاپ کال: صفحه ۱۰۵

زيات په دې مساله ټينګار کوي او هغه روښان هسې لمر بولي چې تياري رڼا کوي:

پـــاک روښان لکه چې دی هسې به تل وي
او ميرزا په ارواح ځوان په صورت زوړ شه[147]

په پورتني شعر کې د روښان پير ابديت ته اشاره ده. د نفي او اثبات په لړۍ کې کله چې کامل پير کامل او مطلق معرفت تر لاسه کړي او دخپل معشوق سره وصال و مومي که له يوې خوا ځان محوه کوي نو له بلې خوا ابديت او جاودانګۍ ته رسيږي.
يا دا چې وايي:

د دې هسې بې بها حاصل لـه پـاره
د کامـل د پښـو تلـی د طالـب سـره
شـــــــــــــــــه

ډيـر مـرده يـې لـه نفسـه حيـات
مـــــــــــــــــومي
د درويـش د صـحبت هسـې رنـګ
اثـــــــــــر شـــــــــــه

لکـــه عشـــق زمـــا رهبـــر شـــه
ســتا پـــه لــورې مـــې ســفر شــه[148]

---

[147] دميرزا ديوان. خويشکي .پيښور پښتو اکيډيمي چاپ کال: صفحه ( ۹۷)
[148] دميرزا ديوان. خويشکي .پيښور پښتو اکيډيمي چاپ کال: صفحه ( ۹۵)

په پورتني شعر کې مرده هغه کسان دي چې لا يې پير او روښاني لارې ته مراجعه نه ده کړې خو کله چې مراجعه وکړي او ددې لارې پيرو شي نو دمرګ نه خلاص شي اودمرګ نه يعني دتاريک فکرې نه خلاصون دابدي ژوند مانا لري .دوصال په دې لويه او ستره لار کې چې دموانعو اوخنډونو نه تيرېږي عشق رهبر دی.
عشق لارښود دی، دا عشق دی چې طالب وصال ته رسوي.
يا داچې:

زه دې تـــل ويـــنم زمـــا ســـاقي
دلســــــــــــــــــوزه
چې دشـپې رڼا دی زياتـه کـړه لـه
روزه

اوښ وری دخپـل همـت پـه قـدر
اخلــــــــــــــــــي
دخوراک قوت يې قيـاس بويـه لـه
څـــــــــــــــــوزه

لوی کامل ددوارو کونو پهلوان
دی
پـه مـدد دې قافلـه تـر ځايـه بـوزه

که صراط پر کم دلیلو تـوره شـپه
دی
دمرشـد دلیـل ډیـوه گڼـه افـروزه

عنایـت دلـوی بادشـاه رابانـدې
وشـــــــــــــــــــــــــه
دعــارف پــه خــاطر نـوی شـوې
نــــــــــــــــــــوروزه [149]

په پورتني غزل کې په خالص او سوچه توګه د پیر او مرشد عرفاني اصالت بیانوي. چې لوی کامل پیر ددواړو کونو پهلوان بولي. چې دهغه په مرسته او مدد او لارښوونه قافله تر منزله رسي. دکم دلیلو له پاره دمرشد لارښوونه اودلایل ډیوه اوڅراغ دی. دهغه له پاره بادشاه دهغه پیر او مرشد دی چې دپیر اوعارف په لارښوونه هغه دروني خبرتیا تر لاسه کوي اودهغه ژوند بدلیږي لکه کال چې په نوروز بدلیږي.

په څو خوښ په حیـوانیہ کښـې فراغـت
یـــــــــــــــــــــــــــې
خـدای دې واخلـه د پنجـاب نادانـه جتـه
دا پیـنځم اصـل دې هیـر پسـې وغـواړه
دا صــورت یــوه جامــه پــه څلــور پتــه

149 میرزا دیوان (۸۶)

روحاني محبوب که غواړې لرې مه ځه
پـه طلـب ددې ځلـور عنصـر لـه ګتـه

همېشــه تــر دا ځلــور ځــادر دلانــدې
يګانـه محبـوب لـه يـار سـره لـتې پټـه

د عارف چې د باطن سترګې بينا شوې
په هرڅه کښې تل محبوب وينې پرګته

د کثـرت بـازار يـې روغ کـه لونـه لونـه
کـل سـودا يـې د عـارف د زړه لـه هتـه )[150]

ميرزا خان دځينو مفاهيمو يادونه هم کوي. د مثال په توګه هغه دځلور عنصرو مفهوم ته اشاره کوي. ځلور عنصره په تصوفي افکارو کې له يوې خوا دهوا،اور،اوبه او،خاورې څخه هم عبارت دي چې په هندي فلسفه کې هم ريښې لري چې البته دهندي مادې فلسفي تفکر پورې اړه لري (چارواک ). په روښان باندې داخوند درويزه له خوا هم تور لګول شوی چې روښان اودس اوغسل ته اعتبار نه ورکاوه اوويل يې چې دا ځلور عنصره له مطهراتو څخه دي.

په دبستان مذاهب کې هم راغلي دي چې وايي: (( نظر دوم دربعضې ازاحوال حضرت ميا روشن بايزيد واو خودرا نبي دانستي ومردم را به رياضت فرمودي ونماز بگذاردي اما جهت

[150]دميرزا ديوان. ۵۴مخ

تعین را ازمیان برداشت. فاینما تولو فثم واحدالله فرمود .غسل با اب حاجت نیست چه همین که باد رسید تن پاک میشود چه چهار عنصر ازمطهرات است. ))[151]

دا شـــیرین آشـــنا زمـــا د ســـر دا ونړۍ
چـې پـر مـا بانـدې ډیـوه وه دده سـیوره

اوس بــه څــه د بېګــانو ســنتي کــړم
د خپل یار پـه مینـه مست ومـه هر ګـوره

زه مــدام د یــار پــه مینــه ښائســته وم
اوس نـیم ګـړی کښـیید ه یـم بې انځـوره

نــوراني چتــر زمــا لــه ســره پریــوت
په ویران ښهر کښې پاتې شوم سر تـوره

په اغلب گومان چې په پورتني شعر کې دمیرزا اشاره روښان ته ده. که له یوې خوا دمکتب اولارې له مخې دپیر اومرشد پر اصالت تاکید کوي نو له بلې خوا اپخپله روښان دسر داونړ(پوړنې ) بولي. یا دسر سیورې بولي خو دا سیورې دمیرزا په باور رڼا لري چې چې ډیوه یې پر هغه سیوري کوي. هغه دیار په مینه ځان مست بولي چې دهغه په نشت کې ځان نیم گړی احساسوي. هغه دونیا ویران ښار بولي داسې ویران چې دهغه له نوراني چتر نه بې برخې

[151] کاندید اکادیمیسن محمد صدیق روهي دروښان جهانبیني اوفکري نوښتونه ۰دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ۰کابل :۲۰۰۷ کال ۰ ۱۲مخ

دی.

## شپږم: وحدت او کثرت

د وحدت او کثرت مفکوره له اسلام څخه دمخه په فلسفي اوعرفاني افکارو کی موجوده وه. په پښتو ادب اوفرهنګ کې صوفیانه اوعارفانه فلسفي افکار هم له شرق اوهم له غربي تصوفي جریان څخه متاثر دي په دې مانا چې که له یوې خوا دهندې فلسفي افکارو اغیز دبودیزم او برهمنیزم له لارې دمخه موجود وو نو له لویدیځه پلوه هم ځینو افکارو چې په اسلامي مدنیت کې ورګډ شوي وو په پښتو ادب اوفرهنګ کې یې اغیز ښندلی دی. دوحدت اوکثرت مفکوره چې کله په تصوفي اوعرفاني اساساتو کې را سپړو نوا ړیو چې اسلامي تصوف او له هغه دمخه نویو افلاطوني افکارو ته پام وکړو:

البته دنویو افلاطونیانو دمکتب په اړوند هم داسې عقیده شته چې فلوطین دهندې افکارو څخه اغیزمن وو.

دځینو څیړونکو په باور سره دوحدت دمفکورې دپیدا ایښت یوه ډیره لرغوني سیمه هند هم دی. یا په بل عبارت د((پانته ییزم)) ټاټوبی دی. اوپانیشادونه چې په ((سِرّ اَکْبَر)) هم مشهور دي اودمحمد داراشکوه له خوا راټول اوترجمه شویدي. د((ودانتا)) دحکمت اساسي متون دي چې فلسفي افکار یعنې ((سانکارا)) او((رامانوجا))[152]عمدتا پر هغه ولاړ دي. په دغه افکارو کې

[152]سانکارا،رامانوجا،ودانتا: هغه هندي فلسفي مکتبونه چې دوحدت له مفکورې سره ډېر نږدیوالي لري.

دخدای اوجهان یو والی اووحدت ته قایل دي داوپانیشادونو اصلي اوازدادی:
(( یوازې یو متعالي وجود (برهمن ) دی چې هغه په بشپړه توګه دانساني مفهوم څخه (افلاطوني واحد په څیر ) اوچت دی یوازې دنفی یا سلب له لارې کیدای شي دهغه په اړوند خبرې وشي.
په ودایي افکارو کې لولو: (( هغه په خپله عین نړۍ ده. هر هغه څه دي چې وو. اووي به. ماندوکیا اوپانیشاد وایي: هر څه چې دي برهمن دی. ))[153]
دمیرزا خان په دیوان کې ددې مفکورې اوباور ډیر داسی مثالونه شته چې دوحدت اوکثرت یادونه اوتشریح کوي.
میرزا خان وایي:

په وحـــدت له هر وجوده روانېږم
زه هر دم له خپل وجوده روانېږم[154]

میرزا په پورتني شعر کې عین مفکوره بیانوي .یعني هر وجود په واقعیت کې یوه هستي ده. دخپل وجود سره چې یو جزء اویوه برخه ده خو دواحد وجود تمثیل کوي.
اوس بیرته خپلو خبرو ته ورګرځو. نوي افلاطوني مکتب په اسکندریه کې دافلاطون اونورو فلاسفه وو دزده کړو په اثر رامنځ ته شو. ددې مکتب بنسټ ایښودونکی ((امونیاس ساکاس )) وو چې اصلی دودوونکی یې له فلوطین (۲۰۴-۲۷۰کې ژوند

---

[153]کاکایي،قاسم .وحدت وجود به روایت ابن عربي_ومایستر اکهارت .انتشارات هرمس .تهران .کال ۱۳۸۵ مخ
[154]دمیرز ا خان دیوان .سمونه اوڅیړنه داکتر پرویز مهجور خویشکی .پښتو اکیډیمي .پیښور یونیورستي .مخ ۱۳۲

کاوه) څخه عبارت و.
دفلوطین شاګردانو فورفوریوس دخپل استاد درسونه په شپږو کتابونو کې چې هر اثر یې له نهو برخو څخه جوړ وو په نهه ګونو یا تساعیاتو مشهور وو، ترتیب کړل. ددغه اثارو یا تساعیاتو له لارې دفلوطین اودهغه پیروانو اوشاګردانو افکار وپه اسلامي اومسیحي فلسفه اوعرفان باندې څرګند ه اغیزه درلوده.
همدارنګه په مسیحي نړۍ کې دفلوطین افکار په خاص ډول د((پروکلوس)) او((دیانوزیوس)) له خوا مسیحي فلسفه کې ځای ونیو. ستر عارف لکه اګوستین هم دفلوطین له افکارو اغیزمن وو. اکهارت هم دفلوطین پروکلوس اوپه خاص ډول ددیانوزیوس اویا لږ تر لږه دنویو افلاطونیانو له نظریاتو څخه دیو ډول نظري عرفان دطرحې له پاره ګټه اخیستې ده.
دعرفان په فلسفي کولو کې دفلوطین اهمیت بیخې زیات دی دځینې پوهانو په باور چې وایي:
((د مسیحي عرفان له پاره ډیر مهم شی دیونان دستر عارف فلوطین افکار دي چې په هغو کې اتحاد (henosis) دذاتي وحدت اوتجلي په توګه دزده کړو اوتعلیماتو اصلي محور بلل شوی دی. فلوطین دعقلي وحدت نوي ارسطویي مفهوم دخالص او سوچه یا محض مفکورې اووجود ( nouse ) په عقایدو کې جذب کړ.))[155]
په هر حال مسیحي عارفانو دنو افلاطونیانو ژبه له ټولو تناقضاتو سره سره دمسیحي حقایقو دپیژندلو له پاره مناسبه

---

155 کاکایي،قاسم .وحدت وجود به روایت ابن عربي ومایستر اکهارت .انتشارات هرمس .تهران .کال ۱۳۸۵ مخ ۱۲۷

وګڼله او په ټینګار سره یې په نو افلاطوني ژبه ویل او لیکل وکړل.
داثو لوجیا اثر چې دفورفوریوس دفلوطین دتسوعاتو په ټولګه باندې شرح اوتفسیر دی په ۸۴۰ م یا ۲۲۲ ق کې په عربي ژبه وژباړل شو اوله هغه وروسته په غلطۍ سره دلومړي ښوونکي (ارسطو ) دالهیاتو نامه ته منسوب شو. دزیات شمیر اسلامي فلاسفه وو له خوا ترې ګټه واخیستل شوه . دابه مشکله وي چې په مطلقه توګه وواېو صوفیان دفلوطین له نظریاتو اغیزمن دي خو په نسبي توګه ویلی شو چې هغه تعابیر اواصطلاحات چې وروستیو عارفانو داسلامي فلاسفه وو څخه خپل کړي په یو ډول نه یو ډول دفلوطین له نظریاتو اغیزمن دي.
فلوطین پخپله یو عارف دی چې دعارفانو په باب وایي:
(( هغوی ټول شیان نه په صیرورت (کیدلو ) سره بلکې په کینونیت ( ول یا شتون ) کې ویني اوځان په بل کې مومي. هر موجود ټول معقول جهان په خپل بطن کې لري لذا هر څه پر ځای دي هر څه په هر څه کې اوهر شی په هر شي کې دی )).
په زړه پورې خبره داده چې ځینې غربي مفکرین په دې باور دي چې فلوطین دغه ډول تعبیرونه چې دهندي عرفان سره ورته والی لري اوپه خپل ذات کې یوه شرقي مفکوره ده، اغیزمن دی. ددې خبرې یو شرح نزول دا هم کیدای شي چې:
وایي هغه مهال چې فلوطین په اسکندریه کې وو. یو شمیر هندیان هم هلته ول. فلوطین له هند سره ډېره مینه درلوده اودعمر په وروستیو کې یې پریکړه کړې وه چې هند ته سفر وکړي سره له دې چې دا ثابته نه ده خو احتمال لري چې هغه هندي تاملات په

غربي ډول تنظيم کړي وي.

ميرزا هم ديو مهم فلسفي عرفاني مکتب ديو پيرو په توګه ددې افکارو څخه هم د اسلامي تعليماتو له لارې او هم د هندي فرهنګ له لارې متاثر او اغيزمن دی. يا په بل عبارت روښانې مکتب ته يې لا پسې زيات فلسفي عرفاني بنسټ جوړ کړی دی. ميرزا وايي:

له وحدته د کثرت په ننداره شه
محبت يې تر ميان راووړه ماجرا

د ناسوت په بازار غږ د چون چرا
عجب تن په تن يې خپله تماشه
ده[156]

وحدت وجود يو له مهمو فلسفي مسايلو څخه دی. دغه اصل هم فلسفي او هم عرفاني بنسټ لري. فرض کړی چې جهان او کاينات دجماداتو ،نباتاتو،حيواناتو،معادنو اومفارقاتو يعني غير مادي يا روحاني موجودات اوفلکيات ټول يو وجود دی چې په لوړه مرتبه کې يې يعني ډير پياوړی اوډېر اوچته سطحه کې دخدای وجود دی. اونور موجودات دمراتبو او قرب اوبيا لومړۍ مبدا ته چې دمتعال په لور دی ،له هغو سره توپير لري. ځيني يې شديد اوځيني يې کمزوري دي .وجود دوه خواوي لري چې يو لورته واجب الوجود اوبل خواته يې هيولی وايي:

[156] دميرز ١خان ديوان .سمونه اوڅېړنه داکتر پرويز مهجور خويشکی .پښتو اکيديمي .پېښور يونيورستي .مخ ٢۴

دنچرالستانو له نظره دوحدت وجود مساله په یو بل ډول بیان شویده. هغوی هم موجودات اوعالم یو له بله سره په تړاو اویووالي کې بولي. اودهغو ترکیب کوونکي اجزا ماده بولي. په دې ډول دهغو په باور یو دطبعیت جهان دی اوطبعیت اوماده اوشیان سره یو دي. خو خبره داده چې دالاهیونو اوطبعیونو وحدت وجود سره توپیر لري. عالم دخدای دمعتقدینو په نزد تر منځ هم هر یو خپله لاره لري ځینې دعلامیانو خدای دعالم نه بهر بولي. اوځینې یې دعالم دوجود یوه برخه بولي. په نهایت کې ډېر قوي اوډیر لوړ په مراتبو کې پیژندل کیږي. په لرغونو فلاسفه وو کې اکسینو فانس اوپارمینیا رواقیان اوفلوطین پیروان هم وحدت وجودي وول[157].

له عرفاني پلوه دوحدت مفهوم په فرهنګ اصطلاحات وتعبیرات عرفاني کې دا ډول توضیح شوی دی: یو والی، یو ګوني، واحد صفت دی. دعارفانو په باور دحقیقي وحدت نه مراد دحق وجود دی. ((وحدت وجود )) یعنې دا چې ((وجود )) حقیقي واحد دی. اودشیانو وجود دشیانو په رنګ کې دحق تجلي ده. همدارنګه کثرات اودامورو مرتبې اعتباري دي ·دتجدد هدف درحماني فیض داکوني (وجودي ) تعیناتو نمود لري. همدارنګه وحدت په کثرت کې په دې ډول تشریح کوي: (( وجودي وحدت یو فرع ده. عارفان وایي: عالم غیب اوشهادت یو وجود دی. چې دتجلیاتو دمراتبو پر بنسټ دکثراتو په ډول ظاهر شوی اوپه هر مظهر کې په خاص ظهور سره ظاهر شوې دی. هغه څو ک چې دشهود مرتبې ته

---

157دکتر سید جعفر سجادي .انجمن اسلامي فرهنګ وحکمت وفلسفه ایران .تهران. ۱۳۶۱مخ -۶۲۴
۲۵

نه وي رسيدلي تعدد حقيقي بولي. په داسې حال کې چې نمود ،غيريت اوکثرت يو وهم وخيال دی. ) )[158]

دهگل په فلسفه کې دنړۍ منشا روح يا ( مطلقه ايديا ) ده. دا روح ،عقل اوخرد دی٠ څرنگه چې ژوندی دی نو دحرکت اوتحول لرونکی دی يعنې له فکر نه جوړ دی . دهغه حرکت اوبدلون په ديالکتيکي ډول دی.په دغه ديالکتيکي بهير کې ټول عالم رامنځ ته شوی دی. دا روح هماغه مطلق ذات دی. هگل دمنطق دا ثر په سريزه کې ليکي: (( موږ کولای شو چې ددې کتاب مضمون دمطلقې ايديي مظهر وبولو ، لکه څنگه چې ابدي ذات دطبيعت له پيدا ايښت څخه تر مخه دی اولکه څنگه چې دطبعيت پيدا ايښت څخه تر مخه روح يو محدودروح يا د(انسان روح )دی. ) )[159]

-مطلقه عقل په ټولو واقعيتونو باندی احاطه لري. دهگل ايدياليستي فلسفه دهغه دپوهې اوعالمانه موجوديت شرح اوجوړښت دی .د هغه په باور سره مطلق دطبعيت له خلقت اودزمان اومکان څخه ترمخه موجود دی. په دې اساس دهغه حرکت اوتحول په اصل کې يو منطقي خصلت لري نه مکاني اوزماني. دهگل په فلسفه کې دعالم ټول شيان دحرکت په حال کې دي. هيڅ داسې ثابته هستي نشته چې ان دمطلقې هستي دطبيعت له هست کيدوڅخه تر مخه اودديالکتيکي حرکت اوتحول څخه ترمخه وي. يوازې دديالکتيک قوانين ثابت دي. اودجهان مدور اوابدي حرکت هماغه دمطلق حرکت دی.

په اسلامي متونو اونورو زياترو اثارو کې ابن عربې دوحدت

---

[158]دکتر سيد جعفر سجادي .انجمن اسلامي فرهنگ وحکمت وفلسفه ايران .تهران. ۱۳۶۱مخ ۷۸۳
[159] داکتر ابوالقاسم ذاکر زاده .فلسفه هگل.انتشارات الهام .سال ۱۳۸۸. ص ۲۸

الوجود دمفکورې وضع کوونکی اوطراح بولي خو دغه تعبیر دهغه په اثارو کې نه شته. ددې ګړنې غوراوی نه یوازې دهغه په اثارو کې نشته اویا نه بریښي بلکي تر زیاته حده دهغه دشاګردانو سلیقه اوعلاقمندي ددې سبب شوې چې دا ګړنه ورته نسبت شي. دویلیام چیتک په قول شیخ عربي ((دوحدت وجود ))تعبیر نه کاروي خو غالبا دځینو توضیحاتو اومثالونو دوړاندې کولو نه کار اخلي چې له دې سره ورته والي لري. له دې امله دهغه ځینې توضیحات ددې سبب شوې دي چې دوحدت وجود اودوجود پیژندنه تایید کړي. دوجود کلیمه په انګریزي ژبه کې د(existence or being ) په مانا ترجمه شوې ده اودا امر په فلسفه اواسلامي کلام کې توجیه کیږي خو لومړی مانا یې موندنه اویا موندل دي.عربي هم په دې مانا هیڅ سترګې نه پټوي .

په اسلامي متونو کې سره له دې چې وجود په بیلابیلو ماناوو کارول کیږي .فرضا که ووایو وجود واحد دی نو دوجود داصطلاح له پاره په یوه اساسي مانا قایل کیږو. ددې ګړنې بیلابیل ډول کارونه په دې پورې اړه لري چې په مختلفو ډولونو دواحد وجود په حقیقت دلالت کوي. وجود په متعالي اولوړه کچه کې له مطلق واقعیت. چې هغه نا محدوده مطلقه ایدیه (واجب الوجود ) چې بې له شکه وجود لري ،څخه عبارت دی.
دعربي په اثارو کې دوجود کلیمه په دوه ماناو کارول کیږي،یو داچې دخدای ذات یا ذات حق مشخص کوي، داسې حقیقت چې له هره پلوه حق دی. له بله پلوه په ټیټه مرتبه کې وجود بنیادي

جوهر یا ماسوی الله ځای لري. نو په دویمه مانا کې وجود لکه اختصاري علامه کارول کیږي چې ټول عالم ته اشاره ده یعنې هر څه چې شته او هم هر یو شی هستی، ته وجود وویل شي.
دحقیقي ذات دوجود مانا داده چې هغه دنه تعریف وړ بنیاد دی چې د پیژندنې وړنه دی ۰ هر څه دي او په ټولو ډولونو اوشکلونو چې د((کیدلو )) امکان ولري حاضر دی. په دې مانا کې دوجود کلیمه دنور یا رڼا سره مترادفه ده. دعربي په عقیده رڼا چې دخدای یو قرآني نوم دی مادي نور یو واقعیت دی یو واحد اودنه بدلیدو وړ واحد دی. خو ټول رنګونه شکلونه اوشیان دهغه په وسیله پیژندل کیږي. دالهی نور په نامه وجود په خاصو ځانګړنو سره له مادي نور سره اشتراک لري. په دې اعتراض چې نور د لیدلو وړ او لیدل کیدای شي .کولای شو داسې ځواب ورکړو چې فې نفسه رڼا نامریي ده اوپوازې هغه وخت چې دتورتم اوظلمت سره ګډیږي ، یو ځای کیږي نو درویت اولیدلو وړ کیږي.
دعربې په عقیده خالص اومحض نور به نړۍ له منځه یوسي همدا رنګه که دهوا اوجوی حالت له پردې پرته یا لمر ته وګورو څه که دا پرده اوواټن له منځه ولاړ شي نو سملاسي به موږ ړانده کړي.
په همدې ترتیب فې نفسه وجود نامریي دی. خو هیڅ شی دوجود له منځګړیتوب پرته نه شو لیدلي بلکې موږ یوازې وجود وینو چې په حجابونو سره چې هماغه مخلوقات دي تیت پرک اودلیدلو وړ شوي اوغیر وجود نه وینو.
خو کله چې دکثرت مسالي ته راځو په سیده توګه دوحدت یا توحید هغه سره تړاو لري. شیخ عربي وایي: هر شی دحق له ذاته

پرته بل څه نه دي. دچټک یا ورو بدلون په پړا وکې موقعیت لري. نو هر څه دحق له ذات پرته یو خیال دی چې بدلیږي اویا داسې سیوری دی چې له منځه ځي .ترا بده پورې له یوه صورته بل صورت باندې بدلیږي .خیال له دې پرته بل څه نه دي نو عالم یوازې په خیال کې ظاهر یږي.

له دې امله ویلي شو چې دځینو صوفیانو اوعارفانو په باور وجود په وحدت اوکثرت کې دوه ډوله کمال مومي . یو دواجب الوجود دذات په سپیڅلتیا اوله هر ډول الایش اوعیبونو پاک بیانیږي اوبل دواجب الوجود دنومونو په تشبیه کې بیانیږي. په همدې ډول کامل انسانان هم دوه ډوله کمال لري. یو دهغو ذاتي حقیقت چې واجب الوجود دصورت په عنوان اوبل دهغو عرضی صور (هستي یا مادي ) چې دهغو په وسیله په خاصو تاریخي شرایطو کې دمطلق شاته نومونه ځلوي اومنعکسوي.

لنډه دا چې وجود له اشیاوو نه بې اندازې متعالي دی اوهم په هغو کې دی. وجود په خپله پاکۍ کې دمطلق وحدت سره یو دی خو په مشابهت اوورته والي کې په نړۍ کې دکثرت په قالب کې درک اوپیژندل کیږي اوځان ظاهروي. غیب ( Nonphenomenal ) همیشه پاک پاتي کیږي خو دهغه رحمت په واسطه چې ټولې چارې دوجود استعداد لري ارتباط نیسي او دشهادت عالم ( Phenomenal ) رامنځ ته کوي. کامل انسان په صعودي قوس کې غیب ته رسیږي اوپه دې ډول خپل اصل ته داعیان ثابته په عنوان تحقق ورکوي. دخپلې ذاتي نیستۍ سره په تحقق کې داسې مقام ته رسیږي چې دخپل وجود کلیت بښي دا ځکه چې دهغو معدومه

یا پټ اعیان دخدای په صورت جوړ شوی چې هماغه دوجود صورت دی. (بې مقامي) په عین حال کې ټول مقامونه دي له هغه غیر دي چې دخپل ناپایه اولا یتناهي وحدت دانساني کمالاتو په کثرت کې ښی.
میرزا خان وایي:

د وحدت په یګانګۍ کښې شماره چرې
د کثرت په حساب تېر تر لک وکروړ
شـــــــــــــــــــــــــــــــه

د عـارف نظـر تـر دواړو کونـو وخـوت
د دوبـین نظـر کوتـاه ؤ ځکـه دوړ شـه

پـاک روښـان لکـه چې دی هسـې بـه تـل
وي
او مېرزا په ارواح ځوان پـه صـورت زوړ
شـــــــــــــــــــــــــــــــه[160]

په پورتني شعر کې میرزا په څرګند اوروښانه توګه داسلامي فلسفي اوعرفان مطابق دوحدت او کثرت مسالې ته اشاره اوتشریح کوي یې. دهغه فلسفي نظر دوحدت اوکثرت په اړوند هماغه داسلامي فلاسفه وو نظر دی.
اسلامي فلسفه، کلام اوعرفان په مجموع کې دوحدت اوکثرت

---

[160] دمیرز ا خان دیوان .سمونه اوڅېړنه داکتر پرویز مهجور خویشکی .پښتو اکیډیمي .پېښور یونیورستي .مخ ۱۲۳-

په باب داسې باور دی چې وايي:
عالم غيب اوشهادت واحد وجود دی چې دمرتبو پراساس يې دکثراتو په ډول تجليات کړي دي اوپه هر مظهر کې په خاص ظهور سره را څرګنديږي .باالجمله واحد وجود دی اوهمدارنګه موجودات اونمودات په کثراتو سره دي چې ټول دحقيقي اواحد حقيقت تجلياتو ظاهري امر دی.[161]

ميرزا په دی شعر کې دنَحْنُ اَقْرَبْ ايت په ښه توګه تشريح کوي.

حقيقت ته په هيڅ رنګ رسيدی شي
کم دليل په عقل کم دی له لګ لګه

ای ميرزا محيط له هيچا لرې نه دی
وهر چاوته نيږدې دی له ښهرګه[162]

دميرزا محيط هماغه وجود دی چې ټول ظواهر اوپنومينال (ښکارنده ) په کې ځای لري اودهغه دمتعالي وجود تجلي اوانعکاس دی.

دا خود رايي فلک د چا په رضانه
دی
لږ په مراد رځنو ورشي کله کله

آفرين د درويشانو په دليل شه

[161] دميرز ا خان ديوان .سمونه اوڅيړنه داکتر پرويز مهجور خويشکی .پښتو اکيډيمي .پيښور يونيورستي .مخ ۱۲۴
[162] دميرز ا خان ديوان .سمونه اوڅيړنه داکتر پرويز مهجور خويشکی .پښتو اکيډيمي .پيښور يونيورستي .مخ ۱۲۳

چـــې دنیـــا یـــې دروغجنـــه وبللـــه

حقیقـت بـه و دانـا وتـه څرګنـد شـي
چـې پـه زره یـې د حـق مینـه وکرلـه

هغه کس چې لـه کامـل چراغ روښـان
کـــــــــــــــــــــــــــــه
د روښـــان روښـــنايي ورغلـه تردلـه

ای مېـرزا پخپـل مقدار خبرې وايـه
ښـه وښـا د شـپې ډيـوه د روځـې تلـه[163]

میرزا په پورتني شعر کې ددروغجني دونیا، په زړه کې دحق مینه، له کامل ځراغ روښانول اودروښان روښنايي تردله ورتلل بولي. دمیرزا دعرفاني قلمرو روښنايي ده. دونیا درویشان فاني بولي جهان اوکاینات حقیقي نه بولي بلکي اصلي حقیقت هغه دانای کل دی چی مبدا اوهستوونکی دی. .دروښان روښنايي څخه مطلب دروښانیت دلاري څرګندیدل اوپه دې لار باندې باور اواعتقاد ددې سبب کیږي چې انسان نیروانا ته ورسیږي.

دا حباب چې د دریاب په مخ کښې مات
شـــــــــــــــــــــــــــــه
رنګ او نوم يې لـه دريابـه سره سم کـړم

[163] دمیرز ١خان دیوان .سمونه اوڅېړنه داکتر پرویز مهجور خویشکی .پښتو اکیدیمي .پېښور یونیورستي .مخ١٢۴

عام و خاص په هسې حال را خبر نه دي
چې په کومه لخته کښل په کوم قلم کړم

په نیستۍ کښې له هستېيه تعجب دی
چې دا څاځکی له محیطه سره ضم کړم

د کثرت په عدد دونو قطرات دي
چې فاني خوي يې فاني شي نوم يې يم
کـــــــــــــــــــــــــــــــــــړم

د ګمان له بېګا نګېيه به فارغ شي
هر مخلص چې په دا هسې حال محرم
کـــــــــــــــــــــــــــــــــــړم

په یکتا نظر به واړه عالم وینې
کل اشیا به ورته جام لکه د جم کړم[164]

ګورو چې دميرزا فلسفي عرفاني پوهه له هغه څه ډېره ژوره ده چې موږ يې تصور کولي شو .له يوې خوا هغه په خپل کلام کې د رمز اوسمبول ژبه کارولي ده چې يو ډول تاءويل ته اړه لري اوله بلې خوا يې دوحدت اوکثرت اسلامي عرفاني مفکوره چې په نورو نړيوالو مدنيتونو اوفلسفي ښوونځيو کې ورته اشاره شويد ه

164دميرز ۱خان ديوان .سمونه اوڅېړنه داکتر پرويز مهجور خويشکی .پښتو اکيديمي .پېښور يونيورستي .مخ۱۳۰

اويا یې توضیح شویده ،په خپلو قصایدو اوغزلیاتو کې څرګنده کړې ده. دلته باید دا مغالطه ونه شي چې ګواکې موږ دمیرزا خان په افکارو کې هندي اوبودایي افکار ګورو. نه .هدف دادی چې هغه په ډېره ځوانۍ کې هند ته تللی دی. اوهغه څه چې نوموړي په اسلامي تعلیماتو کې تر لاسه کړي دژوند دچاپیریال په فرهنګ کې یې هم لیدلي دي. یو مثال یې نیروانا دی چې په خپل شعر کې یې یادونه کوي. یا پانته ییزم ته ورته اندونه.

اووم: نفي او اثبات

میرزا خان په خپل کلام کې لکه دنورو سترو عارفانو اوصوفیانو په څېر دمهمو اوډېرو ژورو فلسفي مفاهیمو په تشریح کولو سره خپله مفکوره اوباورونه روښانه کوي.یو له هغو مهمو اوعمده مفاهیمو چې هم په معاصره فلسفه اوهم په علم کلام اوعرفان کې پرې خبري کیږي دنفي ،اثبات اونشتون (عدم ) مفاهیم دي٠

په معاصره فلسفه کې دهست اونیست یا دشتون اونه شتون نفي او اثبات مفاهیم جلا مانا لري خو په عرفان پوهنه کې دا مفاهیم دعارف روحاني سفر اودهغه دطریقت لارې ته ځانګړي شوي دي٠

جوته ده چې دمعرفت اوپیژندنې له پاره دهګل متود دیالکتیکي هغه دی چې دهګل دفلسفې اساسي اصل ګڼل کیږي . ددیالکتیک متود په کشف ولاړ دی چې په کلي توګه دفصل نفي کوونکی نه دی .دهګل په باور کیدای شي هرتصور خپل ضد په خپل ځان کې خوندي کړي وي اوکیدای شي دا ضد له تصور نه بهر استنتاج کړو اوله هغه نه دفصل یا حقیقت په توګه ګټه واخلو

داچې وايي هستي نيستي ده يا هستي اونيستي دواړه يو دي مانايې پوچه اوبې مفهومه نه ده. لکه دمثال په توګه دا کتاب چې په مخ کې پروت دی دخپل نشتون اونيستۍ سره توپير نه لري يا وربې ته دخوراک شتون اونه شتون يو شی دی. دهستۍ مقوله يو مجرد تصور دی حال داچې دغه کتاب يا خواړه هغه ذات نه دی چې په هستۍ برسيره خاصې ټاکلې ځانګړنې ولري.

دهګل په نظر هستي اونيستي يو شی دي يودبل په بطن کې حرکت کوي .هستۍ دنيستۍ په منځ کې ځای لري اوپر عکس نيستي دهستۍ په بطن کې.دا ځکه چې دنيستۍ مفکوره دېوې تشې اوخلا له مفکوري عبارت ده اودا خلا هماغه محض يا سوچه هستي ده .خو په يوه مقوله کې ديوې بلې هغه انحلا يا منحل کيدل دريمه ايديه يا مفکوره را منځ ته کوي چې دې مفکورې ته ((کيدل)) وايي.

پارمنيد لاډير پخوا ويلي وو چې دا مفکوره دوه بڼې لري يعنې له نيستۍ نه هستۍ ته تيريدنګ اودهستی نه نيستۍ ته تيريدنګ دی. لومړی بڼه يې پيدا ښت اوهست کيدل دي اودويم شکل يې پای ته رسيدل اودربدل دي يا له منځه تلل دي نو موږ له درې مقولو سره مخامخ يو .لومړی هستي چې بيا ترې نيستي زيږي اوددې مانا ددواړو تر منځ اړيکو څخه دکيدلو نتيجه ترلاسه کيږي. دادهګل درې لومړنۍ اواساسي مقولي دي.

هګل په دې باور دی چې هستي خپل ځان نفي کوي يا خپل نفي کوونکی په خپل بطن کې لري يا له نيستۍ سره ګډ دي اوکله چې

دنیستئ او هستئ مفکوره گډوونو بیا ((کیدل)) زیږي.
خو په عرفاني ادبیاتو اویا عرفاني پوهنه کې چې دنفي، اثبات اونیستئ یا عدم مفاهیم مطرح دي ·دروح دتعالي پړاوونه توضیح کوي . سره له دې چې هگل روح ته ډیر ارزښت ورکوي اودروح په وسیله انسان دهر څه ورډ بولي . وایي :(( پر هره اندازه چې هغه په خپل تفکر کې پورته ولاړ شي ،هیڅکله نه شي کولای دخپل روح پر عظمت پوه شي · دهغه دایمان په وړاندې هیڅ شې داسې مخالفت نه شي کولای چې خپل مخ ترې پټ کړي · دهستیو ذات چې په ابتدا ء کې پټ اوپوښلی وو ،داسې ځوک نه وو چې دهغه ددرک اوپیژندنې زړه (جراءت )ولري اودپټو رازونو اوخزانو دروازې دې زړورتوب ته پرانیزي ·))[165]
عرفاني مفاهیم هم هر یو په خپل ځای کې خاص بهیر اوحالت توجیه کوي چې دروح دهڅو اوتلاش سره اړه لري.موږ دمیرزا په دیوان کې دنفي او اثبات یادونه زیاته وینو چې دا هماغه دهستئ اونیستئ یادونه هم ده · په واقعیت کې دا فلسفي –عرفاني یادونه ده، همدا ډول ځای ځای نیستي یا نشتون (عدم ) ته هم اشاره کوي ·
میرزا خان وایي:

تزکیه چې یې حاصله د صورت شي
ترو دې غبرې اندیښنې له زړه للون کا

دا مجاز به یې بدل په حقیقت شي

[165] و،ت · ستیس ·فلسفه هگل ·ج اول ·مقدمه یا پشگفتار مترجم (حمید عنایت )چاپ : سپهر ،تهران سال ۱۳۸۰ ص چهارده.

چې دا یم یو ازې یو باندې زرغون کا

مرکب دې د نفي اثبات کا ذکر
د مادم دې نو شانوش دغه معجون کا

په نفي ، نفي نفي اثبات اثبات شي
مسیحا په مرده هسې رنګ افسوس کا

له هغو جاهلو څه وایم عالمه
چې د نن چاره به ګانده په پرون کا

تصفیه به یې د زړه شینه حاصله
چې چراغ پرې باندې بل د خپل ژوندون
کا

د عارف نظر له قافه دی تر قافه
په محیط دریاب به ګډ دغه جېجون کا

عجب زېب د معرفت د زړه په سترګو
چې بې مثله ننداره د دې بېچون کا

زور ور له شش جهته منزه دی

د بېچون تعریف به څه رنګه چګون کا

د لیلی د سادګۍ نهایت نشته
د ښائست صفت به یې څه رنګه مجنون کا

سامعان یې د رموز په معنی پوه شو
چې اشیا د حق ثنا په خپل قانون کا

کم د لیل عالم یې نه اروي له لرې
د خپل راز خبرې وا ره په مقرون کا

تر دغې ښادۍ به زیاته ښادي څه وي
چې قریب یې اراده د پېوستون کا
د صورت خودي دې لرې کا یکباره
په معنی ته له معنی سره ګډون کا

تجلی به د وحدت وربانده شي
چې له هستي بنده خلاص دغه مرهون کا

دا یقین به یې د بوال د عمارت شي
په اخلاص به یې بلند لکه ستون کا


www.samsoor.com

د جهـان راحـت بـه واړه پـرې تمـام شـي
چې قـرار پـه قـرارۍ بانـدې سـكون كـا

كـه نـور نـور عـالم هـوس كالونـه لونـه
مسكينان به په دا خپل صفت ممنون كـا

ښـه صـورت د عبـادت دپـاره روغ دی
او دا روح دې تـل رضـا كـن فيكـون كـا

دا مېـرزا پخپـل مقـدار خبـرې وايـي
په كـالي كښې چې څه وي ځنې رېژون
كـــــــــــــــــــا

چې اميـد پـه دروغژنـه مكـاره كـا
پـه دا هېـڅ هنر بـه هر څوک انګـاره كـا

د نـــادانو نـــاداني تـــر فهم وعقـــل
چې پـه سـخت اهـاړ واورو منـاره كـا
ودانـي يـې مشـقت پـرې زهيريـږي
وېرانـي يـې نـوی غـم پـرې دوبـاره كـا

هـر سـړی چې لـه دنيـا وفـا يې غـواړي

بې عقلي به يې د هر غمونه اجاره کا

سعد و نحس په کرده پورې تړلي
کم دليل د چار قياس په ستاره کا

زه عجب يم د غه هسې رنګ عالم ته
چې اميدې د حباب په نواره کا

يو ورځ به درياب موج وهي پربله
په تعجيل به د حباب جامه پاره کا

سالکان چې دا رواني او به ګوري
په دا تله کښې د خپل عمر ننداره کا

مسافر به له خوارۀ خوبه بېدار شي
چې سحر جرس د تلو په وخت ناره کا

دا نايان د خپل مطلب په طلب کوږي
حيوانان زېرمه د نماستې د چاره کا

ذاکران چې د غفلت له خوبه وينښ شو
دوي د نفس و چلېده ته نظاره کا
د فقير خوښي له سازه له کتابه

امــرا بــه يــې پــه تــوغ پــه نغــاره کــا

هغــه ملــک بــه لــه خللــه نــه خلاصــيږي
چــې لښــکر يــې لوامــه او امــاره کــا

کــه آشــنا د نــا آشــنا خبــرې نغــوږي
اشــنايان بــه خپلــې چــارې آواره کــا

چــې فرمــان د زورور وربانــدې وشــي
د ميــرزا قــوت لــه کومــه څــه چــاره کــا[166]

په پورتني قصيده کې دا بهير په صراحت سره څرګند دی چې عارف اوسالک څرنګه دخپل تن دنفي پړاو په وهلو ځان هستۍ يا لوی هستي يا اثبات ته رسوي. دا بهير دې ته ورته بولي لکه دمسيحا افسون چې معجزه کوي. هغه څوک چې دخپل وجود څراغ بلوي اوځان سيځلو ته ورکوي هغه دزړه تصفيه حاصلولي شي.
ميرزا په دې بيت کې چې وايي: (( په نفي،نفی نفی اثبات اثبات شي. ))يوه فلسفي لړۍ تشريح کوي چې هم يې په عرفاني اصولو اوهم په معاصرو فلسفي پوهنو کې پرې بحث کيږي. لومړۍ نفي هغه نفی ده چې په بنده اومخلوق اطلاق کيږي اوددې نفی نفی کول اومحوه کول دعالم کل يا ذات کل يا ايده مطلق سره په

[166] داکتر پرويز مهجور خويشکی سمونه اوڅيړنه .ميرزا خان انصاري ديوان ،چاپ: پښتو اکيډيمي ،پيښور ۲۰۰۴۰ مخ ۴۰

واقعیت کې دعارف اوصوفي هغه څه کې ځان ثابتوي اوخپل ثبات اوموجودیت په لوی ذات کل کې ابدي کوي.
دمیرزا په باور سره هغه کسان چې خودي اوځان غوښتنې لري اودخپل ژوند په فکر کې وي. دهغه دزړه تصفیه نه حاصلیږي. دقاف نه تر قاف پورې دهغه مطلب دکثرت نه دوحدت اوقادر لایزال په لوریون دی.
خو دعارفانو په باوربیا ,, نشتون,, یا عدم یا ,,مطلقه نیستي,, په واجب الوجود اودهغه په صفاتو کې موجوده ده ۰ کله هم دخدای لطف اوله هغه سره ناپایه مینه ده ۰ کله هم خپل حالت تصحیح کوي اودخپل رحمت اودالهي قدرت له نشتون څخه تر مخه یا وروسته خپل نشتون ځایوي ۰ کله نا کله ,,نشتون,, دواجب الوجود سره په تقابل اودهغه په وړاندې توجیه کیږي اوکله هم نشتون دمطلقه ذات سره یو بولي ۰
دعارفانو په نظر نشتون (عدم ) دټولو موجوداتو سر پیل دی ۰که نفساني اوروحاني حالات دي لکه دشهوت ،عشق ،مینه اونور اویا دهغو شیانو عوارض دي چې دبها ء ولد په قول رنګونه ،اجرام اوځمکې څخه عبارت دي ۰ دبها ء ولد په عقیده نشتون دټولو موجوداتو منشا اوسر چینه ګڼل کیږي ۰سره له دې چې دغه موجودات په هیڅ شان یو ډول نه دي خو هغو ته دظهور اوڅرګندیدنې مجال ورکولي کیږي ۰ سربیره پر دې هغه څه چې شتو یا هستۍ ته دعالم اوکایناتو دنشتون یا عدم یو پراخ ډګر پرانیزي هغه مطلق ذات دی چې له نشتون څخه اخوا دی اونشتون دهغه له موجودیت اویا شتون څخه را ټیټ اوپه لاندې

سطحه کې واقع دی . ،،نشتون،، یا عدم داسې یو ډگر دی چې مطلق په موجوداتو اوهستۍ کې که نفساني اوروحاني دي اویا فزیکي اومادي وي په دخالت سره را منځ ته کوي ۰ دا مساله له نیستۍ نه دهستۍ د پیدا ښت سره هم مطابقت پیدا کوي ۰
دمسالي د لا ښې روښانتیا له پاره به بده نه وي چې دبها ء ولد له قطعاتو یوه برخه را نقل کړو چې دنشتون مفهوم ښه ترا توضیح کوي:
((چون از پوست کالبد بیرون امدم، هر صورتې که مرا مي شد خودرا از بیرون می کشیدم ودرعالم الله وبیچوني میرفتم ودرصفات الله می رفتم خودرا بر افراشته که از همه رنجها رستم ۰ ناگاه الله را دیدم از پس عدم ایستاده وعدم را حاوي همه چیز ها گردانیده وچیز ها از عدم بیرون می اورد ومن میدیدم ۰ حاصل باز به صفات الله باز رفتم وبه اثار سبزه واب روان وشاهدان حور ۰گفتم تا این همه خوشیهای خوشی را به یکدیگر اندرگشایم وهر چه صورت است می شکنم ومی اندازم ومزهء معانی بي کیفیت می گیرم ،چنانکه حقیقت روح است ویا چنانکه الله است که هیچ چگونگي ندارد ۰ اکنون الله این عدم نا متناهي را معشوقه گردانیده است وصد هزار جمال وشهوت وعشق ومحبت ورای وتدبیر واختیارات وعاشق گشتن وعاشق نواختن وقوتهای گوناگون وانواع حیات وگریز یها وحیله ها وکنار ها وهوسها ومجالس خوش ،این همه را الله بر چهره ء عدم کشیده است ۰ کسی باید که درعدم می نگرد ودرعشق اوقطرات بر رخساره می بارد واین چنین عدم حاوي، گرد اجزای من است از شش جهت

،اخرین این اجزای من چگونه بې مونس وتنها باشد ؟ (بها ولد
:۱۲۸،۱۹۳۵۲ ) [167]

گورو چې دبهاء ولد په قطعاتو کې دنشتون،هستۍ اونیستۍ مساله په څه ډول اوپه کومه اړیکه مطرح کیږي هغه هر څه کاغذونه ،کتابونه ، اوهر څه چې دهغه زړه ته ورځي د نشتون له سمندر څخه را زیږیدلي اوراټوکیدلي بولي چې را پورته کیږي ․ دهغه په نظر پاملرنه ټولو پدیدو اوله نشتون څخه زیږون ته ده ․ هغه په یوه ځای کې وایي هر څه چې مې زړه ته راتلل له هغې وړاندې مې ستایل. سره له دې چې دالله رحمت اوقدرت یاد ته راتللو خو ټول مې دنشتون له سمندر نه لیدل چې تلل او الله مې له هغو نه وړاندې ستایلو ․

میرزا هم دې ته ورته مساله طرح کوي:

لـــه دې خپلــه حالــه څــه وایــم وچاتــه
چـــې د زړه مینـــه لـــه چـــا ده پرچـــا زیاتـــه

دا زمـــا محبـــت واړه پخپـــل یـــار شـــه
اوس د یـــار محبـــت وجـــاروت وماتـــه
لـه دې خپلې رضـا هسـې رنـګ فـاني شـوم
چـــې نفـــي معنـــی مـــې راوړه تـــر اثباتـــه

کـــل ذرې مـــې ونظرتـــه آهینـــې شـــوې
پـــه هرڅـــه کښـــې یـــو آشـــنا وینـــم مـــخ راتـــه

---

[167] امید همداني · عرفان وتفکر ·چاپ : تهران ·نشر نگاه معاصر ·سال ۱۳۸۶ ·ص

مهتــر خضــر ومــا هســـې اوبــه راکــړې
د ســـکندر ملکونـــه ویـــنم بـــې مـــر آتـــه

چـــې ګمـــان د کـــوه طـــور پـــه لمبـــه وســـه
وآرنـــی نـــاره یـــې اروم و موســـی تـــه

پـــه هســـتی کښـــې د نېســـتیه معنـــې ویـــنم
یـــو بـــاقي مـــخ یـــې څرګنـــد کـــه و فنـــا تـــه

دا بـــې مثلـــه زړه مـــې جـــام لکـــه د جـــم شـــه
پکښـــې ویـــنم اووه زمکـــې ســـما واتـــه

د ګمـــان دو بېـــي مـــې لـــرې کـــړه لـــه میانـــه
لـــــه فـــــاني منزلـــــه راغلـــــم وبقاتـــــه

کـــل صـــفات مـــې د صـــفات پـــه خـــوی کښـــې
پربښـــــــــــــــــــــــــــــــــــــو
او د ذات اصـــــل مـــــې ورغـــــی ترذاتـــــه[168]

میرزا په دې وینا کې دعارف روحاني سیر وسفر ته اشاره کوي
چې کله دهغه نفساني تزکیه اوپاکي حاصله شي، نو هر څه چې

168 میرزا دیوان ۴۹ مخ.

غیر دي هغه به له زړه نه باسي. همدارنګه سالک یو ډول فکري تمرکز ته رابولي. چې نور هر څه دنیوي چاري له زړه باسي او یوازې دیو ذات مطلق په ذکر اویادونې متمرکز کیږي. دهغه مجاز هغه مهال په حقیقت بدلیدای شي چې تل اوهمیشه په مطلقه ذات یا احد باندې وپاییږي اوپه هغه فکر وکا. هغه وایي چې سالک باید همیشه دنفی له مخې دا ثبات ذکر وکړي او تل دې همدغه دسکر اوبیهوشی حالت ولري. دا داسې حالت دې چې په لوړه سطحه معرفت په کې ترلاسه کیږي.

تزکیـه چـې یـې حاصـله د صـورت شـي
تـرو دې غـېـرې اندیښـنـې لـه زړه للـون کـا

دا مجـاز بـه یـې بـدل پـه حقیقـت شـي
چـې دا یـم یـوازې یـو بانـدې زرغـون کـا

مرکـــب دې د نفـــي اثبـــات کـــا ذکـــر
د مـادم دې نـو شـانوش دغـه معجـون کـا

عارف موحد په دغه روحاني سفر اوسیر کې دنفې،نفی اواثبات اثبات یادونه کوي. هره لحظه اوهره شیبه همدا فکر اواندیښنه په خپل تن اوروان کې پالي.
قادر متعال دټولو چارو قدرت اووس لري اودټول عالم اختیار دهغه سره دی دخدای صفت بیانوي. هغه په وحدت کې یګانه اوپه کثرت کې بې شمیره دی. دهغه په وس کې ده چې دیوه دریاب له

نوه هم گل ته کوي او هم خار.

په خلوت کې یک نما دی
هم په شهر هم په بازار کې.

هغه په کعبه کې مسلمان او په کنشت کې کفار، په هر څه او هر چا کې خپل کردار ځلوي.

ق قادر په خپله چار دی
په هر څه کې یې اختیار دی

د میرزا په دیوان، په تیره په پورته قصیده کې څو ځایه د بېچون او چگون مفاهیم کارول شوي دي. د بې چون مانا په عرفاني ادبیاتو کې د هماغه بېکیفیتۍ او عدم مانا ورکوي. چې د ,,عدم مطلق,, مفهوم بیا هم واجب الوجود ته راجع کیږي. د چگون مفهوم د کیفیت په مانا کارول کیږي. په دیالکتیکي لحاظ دا بېچون له عدم سره یو ډول اوورته مفهوم دی. مرادفه مانا یې بیا هم هماغه مطلقه وجود دی او صورت یې د مطلقه تعیناتو څخه عبارت دی. صورت په پارادوکسي یا متناقض ډول په خپل وجود کې له ځانه سره څرگنده او هم پټه مانا لري او دا نسبت د صورت د مانا هماغه قرب او بعد دی.

د نفي او اثبات موضوع له هغه مسایلو څخه ده چې په عرفان او فلسفه کې زیاته کارول کیږي. میرزا خان انصاري هم ځای ځای گړنې پخپلو غزلیاتو او قصایدو کې یادې کړې دي.

نفي د اثبات مقابل او په فلسفه کې د سلب معادل مفهوم دی، د ایجاب له مفهوم سره په تقابل کې ده. د عارفانو په نظر د نفي

مفهوم دبشریت نفي ده چې دحقیقت دسلطان داثبات اراده یې کړې ده .دا ځکه چې محو یا فنا کلي عدم اوزوال اویا دکل نفي وه. عارفان عقیده لري چې له نفي څخه هدف دبنده داختیار نفي ده چې دحق ثبوت اختیاروي.

په فرهنګ علوم عقلي کې اثبات دنفي اوسلب مقابل لورې بولي وایي چې ځیني کسان فکر کوي چې نفي اواثبات یو شی اویو مفهوم دی په داسې حال کې چې دا خبره سمه نه ده بلکې اثبات دنفی مقابل اوضد دی. ((دابن عربي په باور دنفي نفي مانا دانسان له پاره دوجود لومړیتوب دی. په دې اساس په نفي باندې پوهیدا دلومړیتوب سره اړیکه پیدا کوي. اوپه دې پوهیږو چې دنفي اولیت په موږ کې معلوم دی. یعنې شیان له خپل وجود نه وروسته په موږ کې له لاسه ځي اونابود کیږي. روښانه مثال یې له یو حالت نه بل حالت، له یو ځای نه بل ځای ته اوله یو فکر نه بل فکر ته انتقال دی. اوهر څوک چې فکر وکړي نو دنفي په حقیقت اواولیه حقیقت باندې پوهیږي.)) [169]

میرزا هم په دې قصیده کې وایي:

له دې خپلې رضا هسې رنګ فاني شوم
چې نفي مانـــــا مي راوړه تر اثباته

په څرګنده توګه دواړه مفاهیم لکه څنګه چې په فرهنګ کې توضیح شوي دنفي مانا دانسان یا بشریت صفت دی. میرزا وایي: چې په خپل رواني اونفسې سیر کې داثبات مانا پیدا کوي یا

---

169 دکتر ګل بابا سعیدي ،فرهنګ جامع اصطلاحات عرفاني ابن عربي ،تهران ,زوار .۱۳۸۷ص ۱۰۲۲

دحق اثبات تر سره کيږي.
دعارف نفي ساده نفي اوسلب نه دی بلکې په لويه هستۍ اوستر حقيقت کې دهغه محوه کيدل دي. کله چې معرفت کامل شي نو دهغه معرفت ددې سبب کيږي چې سترگې يې بينا شي. په پنځه گونو حواسو دسکندر جام جم په څير ټول ملکونه ويني اوهم په کوه طور باندې موسی ته دارني ناره واوري. نوموړی په همدې سير وسفر کې دهستۍ اونيستۍ مساله هم مطرح کوي. په هستی کې دنيستۍ مانا ويني چې يو باقي مخ فنا ته ځرگندوي. دا هماغه عارف دی چې دمعرفت په پوړيو خيژي چي اوه ځمکې اواوه اسمانونه ويني.
ددې کار يا ددې بهير يو اساسې منزل دگومان اوشک ليري کول دي. دوه گوني له ذهنه ويستل دي. نو له فنا څخه بقا ته را ليږدي. دلته بقا هماغه دهستۍ اونيستۍ درک دی چې کله ځان نيست بولي نو په لويه هستۍ، کې دوصال په موجب خپل ابديت گوري. دشعر په وروستي بيت کې شاعر وايي چې ټول صفات ترک کوي، انساني اوبشري صفات اوځان محوه کوي. دغه امحا په لوی ذات کې دوصال اودذات اصل لوی ذات ته ورځي.
دا لاندې شعر پورتني توضيح لا پسې روښانه کوي:

ته فاني خپله هستي کړه
صفات ورک گنه بې ذاته

يو وحدت دی تجلي کا

کــه را ووځــي لــه قناتــه.[170]

سره له دې چې ددې اثر په يوه بله برخه کې د پښتون تصوف اوعرفان ځانګړنو ته اشاره شويده . خو دلته د بوي مسالي يادول اړين بريښي اوهغه دا چې تصوف لکه څنګه چې رنګ پوست ، ژبه او نور قومي ځانګړني نه پيژني ټول تمرکز او دقت يې يوازې په انسان اودخداى سره دهغه په اړيکه کې دي خو ميرزا خان انصاري هغه تنبل اوفارغ کس ته هم دحيوان اوهم د پنجاب دجټ خطاب کوي اودشاعر هدف ترې په وضاحت سره دهغه کس له بى معرفتۍ نه دى . هغه انسان اويا مخاطب خپل ځان ته په پاملرنه رابولي اوهغه ته د څلورو اصلو يادونه کوي ٠
په يوه مخکيني بحث کې مو هم دې ته اشاره وکړه چې نړۍ له څلورو عناصرو جوړه ده چې دارکان اربعه په نوم يادېږي ٠ دا رکان اربعه له خاورې،اوبو ، اور اوهوا څخه عبارت دي ٠ ځيني صوفيان په دې باور دي چې دهغو لطايفو نه چې مادي اومعنوي يا ظاهري اوباطني وجود څخه انسان جوړيږي لس لطيفي دي چې له هغو څخه پنځه دخلق عالم دي يعني څلور يې څلور ګوني عناصر اوپنځم يې نفس دى اوپنځه نور يې له زړه ،روح ،سر اوخفي او اخفي دي ٠
په فرهنګ جامع اصطلاحات عرفاني شيخ اکبر کې هم په تفصيل سره ورته اشاره شوى ده ٠ په فرهنګ کې اربعه عناصر داصل اوبيخ په مانا کاروي ٠ خو په اصطلاح کې يې داسي تشريح کوي ٠

170 دميرزا ديوان ۵۰مخ

چې اور دنفس اماره څخه عبارت دی ۰ باد یا هوا دلوامه نفس څخه عبارت دی ۰ اوبه دملهمه نفس اوخاوره دمطمینه نفس نماینده ګي کوي اودهر یو له پاره لس ځانګړني تاکل شوي دي ۰
میرزا خان هم روحاني محبوب ته رسیدنګ دهمدې څلورو عنصرو په وسیله کیدونی بولي اوپه دې تایید کوي چې دهمدې څلورو عنصرو تر څادر لاندې یګانه محبوب له عاشق سره وصال مومي او له هغه سره یو ځای کیږي. مطلب دا چې دا یوائینی محبوب دانسان په تن اوروان کې دی، نه لیري.

په څو خوښ په حیوانۍ کښې فراغت

یـــــــــــــــــــــې

خدای دې واخله د پنجاب نادانه جټه

دا پیـنځم اصل دې هیـر پسـې وغـواړه
دا صـورت یـوه جامـه پـه څلـور پټـه

روحاني محبوب که غواړې لرې مه ځه
پـه طلـب ددې څلـور عنصـر لـه ګټـه

همېشـه تـر دا څلـور څـادر دلانـدې
یګانـه محبـوب لـه یـار سـره لـټ پټـه

د عارف چې د باطن سترګې بینا شوې

په هرڅه کښې تل محبوب وينې پرګټه

د کثـرت بـازار يـې روغ کـه لونـه لونـه
کـل سـودا يـې د عـارف د زړه لـه هټـه[171]

په عرفاني فرهنګونو کې دوحدت اوکثرت مفکوره دعرفاني پوهې يوه عمده اصل تشريح کوي چې دهغې په بنياد د واجب الوجود د پيژندنې لورى تفسيروى کثرت دزياتيدلو ،ډيرښت ،زياتوالي په مانا کارول کيږي . کله چې امکاني مراتبو اومظاهرو کې حق تعالي تجلي وکړي نو دنومونو اوصفتونو دڅرګندولو له پاره دکثرت لباس اغوندي ابن عربي دکثرت ګڼه په خاصه مانا تفسيروي : الهى کثرت واحد دى خو دقابليتونو اواستعدادونو له مخې په متنوع ډول دي اوبيلابيل شکلونه غوره کوي .دشيخ اکبر په باور دکثرت په توګه دعالم ظهور اوتجلي دحق مثال دى . يعني تنوع لري .

هر سړى چې ددنيا په چار عــاقل دى
چې سړى پرې سړې کيږي عقل بل دى

ميرزا په خپلو اشعارو کې يادونه کوي چې دهغه کلام رموز دى . له اسرارو ډک دى . په تمامه مانا لکه څنګه چې دنور وصوفيانو اوعارفانو ژبه هم دسمبول ،کنايي او استعاري اورمز ورزا نه ډکه ده . ميرزا هم په پوره کمال سره دا کار کړيدي .

د ميرزا ديوان ۵۴مخ 171

زموږ دبحث وړ شاعر پیچلي فسلفي مسایل اومفاهیم په خپل کلام کې ځای کړي اووړاندي کړي دي . دهغه فکر اواندیشه په خپل وخت کې بې مثاله اوبې ساری پوهه جوتوي. هغه دفارسي ژبي دډیرو مشهورو شاعرانو، او فلسفیانو اوعارفانو څخه کم نه دی.

که لږ څه دقت اوپام دهغه دشعر منځ پانګي ته وشي .دپښتو ادب کې ډیرو لږو شاعرانو او متفکرانو ان له میرزا خان وروسته دنفي ، هستۍ نشتون ، اثبات مفاهیم اوتعبیرات کارولي دي. میرزا ته وجود مطرح دی اوله وجود نه پیل کوي هستي را سپړي اوبیا نیستۍ ته ځي دعدم اونشتون مساله جوتوي اوبیا دواجب الوجود اویا مطلق اوانسان تر منځ تړاو بیانوي. دانساني روح تعالي بیانوي .دا هغه څه دي چې په لویدیځ مدنیت کې دیکارت اوډېر وروسته مشهورو فلاسفه وو لکه کیرکه ګارد اوهایدګر، ورسره دخپلې مفکورې مطابق تماس نیولی اویو فلسفي بنسټ یې ورته جوړ کړی دی ·میرزا په خپل کلام اوفکري سیر کې دانسان دروح صیقل کیدل اوپاکیدل بیانوي اوپه دې ډول دشعر یوه داسې زینه بږدي چې لا تر اوسه پرې لږ کسان ختلي دي.

شپږم څپرکی:

# په پښتني تصوفي عرفاني جريان
# کې د ټولنيز هويت مساله

له ځينو خالصو تصوفي اوعرفاني ښوونځيو اوفکري لارو له څېړنو جوتيږي چې تصوف اوعرفان په تيوريک لحاظ نه خو له ژبې اونه له قوميت سره تړاو لري ، له دې امله جغرافيوي چاپيريال هم ورته مطرح نه دی . ددې ډول تصوفي افکارو د سر لارو اوسترو متفکرينو څخه يو هم شيخ محی الدين عربي يا شيخ اکبر دی . چې هغه په کامله توګه يو خالص اوناب عرفاني اوتصوفي ليد لوري ته قايل دی هغه په دې فکر کی دی چې طريقت اوسلوک هيڅ ډول حد اوسر حد نه پيژني.
عربي او نور وتلي صوفيان خپل افکار په انسان اودهغه په معرفت متمرکز کوي اود معرفت اصلي اساسي ټکې هم حق بولي .

په مجموع کې صوفيان په دې باور دي چې د ټول خلقت هدف اولنډيز دانسان وجود دی . هر هغه څه چې دواړو عالمونو کې وجود ي دي دانسان دوجود تابع دي . دانسان دوجود نه هدف دخدايي صفاتو اوذات معرفت دی. حقيقي معرفت له انسان پرته دحصول وړ نه دی . دا ځکه چې مَلَک اوجن سره له دې چې په تعبد

کې دانسان سره شریک ول خو انسان دمعرفت دامانت دبار کړاوپه منلو کې له ټولو کایناتو ممتاز دي قراني ایت فرمایي: ((عرضنا الامانة علی السموات والارض فابین ان یحملنها وحملها الانسان( احزاب.۷۲ ) ))[172]
یعني ما له کړاو نه ډک امانت اسمانونو اوځمکي ته وړاندې کړ٠ ټولو ددغه امانت دقبلولو نه اوږه خالي کړه خو انسان هغه ته اوږه ورکړه ٠ داسمان له خلایقو نه مراد ملایکي دي اودځمکې له خلایقو نه مراد حیوانات اجنه اوشیاطین دي اوله غرونو نه دغرونو موجودات یعني وحش اوالوتونکي دي. دوی یو هم هیڅ ونه شول کړای چې دامانت بار ته اوږه ورکړ ي خو انسان دا کار وکړ دا ځکه چې دانسان نفس دخلقت له جملې دحضرت الوهیت دښکلا پوره هنداره ده ٠نو که دانسان نفس چې دهنداري په څیر استعداد اوظرفیت لري وروزل شي اوکمال ته ورسیږي، دحق دټولو صفاتو ظهور په کې مشاهده کیږي٠ نفس باید ځان وپیژني چې دڅه له پاره هست شوی دی ٠ بیا پوهیږي چې څوک دی اودکوم راز او سُر ، کرامت اوفضیلت یې موندلی دی٠
خو په پورتنۍ لید توګې سربیره تصوف دانسان په وړاندې بل رسالت هم تر سره کړی دی چې له څو زاویو پرې رڼا اچوو:
۱-دصوفیانو اوصوفیانو ضد اثر څیړونکي په نظر پورتنی نصب العین یعني دانسان دنفس تزکیه اودهغه روزل دصوفیانو له پاره دجهاد اکبر حیثیت لري اودې مبارزې ته جهاداکبر وایي خو نوموړی څیړونکي چې داسلامي نړۍ دزیات شمیر تصوفي

[172] صوفیان وضد صوفیان –الیزابت سریه ,ترجمه دکتر مجد الدین کیواني، ص ۶۱ چاپ مرکز سال ۱۳۵۸

اوطریقتي جریانو نو په برخه کې یې څیړنې کړې وایي چې:
دتصوفي جریانونو له پاره په ټولنیز،سیاسي،فرهنګي یا بل عبارت عیني ژوندانه کې یو لړ اهداف هم مطرح شوي دي چې هغه دجهاد اصغر په نوم یادوي:
((په اسلامي نړۍ کې داروپایي استعمار چیانو په وړاندې لومړی عکس العمل دصوفیانو له خوا څرګند شو .ان تر دې چې په ځینو هیوادو نو کې دهغو دپوځي ځواکونو په وړاندې همدا صوفیان وو چې دمقاومت دځواکونو لومړۍ لیکه یې جوړوله . همدوې ددین له زاویې دکافر او اته ییست (بی دینه) دوښمن په وړاندې وسله وال جهاد پیل کړ . دغه وسله والې مبارزې ته دصوفیانو په منځ کې (اصغر جهاد ) ویل کیده په داسې حال کې چې اکبر جهاد ماناداوه چې نفس ته روحانیت وروبخښي . اودبې ارزښته نفس په وړاندې مبارزه وکړي٠ دنفس په وړاندې مبارزه دخپل نفس اودننیو تمایلاتو په وړاندې دهغوی هغه دننۍ مبارزه وه نه دبیروني دوښمن پر ضد جګړه. ))[173]
- دایادونه چې داتلسمې اونولسمې پیړیو داستعماري لاسبری په وړاندې داسیایي –افریقایي هیوادونو پیښو ته اشاره دهنور زیات مثالونه هم لري٠
۲.همدارنګه زموږ په فرهنګي سیمه اوپه تېره دپښتنو په فرهنګ اوتاریخ کې د،،اسیایي ډوله استبدادي،، رژیمونو اودپردیو یرغلګرو په وړاندې خپل ځاني (خودبخودي ) اونا اګاهانه (ناخبره ) توګه جریانونه لیدلی شو چې ددین تر پردې لاندې

[173] صوفیان وضد صوفیان ٠الیزابت سریه –ترجمه دکتر مجدا الدین کیواني –ص۶۱ چاپ مرکز چاپ ۱۳۸۵٠

دعرفان اوتصوف په رنگ کې وو . موږ په تاریخ کې دوه مفهومه په ډېر صراحت اوڅرگنده توگه وینو اوهغه په وروسته پاتې ټولنو کې داستبدادونو ناروااوو اوبې عدالتیو په وړاندې خپل سرى (خودبخودي ) یانا اگاهانه (نا خبري ) جریانونومنځ ته راتلل دي . په تاریخي اوټولنیزو څیړنو کې ځینې داسې مقولات چې خپله افاده اوتعبیر لري له پامه نه شو لیرې ویستلی .همدارنگه:
له یوې خوا خپلسري یعنې دتاریخي پروسو عیني تکاملي سیر چې دټولنیزو قوانینو دنسج مطابق تر سره کیږي اوله بلې خو اگاهانه یا باخبره او دټولنیز تکامل پر قوانینو دانسانانو خبرتیاده چې دتکامل دبهیر دچټکوالي اوپه اړینو بدلونونو باندې له پوهیدنې څخه عبارت ده.
۳- یوه تیوري هم اقتصادي هغه ده چې دروښاني غورځنگ په څیر دنورو غورځنگونو په اړوند ددې تیوري له مخې پرروښانې غورځنگ هم شننه کیږي .اوهغه دانگلس تیوري ده . انگلس دمنځنیو پیړیو اودمدرنې صنعتې ټولنې دمخه بدلونونو دځانگړنو په اړه وایي: ((د شپاړسمې پیړۍ په اصطلاح د مذهبي جنگونو په وخت کې اصلي مساله دپوره مادي اوطبقاتي گټو په خاطر را مخ ته وه . دفرانسې اوانگلستان دوروستیو کورنیو بحرانونو بنسټ پر طبقاتي گټو باندې ولاړ وو .که چیرې په هغه وخت کې دغه طبقاتي مبارزو مذهبي رنگ درلودی اوکه چیرې تر مذهبي پوښ لاندې دمختلفو طبقاتو گټې را مخ ته دی نو دا مساله دجنگونو څرنگوالی ته تغییر نه ورکوي اوکولای سو چې دهغه وخت دشرایطو دشننې له مخه یې څرنگوالی روښانه کو .

ښکاره خبره ده چې دفیودالیزم اوکلیسا پر ضد دمبارزې په صورت کې باید ټولو انقلابي،سیاسي اواجتماعي ایدیالوجیو مذهبي رنګ درلودی ٠ اوددې له پاره چې پر اجتماعي اړیکو باندې حمله ممکنه سوی وای لومړی باید له هغه څخه دتقدس پوش لیری سوی وای.))[174]

انګلس په دې باور دی چې په منځنیو پیړیو کې مذهبي الحاد اوعرفان (صوفیګري ) دفیودالي رژیم په وړاندې دمخالفت اواپوزیسیون یو ه مظاهره اوبڼه وه٠ خو په مشخصه توګه کله چې دروښاني فکري جریان په باب خبرې کوو دځینو پوهانو په نظریاتو تم کیږو:

۱-مرحوم استاد روهي ((دروښان جهانبیني اوفکري نوښتونو ))نومې اثر کې په هر اړخیزه اوریالیستیکه توګه دهغه ټولو نظریاتو چې دروښاني نهضت په اړوند ویل شوي شننه کړې ده . هغه دعبدالاکبر خان اکبر د(روښان دمغلو تاریکیان ) دا نظر را اخلي چې وایي: ((دپیر روښان اوروښانیانو برخلاف مذهبي الزامونو مخالفت کې لوی لاس دمغلو بادشاهانو وو هغوی بادشاهي دپښتنو نه اخیستې وه وپه دې وجهه دهغوی سیاسي دوښمنان پښتانه اولودیان کمزوري شوي اووهلي شوي وو. دسرحد اوغرونو پښتانه یو لوې طاقت وو ازاد وو. په یوه مرکز را جمع کیدل یعنې دکاڼي ګرم نه تر سوات،باجوړ پورې دبایزید دمریدانو پیدا کیدل اوبیا لیوني مریدان چې په هیڅ اړ نه وو، داداکبر دپاره لویه خطره وه . ددې وجهي هغه دشاهنشاهیت

[174]دروښاني نهضت دپرمختګ اوماتې عوامل ٠دع,جهاني لیکنه دمقالي دویم مخ ٠ دروښان یاد اثر ۲۰۶ مخ پښتو ټولنه ۱۳۵۵ (مارکس –انګلس کلیات ۸ج ۱۲۸ مخ روسي چاپ )

دهغې غټ ګړ نه کارواخیست چې قوم کې ډله پره پیدا کړه ډلې ډلې یې کړه بیا پرې حکومت کوه . بغیر ددې نه دبایزید دمذهبي عقیدې تعلیم اودهغه په تصانیفو کې داسې هیڅ خبره نشته چې په هغې دکفر اوبې دیني الزام پرې ولګول شي.))[175]
۲-هغه دعبدالاکبر خان له قوله وایي چي سید علي دکورګانیانو خوريي وو اودروحانیت تر نقاب لاندې یې دخپلو ماماګانو خدمت کاوه.
۳.یوسف زایي پټان کتاب چې په اردو کښل شوی ،روښاني نهضت دازادي غوښتني تحریک بولي الله بخش یوسفي دمحمد عبدالشکور له قوله وایي چې بایزید انصاري یو صحیح مبلغ،رهنما اوادیب وو خو اخون درویزه دمذهبي تعصب،ذاتي عناد اودسیاسي اختلافاتو په وجه ده ته ملحد اوزندیق وویل.
الله بخش یوسفي یو بل دلیل هم راوړي چې که روښاني تحریک داسلامي تعلیماتو مخالف وای نو جلال الدین اکبر به دمخالفت پر ځای له هغه سره مرسته کړي وای دا ځکه چې ده هم ددین الهی په نوم یو نوی دین راویستلی وو.
۴-ځیرونکي دا هم وایي که اخون درویزه یوازې ددیني احساساتو له مخې دروښانیانو سره مقابله کوله نو باید چې دده دمبارزې تیره څوکه دجلالدین اکبر ته متوجه شوي وای ځکه چې مغلي پاچا دنوي دین دخپرولو له پاره هلې ځلې کولې.
۵-دپخواني شوروي ځیرونکي لکه اسلانوف هم په۱۲ او۱۷ پیړیو کې دروښانیانو مبارزه په دوه استقامتونو کې توجیه کوي یو

[175]استاد روهي ۰ دروښان جهانبیني اوفکري نوښتونه (۱۴-۱۳ )۴۹ مخ

دبابري دولت پر ضد اوبل دفیودالي ملاکانو پر ضد اودې ته بزګري قیام وايي.
پروفیسور دوریانکوف دا نهضت دمغلي امپراتورۍ دلاسبرې پر ضد اودخپلو فیودالانو پر خلاف داولسونو دازادۍ مبارزه بولي.
اکثریت افغان لیکوالان اوڅیړونکي روښاني نهضت دپردیو دلاسبرې پرضد یو جریان بولي.
۲-کله چې بایزید روښان دقاضي خان سره په مناظره کې بریالي کیږي اوبراٌت اخلي نو دکابل حکمران میرزا حکیم دځینو با نفوذه کسانو له پریکړو اوقهره ډار لري دهغو په وړاندې ځان نا چاره احساس کوي له روښان نه غوښتنه کوي چې له هغه سره یو ځای شي:
حالنامه لیکي:
((یا شیخ تو درمیان این قوم چرا میباشي که این طایفه ای اند که طهارت وغسل،جنابت را نمی دانند ،قدر تو چه دانند ؟و از تو چه نفع گیرند.چون پیر دستگیر قدس سره از زبان میرزا حکیم چنین شنیدند ،فرمود که حق تعالی تولدمن درین زمره گردانیده وبر عالمي که وارث نبي است علیه السلام لازم وامر است که بی راه را راه نماید وجاهل را عالم گرداند . اگر چه هدایت وضلالت بدست قدرت حق تعالی است .چنانچه میشنوی قوله تعالی ((یضل من یشاء ویهدی من یشا )) امانبی ووارث نبی مامور است به رسانیدن امر ونهی ما علی السول الالبلاغ )) .[176]
۷_ ګورو چې بایزید روښان تعهد لري هغه دمال،جاه اوجلال لټه

---

[176] حالنامه (۳۴۲ او۴۳ مخ )

نه کوي،بلکې هر څه دخلکو اوخپل اولس سره په نږديوالي کې ويني. کوم هدف چې يې ټاکلي هغه تر هر څه غوره بولي.
دپورتنيو توضيحاتو له مخې ويلې شو چې: په پښتو ادبياتو اوتصوفي فرهنگ کې دا مساله هغه ډول نه ده کوم چې دفکري بنياد پر بنسټ دعوه کيږي ٠روښان پير چې دروښانيه فرقي بنسټ ايښودونکي دی سره له دې چې په خپلو اثارو کې زيات ټينگار کوي چې دخپل طريقت اومقاماتو له لاری خپله لاره له هر ډول حد ومرز دپيژندلو پرته وښايي ٠ هغه انسان اودانسان معرفت دخپلې لارې اصلي اوبنسټيز عنصر بولي خو دازادۍ اوخوداراديت په لار کې مبارزه هغه عنصر بللی شو چې دټول اولس دقومي لا شعور له لاري په خبره اونا خبره توگه دروښان په مبارزه کې انعکاس کوي.
٨ـله بلې خوا دژبې په هکله دخيرالبيان په بدايته البيان کې دمذهبي اولاهوتې احکامو په رڼا کې دخپلې ژبې ته دهغه پاملرنه جوتيږي ٠روښان دې مسالي ته يو ديني اومذهبي لوری ورکوي اودخدای تعالې دلار ښووني يادونه کوي: (اوبايزيده ! وکښه حرفونه چې په هره ژبه سازيږي دفايدې دپاره دادميانو .ته دانايي له هره څيزه.مانه زده بيرون حرفونو دقران اوسبحان ) )[177]
قلندر مومند ليکي:
٩ـ(( دبايزيد انصاري اودهغه دخاندان دپښتو ژبې دپاره خدمت هم دروښاني تحريک دملي شعور په ثبوت کې پيش کيږي ٠ ددې حقيقت نه هيڅوک انکار نه شي کولي چې دپښتو ادب په وده

---

[177] دخيرا لبيان تنقيدي مطالعه ٠ ٢ مخ قلندر مومند

اوترقۍ کې دبايزيد اودهغه دتحريک ډېر لوی لاس دی ۰ خو دپښتو دا خدمت خو دروښاني تحريک لوی دوښمن اخون درويزه هم کړی دی نو که صرف په دې روښاني تحريک ته ملي تحريک ووايو نو بيا به داخون درويزه د ضدبايزيد )) تحريک هم ملي تحريک گڼو هسی دديو دواړو خپلو کې دمخالفو قوتونو پښتو ته مخه کم از کم دا خبره ثابتوي چې دهغه وخت پښتنو کې يا کم از کم خوانده پښتنوکې دپښتنو سره دمينې يوه جذبه خامخا پيدا شوې وه... ))[178]

قلندر مومند سره له دې چې دنورو افغاني څېړونکو له نظر سره ډېر موافقت نه ښايي خو يوه خبره جوتوي چې دا مهال په ليک لوستو پښتنو کې دځان پېژندنې خبرتيا اوشعور پيدا شوی دي چې دتاريخي واقعاتو پر بنا يې انگيزه پلټلې شو اوڅرگنده انگيزه يې په ماضي کې د پښتنو دحاکميت له منځه تلل اودپرديو په وړاندې پاڅون کيدای شي ۰ ژبه دلته اهميت پيدا کوي اونه يوازې دمکالمي اووسيلې په توگه بلکې دملي اوقومي شتون اوتشخص له پاره يو ضروري عنصر دی چې دتاريخي اوټولنيز – اقتصادي اوفرهنگي تکامل په لړ کې له باالقوه حالت نه باالفعل ته سر راپورته کوي.

کيدای شي اخون درويزه هم ديو شخص په توگه ددې اړتيا احساس کړي وي چې دتذکرت الابرار والاشرار په خوا کې مخزن په پښتو وليکي . خو دروښانيانو دنهضت دټولو نوم وتلو پيروانو په تناسب دا کار دومره دحب اوعشق له مخې نه وو

---

178 (دخير البيان تنقيدي مطالعه ) ن - ۵۰مقدمه

داځکه چې روښانيانو په باخبره توګه زيات ديوانونه هست کړل ۰ددوی داثارو له کميت نه هم جوتيږي چې روښانيانو ديني اوسياسي خبرتيا زياته وه.
همدارنګه مرحوم استاد اکاديميسين پوهاند عبد الشکور رشاد دکابل چاپ خيرالبيان په سريزه کې يو بل ډېر ښه ټکي ته اشاره کوي اوداخوند درويزه دا قول دمخزن افغاني له سريزې را خلي چې وايي:
((دا کتاب ما ددې له پاره کښلی دی چې په پښتنو کې د بايزيد (پير تاريک) تبليغي اغيزه کمه کړم ،بايزيد پير تاريک پښتو شعرونه ويل په هغو کې به يې دشريعتونو (؟) علم اوملايانو غندنې کولي ،بي معنی شعرونه به يې پښتنو ته ورښوول ۰ما دده پرضد دپښتو شاعري پيل کړه ،په نظموکې مې دکافرانو ،زنديقانو ،معتزله وو ،روافضو غندنې وکړلي،ددينی عقايدو په باب مې عربي خبرې په پښتو نظم کړی ، اوپښتنو ته مې وروښوولی ،زه په شاعرۍ کې ترده وړاندې سوم، ډېر خلک مې دده له پيروۍ را وګرزول۰))[179]
زموږ بحث ددې لاري په يو محوري فکري شخصيت ميرزا خان انصاري په اړوند دي ۰ دميرزا خان په ديوان کې ځای ځای دهغه دعرفاني اوتصوفي افکارو په ترخ کې دخپل اصلي ټاټوبي اوژبې يادونه هم شوې ده.
ميرزا خان چې دهمدې لارې يو پياوړی فلسفي –عرفاني بنسټ ګر دی په خپل ديوان کې هم دهنر اوفلسفي بيان دوړاندې کولو له

---

[179]عبدالشکور رشاد (سريزه )۰خيرالبيان کابل چاپ ۰ ۸۲مخ کال :۱۳۵۳

زاويي او هم د پښتو ژبې سره د مينې او عشق د څرګندونو له مخې جو توي چې هغه د خپل فرهنګ او خپلې ژبې سره بې تو پيره نه دی
.
خو ميرزا پښتو او عرفان يو له بله سره نغاړي وايې:

يو فاني ژوندون به مومي
دفنا دخوند پـه څکـه

کـه دې دا لـذت تـر خولـه
شـــــــــــــــــي
ځای دې پاس دی له ملکه

خليفــه دکــل عــالم يــې
چې معـراج دی نهـه فلکـه

دا جهـان پـه تـا ليـده شـي
ددوو عينـــو مردمکـــه

د پښـــتو ســـاده خبـــرې
خونـد يـې زيـات دی لـه
نمکـــــــــــــــه

د ميـرزا پـه مـخ قـدم ږده
ای د حقيقـــت عينکـــه[180]

[180] ميرزا ديوان ۱۱۸

یا په بل ځای کې:

په پښتو ژبه عجب دي دا خبري
په صفت دیګانه محبوب حاضري

دکثرت بازار یې جوړ که لونه لونه
په هر څه کې تماشه دبازیګرې
دصفات نوم یې په هر چا باندې
کښیښو
اوددذات دا یګانګۍ یې زور ورې

په ازل یې قسمت بیا موند ګوښې
ګوښې
اوس لیده شي چیري ویر چرې سندري

دعاشق خاطر یې پل که دښادییه
بیا ګهی ګهی پرې ځینه دغم پیری

جدایي مې په مثال زهر قاتل شوه
ددیدن شیریني زیاته تر شکرې

دهجران ناوکی هسې رنګ تېره وي
چې علاج یې نه په سپر شي نه په زغرې

پــه مهجــور بــه عمــر ځرنگــه تیریــږي
چې نیزدې لیدلی یا رشي ځینې لیـري

هو ســناک یــې لــه هو ســه تما شــه کــه
د خـــزان دونـــې اور ځـــې ترهتـــرې

د فـراق پــه سـرخۍ زیـب د سـترگو گـوره
بیـا پــه تــور بانــه چــې زانگــي مرغلـرې

ای میـــرزا دصــبر اجــر دې دېــدار شــه
چــې دا هســی دهجـران غمونــه نغــرې[181]

تردې مهاله یعنې دشاعر تر وخته په پښتو ژبه دداسې مسایلو مطرح کول چې د یواځیني ذات ((د کثرت بازار)) پر هرڅه باندې د ((صفاتو نوم)) او د ذات یو والی چې ژور عرفاني فلسفي مفاهیم دي دلومړي وار له پاره په پښتو ژبه بیانیږي . دا په فرهنگي پر مختیا کې لوی اوښتون دی.

## میرزا او دزیږیدنې د ټاټوبي پښتونخوا یاد

له پورتني بحث نه پوهیږو چې روښاني غورځنگ دپښتنو دتاریخ په یوه خاصه زماني مقطع کې دپښتنو دازادۍ،خپلواکۍ اوملي هویت دځرگندیدو یو خپل سری (خودبخودي ) جریان وو چې له یوې خوا دټولنې دااقتصادي ټولنیز –فرهنگي ودې پر بستر دمذهب اوعرفان په پوښښ کې راپورته شو . د غورځنگ

---

همدا ثر ۱۷۸ 181

د سرلارو هڅه دا وه چې د پښتون اولس د فرهنګي هویت د تثبیت له پاره ژبې اوددوې سیاسي اومذهبي یووالي ته پام وکړي ،په شعوري یا لا شعوري توګه یې دمغلو دامپراتورۍ په وړاندې مبارزو ته دوام ورکړ٠ میرزا خان انصاري چې ددغه غورځنګ دیوه متصوف اوعارف سرلاري اوپیرو په توګه دوطن سره پردی نه بلکې په وار وار یې په خپل دیوان کې یادونه کړې ده٠دهغه له شعره هم جوتیږي ٠ میرزا خان چې په ډېره ځوانۍ کې له پښتونخوا څخه هند ته کډوال شوی دی ٠ په ډېر افسوس سره دخپل ټاټوبي یادونه کوي٠

کډوالي اوجلا وطني رواني درد زیږوي٠ موږ پوهیږو چې میرزا خان په زلمیتوب کې له خپلې علاقې اوله خپل وطنه مهاجر شوی دی دهغه په اشعارو کې یو ژور درد له دې امله هم دی٠ هغه وایي:

پـر بانـه مې دي لـوې لـوې اوښـې ولاړې
لکــه در چــې و پېیــي پــه تــور تارونــه

ماوې زه به په زړه کوټ د صبر روغ کـړم
ګرمو اوښیو مـې رامـات کـړه حصـارونه
چـې جـرس مـې لـه فراقـه نعـرې وکـړې
پــر د بســیو زلمیــو وتــړل بارونــه[182]

دمیرزا له کلام نه جوتیږي چې دمجبوریت له مخې هند ته کډوال کیږي٠ اولکه دخوشال بابا چې په رنتبور کې بندي اوخپله روهه یا پښتونخوا یادوي.یا داشرف خان هجري په څیرچې دخپل وطن

182 همدا ثر ۱۴۴

نه دليرې والي اوغربت ياد کوي · ميرزا سره له دې چې يو عارف اوصوفي دي کلام ،عقيده اوباور يې په انسان باندې متمرکز دی خو هيڅکله له هيواد اودزيږيدني له ټاټوبي سره بې پروا نه دی · (هر چاته خپل وطن کشمير دی · )) متل دهغه دباورونو څرگندويه ده · زموږ دشاعر اوعارف ميرزا خان په اشعارو کې دوطن انعکاس دبوې جدي مسالې را وړاندې کيدل اومطرح کيدل دي · دغه مساله په مهاجرت کې دوطن مفهوم دې اوپه هيواد اويا په خپل قلمرو کې شتون دازادۍ او خپل واک لرلو مفهوم دی · دا ديو عيني اړتيا په توگه دشاعر په کلام کې مطرح دي نو ځکه يې دهغه په عرفاني ليد توگه کې ديو ضرورت له مخې انعکاس کړی دی ·

په دا هسې سفر تله شي له ضروره
عاقبت د هر چا خپل وطن کشمير دی

بې بها دده ديدن ؤ په بها شه
مشتري يې په دا پټ عيبو نوځير دی

دا پتنگ چې وبل اورته هوسي کړي
په هردم يې په خندا کښې د ځان وير دی

دا فقير ميرزا به ومري ستا له دوکه
بيا به وايې له قسمته يې تقدير دی[183]

---

[183] همدا اثر ۲۰۳

پښتون فلسفي شاعر لکه په خپلو نورو اشعارو کې ژور فلسفي مفاهیم کاروي دلته هم هم داسې چلند کوي. له هیواده تلل دېوي اړتیا له مخې مطرح کوي خو دا خبره چې هر چا ته خپل وطن کشمیر دی نه هیروي. کشمیر که څه هم ښکلي سیمه ده په پښتو ادب کې ان له پخوا یا دشوی دی. هر پښتون چې له خپل ټاټوبي سره مینه ځرګندوي نو دتمثیل له پاره دا متل کاروي.

هغه وایي دیو شي پټ عیبونه اونیمګړتیاوې یوازې اخیستونکي یا مشتري په ډاګه کولای شي ۰ نه بل څوک·له شاعر سره ددې کمال شته چې په ارزښتونو وپوهیږي ۰ میرزا په خپل شعر کې ځای ځای دتمثیل له صنعت نه هم کار اخلي چې که پتنګ داور هوس کوي نو خپل مرګ په کې ویني اوپه خپله خندا کې دځان ویر کوي. شاعر دزمان ناخوالو ته وایي چې اخیر به ستا له غمه اودوکه ومرم دا جبر به ستا له لاسه وي خو بیا به تقدیر او سرنوشت ملامته کیږي.

شاعر په پورته شعر کې په ډیر مهارت سره دخلقت اسطورې ته اشاره کوي چې که ادم یا ابولبشر سهوه وکړه نو دتوبې دروازه ورته خلاصه پاتې شوه اودسهوې توبه منل کیدای شي. خو دا خبره نه پټوي چې که په ویره اوډار سره یم دډار سبب دادی چې دانسان سره شیطان ملګری دی. هغه دی چې انسان له سمې لیارې کږوي اوپه ناسمه یې برابروي.

میرزا په یوه بل غزل کې دوطن یاد کوي· هغه دوطن دبیا لیدلو لیوال دی ۰ له وطن څخه دلیرې والې نستالژیا دهغه پر روح

اوروان لکه دغرونو لړۍ پرته ده .هغه ددې پنډونو اوبارونو لاندې ستمی وهې خو دهغه شعر ته یې ځانګړې سوز اودرد اودانعکاس قوت ورکړی دی ٠ چې وایي:

ښه دیدن لکه باران پرې تازه کېږم
جدایي په مثال اور په ما لګینه

پټ پنهان مې دا خراب خاطر ورتیږي
او که آه کړم ډېر عالم به وسوځینه

محبت خبرې ګرمې تر لمبو دي
کاتبان به یې په کومو ګوتو کښوینه

چې قلم په دا لمبه کښې لوغړن شي
ترو باریک کاغذ به یې څشکله سهینه

یکباره به قراري له خلقو پاځي
که د زړه شغله تر ژبې تیره شینه

د عشق اور مې یو په یو تر عالم پرېوت
په محفل به یې څوک څه حصاروینه

هغه راز چې په خلوت کښې پوشیده ؤ
په بازار عالم د غه خبرې کړینه

او قسمت یې د هر چا جدا جدا که
لاس وپښې پخپل مقصود پسې وهینه

دا مېرزا په برهان پور کښې ننداره کا
لـه اصـلي وطنـه راغـی بيـا بـه ځينـه[184]

هجران،جدايي اوليرى والى يوه هغه مساله ده چې دميرزا خاطر يې زمول کړی دی .هغه په دې اعتراف کوي چې دعشق اومينې خبرې سور اوردی چې کاتب يې نه شي کښلی اوکله چې قلم وسوځي نو پر کاغذ به ځرنگه کښل وکا .هغه دخپلې مينې اوعشق مساله رسوا ويني چې په عالم کې دټولو په خوله ځرخي .تقدير اوقسمت دهر چا جلا بولي خو دميرزا په برخه کې برهان پور رسيدلی دی چې له خپله هيواده يې جلا کړی اوهلته يې ايسار کړی دی.

د هجـران غمـازي اوښـې
چې پـر مـخ بانـدې بهيـږي

دا د راز ډيــوه شــوه بلــه
په محفـل کښـې نـه پټيـږي

د عشـق درد څـه هسـې نـه
دی
چې حکـيم پـرې وپـوهيږي

نه علاج نه يې درمـان شتـه

[184] همدا اثر ۱۴۶

پــه دارو بــه نــه رغيــږي

طبيبـان شـوه بـې مجالـه
څـو کوشــيش کانــدي
تبريـــــــــــــږي

دا بيلتــون د زهــرو ګــوټ
شــــــــــــي
د رنځـور تـر حلق تېريـږي

په تقدير مې دا ساعت دی
چې خپـل يار لـه ما بيليږي

هــــره بخــــره ازلــــي ده
پــر قســمت بــه ورســيږي

نــن مېــرزا تيــاري وکــړه
ووطـــن تـــه روانيـــږي[185]

له پورتني بحث نه پوهيدای شو چې په پښتنو کې چې کوم تصوفي اوعرفاني جريان را منځ ته شويدي ، هغه نه يوازې د((اکبر جهاد )) لاره نيولي ده بلکې دعارفانو په اصطلاح

185 همدا اثر ۱۶۸

د((اصغر جهاد ))لارې نیولو ته هم اړ شوي دي ٠دعارفانو په اصطلاح داصغر جهاد لاره په عملي ژوند کې مطرح شوې ده ٠صوفي اوعارف نه شول کولای دمطرح شویو اوموجوده اړتیا وو څخه سر غړونه وکړي ٠ دلته په استعاري توګه زموږ هدف له اصغر جهاد څخه دادی چې اولسونو ته دتاریخ په خاصه زماني مقطع کې دهویت اوخپلواکۍ مساله مطرح وي یا دازادي غوښتنې اوداجنبیانو سره دمخالفت مسایل را وړاندي شي نو تصوف اوعرفان دمذهب سره په نږدیوالي کې هغه لاره اوروش وو چې دهغه په سیوري کې یې ملي مبارزو ته لورې اواستقامت ورکړی دې ٠ دلته دخپلو خلکو دازادۍ خپلواکۍ په یو مرکز دراټولیدو له پاره هڅې دژبې اوفرهنګي ارتقا له پاره هڅه اومبارزه ده چې روښانیانو په خپل وخت کې کړی ده ٠

په پښتنو سیمو کې داسې ډیر صوفیان اوعارفان وو چې کله یې دهیواد اوازادی په وړاندې دوسله والي مبارزې اړتیا احساس کړې ده سم دواره یې وسلې ته لاس کړی دی اوخپله خانقاه یې پرې ایښې ده ٠ ډېر ځرګند مثال یې دوزیرستان فقیر میرزا علي خان یا ایپي فقیر یادولی شو .

فقیر ای پي میرزا علیخان:

که دخپلو خبرو په راټولولو فکر وکړو نو دتیرو پیړیو په دوه نورو سرلارو هم غور کول اړین بریښي ٠ له دغه دوه سرلارو څخه یو هم میرزا علي خان مشهور په فقیر ایپي دې ٠ اوبل هم حمزه شینواری دی ٠

فقیر ای پي یو صوفي اودرویش شخصیت تیر شوی په هماغه

ماحول کې چیرته چې بایزید روښان را څرگند شوی وو سر راپورته کړ ·میرزا علي خان په ډیره تنکۍ ځوانۍ کې له خپله پلاره دیني کتابونه زده کړل دیو څو کلونو کورنۍ زده کړې وروسته هغه بنو ته واستول شو ·دوخت له عالمانو یې زده کړې وکړې·

داکتر ببریگل وزیر لیکلي دي کله چې هغه دملا په توگه دینې زده کړې ترسره کولې نو یې دخوشحال خان ختک ،رحمان بابا ،اوپیروښان کتابونه اوهم دبریتانوي نیواک تاریخ اودبرتانوي سر کار سره دافغانانو دجنگونو په هکله لوست کاوه نوموړی زیاتوي چې فقیر ای پي میرزا علي خان له پښتوژبې سره سره په اردو اوعربي ژبو هم پوهیده · دمشهور مورخ استاد حسن کاکړ په قول فقیر ای پي هغه شخصیت وو چې کله قومونو خپل مشر وټاکه نو پاسیف صوفیانه ژوند یې پریښود ،خانقاه یې بنده کړه اودازادۍ غوښتنې جنډه یې پورته کړه اودزیاتو کلونو له پاره یې دخپلو خلیفه گانو په ملتیا دانگریزي استعمار په وړاندي وسله واله بریالۍ مبارزه وکړه · دافکتور زموږ داادعا ثابتوي چې په پښتنو کې را پورته شوی صوفیزم اوعرفان کوم منزوی اوپاسیف یا منفعل صوفیزم نه وو اونه دی · ددې جریان مثالونه په نړۍ کې هم لیدلی شو · دمثال په توگه : په (۱۲۰۰ – ۱۲۴۷ق )یا (-۱۷۸۲ ۱۸۳۱م ) کې داحمد بریلوي تحریک هم یو اصلاح غوښتونکي اومتحرک هغه وو · یا په لویدیځه افریقا کې داوسومان دن فودیو (۱۲۳۲-۱۱۶۷ق) چې یو تصوفي نهضت وو خو دملي خپلواکۍ له پاره یې مبارزه کوله · دتیجانیه جنبش هم یو اصلاح

غوښتونكي فرقه وه چې دافريقا په شمال اولويديځ كې را منځ ته شوه ٠همدارنگه په سودان كې دمحمد احمد سوداني (-١٢٥٩ ١٣٠٥ق)(١٨٨١م )تصوفي جنبش دملي ازادۍ له پاره مبارزه پيل كړه . همداراز دقفقاز په شمال اومنځنۍ اسيا كې دروسيي پر ضد داسې جريانونه وو چې د تصوف په خم كې رنگ وو ٠ زموږ هدف دادى چې تصوفي جريان يو منفعل اوپاسيف حركت نه بلكې دهرې ټولنې اړتياوې يې منعكسې كړي اوكله چې ټولنه دسياسى اواگاهانه حركتونو نه بې برخې وه نو ځاى يې دغه صوفيانه حركتونو ډك كړى او داكبر جهاد په څنگ كې يې اصغر جهاد هم كړى دى.

په پښتنو كې حمزه بابا يو بل متفكر دې ٠ سره له دې چې په هېڅ سياسي جريان كې شامل نه وو، په دولتي ادارو كې يې هم كار كړى دى .خو دهغه شعر اوليكنو هميشه له ځانه سره يو عرفاني اوتصوفي پيغام درلود ٠ هغه په خپل شعر اوغزل كې له پښتانه سره مينه ځاى كړه ٠ دحمزه په تصوف كې دفلسفي باريكۍ هم بيان شوي دي حمزه كه يو پښتون عارف اودسلوك خاوند دى خو په خپل شعر كې په زغرده وايي:

دمــومن گفــت و كــردار واړه معلــوم دى
دســپوږمى دچــړې غشــى وايــه كــوم دى

ستا په نوم مى چى خپل نوم او نښـان ورك
كـــــــــــــــــــــــــــــــــــړ
اوس چې هـر يـو نـوم تـه گـورم زمـا نـوم دى

ستا دزلفو دورک شوو درک چرته
چې مې سیوری هم په دې شپه کې معدوم
دی

شقاوت دفلک ګوره په مینو
چې ګردش یې هم زما له پاره شوم دی

عشقه څه شوی زه قتیل یمه دعقل
چې جهان راته موجود کله موهوم دی

ستا یادونو هم اشنا یو ازې نه کړم
دغمونو چې هجوم و لا هجوم دی

اضداد هله په کاریږی چې موجود وی
په وجود او په عدم کی څه لزوم دی

که پخې پخې خبرې کړې بې عشقه
په دې لاره کې یې وګڼه لا اوم دی

حمزه هغه چې دعوه یې دمحرم وه
چې په غور مې وروکتل محروم دی

خو ددې په خواکې چې هغه يو صوفي اوعارف دی.دا خبره هم په جهر کوي وا ي:

ما ټيټ ورته ليمه کړه زما سر نه ټيټيده
شايد چې په الفت کې هم افغان پاتې کيدم
.

يا داچې:

حمزه سفر که دحجاز وی نو هم
زه د پښتون له قافلې سره ځم

همدا رنگه په بل غزل کې وايي:

په هر مخ کې ستا دمخ په ننداره
يـــــــــــم
چی له ډيرې پيدايې يی نا پديد
يـــــــــــم

يا دا بيت چې وايي:

ته اسلام پښتو گڼه خو زه وايم
خدای که هم انسان وی نو پښتون به
وو

داسی راته ښکاری چی پخلا به وو
ما چی ورته غږ وکړ راستون به وو

هغه ولې دا خبره په زغرده کوي؟ ددې له پاره چې د پښتنو په ملي

خود اګاهي او همدارنګه په ټولنيز تحت الشعور کې يو څه ورک اونيمګړې دي اوهغه ددوې خپلواکي استقلاليت اوخود مرکزيت دی. همدغه ټکې چې يو څه تفصيل ته اړه لري هغه يې دی ته اړ کړی دی چې دخپل قوم دلاشعور خبره وکړي ديونګ خبره دلته صدق کوي وايي: ((يوازې شاعران زما په خبرو پوهيدای شي... ))

ساغلي اصف صميم ليکي: دحمزه په شاعرۍ کې دبنيادي اوبنسټي ټکيو په توګه دعشق اوعرفان له شتون سره مذهبي اوملي جذبه دواړه په ډېر فطري او استادانه هنر غاړه غوټې شوې دي اوددې فطري حقيقت چې دين اوملیت نه يواځې ټکر خور نه دي بلکې ملاتړ هم دي . خو داعتدال اوانډول ساتني په شرط حمزه ددې حقيقت منلو ته ښايسته ډېر پلويان اولاروي پيدا کړي دي . ان چې خپل دې پيغام ته يې ديوه ادبي سياست رنګ ورکړی دی[186].

دپښتنو په ژوند کې لکه دهر بل شرقي اولس په ژوند کې دوه ډوله جريانونه را منځ ته شوی .چې يو سياسي ټولنيز اوبل فکري عرفاني . که تير تاريخ ته پام وکو نو دخوشحال خان ايمل خان وبيا پاچا خان مبارزو که له سياسي پلوه خپل رسالت تر سره کړ نو دبايزيد روښان ، اودهغه دپيروانو بيا دفقير صيب اونورو فکري اومعنوي هڅې دپښتنو دخبرتيا اوشعورې بيدارۍ بل موازي جريان دی.

[186] حمزه شينواري کليات .محد اصف صميم .داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت .کابل افغانستان :۱۳۸۷

ماخذونه:


- -ابو القاسم،داکتر ذاکر زاده·فلسفه هگل·انتشارات الهام،تهران:۱۳۸۸
- -الیزابت سریه ·صوفیان وضد صوفیان(ترجمه دکتر مجد الدین کیواني )·چاپ مرکز،تهران:۱۳۵۸
- الوداع،سلیمان·ابن عربي ( ترجمه داوود وفایي)چاپ مرکز تهران: ۱۳۸۴کال
- ادونیس (علي احمد سعید )·تصوف وسوریالیزم·(ترجمه حبیبالله عباسي·چاپ دوم،گلرنگ یکتا· ایران ،تهران:۱۳۸۵
- ابن عربي،محی الدین.درخت هستي.(ترجمه ،توضیح دکتر گل بابا سعیدي )تهران،زوار:۱۳۸۷
- پطروشوفسکي(ترجمه کریم کشاورز ) ·اسلام درایران ·چاپ نشر نیما المان: ۱۹۹۸
- (پیام صوفي بت شکن به بت پرستان قرن بیستم)پوهاند دوکتورسید بهاوءالدین مجروح·ادب مجله ،کابل پوهنتون:۱۳۵۵
- حمزه شینواري کلیات ·دمحد اصف صمیم ·داطلاعاتو اوفرهنگ وزارت ·کابل افغانستان:۱۳۸۷
- خلیل ،همیش .(ترجمه ) میرزا خان انصاري اودهغه شاعري .جدون پرنتنگ پریس پیښور:۲۰۰۲کال
- خیرالبیان، (کابل چاپ ) . دعبدالشکور رشاد سریزه ·چاپ کال ۱۳۵۳:
- دروښان یاد·دبایزید روښان دنړیوال سیمینار دمقالو مجموعه ·دحبیب الله رفیع په اهتمام·پښتو ټولنه:۱۳۵۵
- روهي،کاندید کادیمیسین محمد صدیق·دروښان جهانبیني اوفکري نوښتونه، چاپ: دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه کابل:۲۰۰۷

کال

- زرین کوب،عبدالحسین٠ازچیزهای دیگر٠تهران:۱۳۷۹
- سعید ،شیخ٠فرهنگ اصطلاحات فلسفه اسلامي ٠(ترجمه سعید رحیمیان )،چاپ تهران ،مرکز:۱۳۹۰
- سجادي،دکتر سید جعفر ٠فرهنگ علوم عقلي ٠انجمن اسلامي فرهنگ وحکمت وفلسفه٠ایران ،تهران:۱۳۶۱
- سجادي،دکتر سید جعفر سجادي٠فرهنگ اصطلاحات وتعبیرات عرفاني ٠انتشارات طهوري،زبان وفرهنگ ایران ،تهران،چاپ ششم٠۱۳۸۱
- صمیم،محمد اصف ٠پښتو نامې ٠(ټولونه اوڅیړنه )،پیښور چاپ ٠دانش خپرندویه ټولنه٠کال۲۰۰۱
- طبري ،احسان. برخی بررسیها درباره ء جهانبیني ها_جنبش های اجتماعی درایران. چاپ چهارم. (انتشارات ح،ت ،ا ). ۱۳۸۷
- غني، دکترقاسم ٠ تاریخ تصوف درایران (جلد اول ودوم )چاپ یازدهم ،خاشع٠ایران ،تهران:۱۳۸۹
- سعیدي ،دکتر گل بابا٠فرهنگ جامع اصطلاحات عرفاني ابن عربي ٠تهران،زوار:۱۳۸۷
- -فشاهي،محمد رضا ٠اندیشیدن فلسفي ،اندیشیدن الهی عرفاني٠نشر باران:سویدن٠چاپ دوم سال:۲۰۱۰(۱۳۸۹)
- قیصري،داوود.شرح قیصریبرفصوص الحکمابن عربي.(ترجمه محمد خواجوی ) ،(دردوجلد ) تهران،مولی:۱۳۸۷
- کاکایي ،قاسم .-وحدت وجود به روایت ابن عربي ومایستر اکهارت. انتشارات هرمس ،تهران: چاپ سوم.۱۳۸۵.
- کرگر،محمد اکبر٠په حالنامه کې دبایزید روښان عرفاني اوفلسفي څیړه ٠چاپ دوم :دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ،جرمني٠

۲۰۰۲ کال
- گوهريان ،دکتر سيد صادق .شرح اصطلاحات تصوف .(درده جلد ) تهران،شرکت قلم:۱۳۸۸
- -مخلص،علي محمد کندهاری شينواری ·حالنامه ·چاپ وزارت اطلاعات وفرهنگ·(تصحيح فضل الرحمان فاضل )،کابل:۱۳۸۸
- -محمد داراشکوه ·(دکتر تاراچند )·اوپانيشادها ·چاپ تهران ۱۳۵۸:
- -مرضيه سليماني،(متن وتصحيح )·اصطلاحات صوفيا (متن کال رساله مراءت عشاق )چاپ تهران:۱۳۸۸
- -مهجور خويشکی،داکتر پرويز(سمونه اوڅيړنه)دميرزا خان ديوان·پښتو اکيديمي ،پيښور ،پيښور يونيورستي کال: ۲۰۰۴
- -مومند ،قلندر ·دخيرالبيان تنقيدي مطالعه ·پيښور ،چاپ ۱۹۸۸:
- -محمد شريف ·تاريخ فلسفه دراسلام·ج اول ·چاپ تهران نشر دانشگاهي (درسه جلد ) :۱۳۶۲
- -مير فطروس،علي ·هفت گفتار (درنقد کتاب ،کتابشناسي گفتگو ···) چاپ:نشر فرهنگ:۲۰۰۱
- ولاديميروالتراوداينيک·يونگ وسياست· (ترجمه عليرضا طيب )نشر نی ·تهران:۱۳۸۸
- ويليام چيتک .(ترجمه ای قاسم کاکا يي ).عوالم خيال ابن عربي ومساله اختلاف اديان. تهران
- و،ت · ستيس ·فلسفه هگل ·ج اول ·مقدمه يا پشگفتار مترجم (حميد عنايت )چاپ سپهر ،تهران:۱۳۸۰
- هانري کوربن ·تاريخ فلسفه اسلامي (متن کامل ) ،ترجمه جواد طباطبايي ،ايران ،تهران ،کوير(انجمن ايرانشناسي فرانسه ):۱۳۷۳

- همداني ،امید٠عرفان وتفکر(ازتاءملات عرفاني مولوي تا عناصر عرفاني درطریق تفکر هایدگر ) بررسي تحلیلي ،انتقادي.نشر: تهران نگاه معاصر:۱۳۸۷
- هیوادمل ،زلمی.په هند کې دپښتو ژبې اوادبیاتو دایجاداوودې پړاوونه.چاپ شرکت پرنتنگ پریس ،لاهور: ۱۳۷۳

6.Pr.Dr.YarMohammad Maghmoom Khattak.THE Roshanites&Pashto Literature.Pashto Academyuniversity Of Peshawar.2005.